# دیوترکان نه زیات

لیکولینی: جاش مک داول

# د يو ترکاڼ نه زيات

**More Than**

**a Carpenter**

**ليکونکئ:- جاش مک ډاول**

Copyright ©  1977 Josh McDowell . All rights reserved.

Pashto Edition © 2003. All rights reserved.
Published by Josh McDowell Ministries and Roshan Books

# د مطالبو فهرست


| مطلب | صفحه |
| --- | --- |
| سريزه | ٠ |
| اول فصل | ١ |
| دويم فصل | ١٢ |
| دريم فصل | ١٩ |
| څلورم فصل | ٢٣ |
| پنځم فصل | ٣٦ |
| شپږم فصل | ٤٥ |
| ووم فصل | ٤٩ |
| اتم فصل | ٥٧ |
| لسم لوست | ٧٤ |
| يولسم فصل | ٧٨ |

# د یو ترکاڼ نه زیات

## سریزه

نژدې ۲۰۰۰ کاله وړاندې عیسی په یوه یهودی ښار ګوټی کې وزیږید، هغه په یوې ډیرې غریبی کورنۍ کې سترګی دې دنیا ته پرانستی او درې دیرش کاله ژوندی وه. هغه یوازی د خپل عمر وروستی درې کلونه، روحانی ماموریت او د خلکو خدمت ته ځانګړی او مختص کړل.

سره له دې په ټوله نړۍ کې او د پیړیو را په دې خوا خلکو د هغه نوم اوریدلی آن تر دې چې د ورځپاڼو او کتابونو د خپرونی نیتی د دهٔ د زیږیدنی له تاریخه لیکل کیږي. له دې نه معلومیږی چې دی یو عظیم الشانه شخصیت دی.

له مشهور تاریخ پوه "ایچ، جی، ولز" څخه پوښتنه وشوه چې چا د بشریت په تاریخ باندې دائمی اغیزه شیندلی ده. هغه وویل چې: د شخص تاریخی عظمت په دګر کې عیسی د تاریخ تر ټولو لوی شخصیت دی.

همدارنګه بل تاریخ پوه "کنث اسکات لاتورت" وایی: "د پیړیو په اوږدو کې دلائل دا خبره جوتوي چې عیسی مسیح یو با نفوذه شخصیت دی، چې کله ئې د زمکې په مخ قدم ایښې تر دې دمه ئې اثر او رسوخ مخ په وړاندې او پیروان ئې زیاتیږی."

او په پای کې ارنست رنان وایی: "عیسی د بشریت په مذهبی تاریخ کې پوره لوی دینی شخصیت او نابغه دی همیشنی ښکلا او ابدي پاد شاهی لری. دی له هر لحاظه بې ساری دی تر مسیح پرته بشری تاریخ هیڅ معنی هم نلری.

# اول فصل

## ولې عیسی مسیح بې ساری دی؟

په دې وروستیو کې مې د لاس انجلس په ښار کې له څو تنو سره خبری کولې. له دوی نه مې پوښتنه وکړه چې: "ستاسو له نظره عیسی مسیح څوک دی؟" هغوی راته وویل چې لوی دینی لارښود وو. که څه هم له دې جواب سره سم موافق یم، خو زه عقیده لرم چې هغه له یوۀ مذهبی لارښوده څخه هم عظیم وو.

د تاریخ په اوږدو کې د خلکو تر منځ دا لانجی او اختلاف شته چې عیسی څوک دی. ولې دا شخص یعنی عیسی مسیح د دومره اختلافاتو سبب دی؟ ولې د ده نوم د نورو دینی لارښودونکو په پرتله د خفګان سبب ګرځی؟ ولې کله چې له خدای په هکله خبره کیږی څوک نه خفه کیږی خو کله چې د عیسی مسیح نوم په خوله واخستل شي یا د هغه په باره کې خبره را منځ ته شی اکثره خلک خو یا دا وایی چې په دې خبری باندې ډبره کیږدی، یا دا چې دوی مقابل لوری ته دریږی او دفاعی حالت غوره کوی؟ یوه ورځ په لندن کې مې یوۀ ټیکسی چلوونکی سره د دۀ په هکله خبری پیل کړی. هغه وویل: "نه غواړم چې د دین بیا په تیره د عیسی په هکله خبری وکړم."

آیا عیسی مسیح له نورو دینی رهبرانو په مقابل کې څه تفاوت لری؟ ولې د بودا، محمد، یا کنفوسیوس د نامه په اخیستو سره څوک نه خفه کیږی او ترې بد نه وړی؟ دلیل ئې دا دی چې هغوی د خدایی دعوا نه ده کړی. مګر عیسی مسیح وویل چې زه خدای یم. دا هغه دلیل دی چې دی له نورو دینی لارښودونکو څخه توپیر لری او په ټولو کې بې ساری دی.

هغه کسان چې له عیسی سره وو، هغوی په دې ژر وپوهیدل چې هغه د ځان په هکله حیرانونکی دعوی کوی. ښکاره ده چې دې قسمه څرګندونو هغه ته د نورو پیغمبرانو او دینې لارښونکو په پرتله یو اوچت مقام ور په برخه کاوه. هغه په ښکاره توګه د الوهیت دعوا کوله هغه ویل چې یوازی دی خدای ته د رسونی او رسیدنی وسیله او یوازی هغه څوک دی چې کولی شی ګناهونه وبخښی او د بشریت د ژغورنی یوازنی لار ده.

د ډېرو خلکو له نظره دا ډول څرګندوني محدودی، نازکې او باریکه ښکاری، مګر دا خبره چې مونږ د هغې په باره کې څه فکر کوو مطرح نه ده او نه دومره ارزښت لري بلکه مهمه دا ده چې عیسی مسیح د خپل ځان په هکله څه ادعاوی کړیدی؟

د نوی عهد اسناد (انجیل) په دې هکله څه وایی؟ ای، ایچ استرانګ په خپل کتاب الهیجوړښت پوهنه تر عنوان لاندې خدای په هغه کامل او بې پایانه روح تعریفوی چې هر څه د هغه څخه د بقا سرچینه اخلی او په هغه کې پای مومی. او دا تعریف د ټولو خدای پیژندونکو په تیره د مسلمانانو او یهودیانو د قبول وړ دی. خدای پیژندنه وایی چې خدای هغه څوک دی چې دنیا ئې پیدا کړه. اوس خدای دنیا په خپل حال ساتی او پادشاهی ورباندې کوی. مسیحی خدای پیژندنه زیاتوی چې "هغه د عیسی ناصری په بڼه مجسم شو."

په عیسی مسیح کلمه کې په کار وړل شوی لفظونه یو نوم او بل لقب دی. د عیسی نوم له عبری لغت څخه "یشوا" یا یوشع دی چې معنی ئې "ژغورونکی خدای" یا "خدای ژغوری" دی او د "مسیح" لقب له عبری لغت څخه "ماشیخ" چې د "مسحه شوی" معنی لری نغښتل شوی، چې په دوو مرتبو پورې تړلی دی چې یوه ته ئې بادشاهی ویل کیږي او بلې ته ئې کهانت. دا لقب د عیسی یعنې کاهن او موعود بادشاه په نامه په زاړه عهد "تورات" کې تایید شوی چې دا تایید د عیسی او مسیحیت په واقعی او سمی پیژندیی کې خورا اهمیت لری.

نوی عهد (انجیل) په څرګند ډول مسیح د خدای په نامه راپیژنی. هغه نومونه چې نوی عهد کارولی، یوازې کیدای شی دخدای لپاره وکارول شی. د مثال په توګه، دا عبارت: "د مبارکی هیلی په انتظار یعنی د لوی خدای او ژغورونکی خدای عیسی مسیح په راتګ" (نوی عهد تیطوس ۲: ۱۳) کې عیسی د خدای په نامه نومول شوی دی. (د یوحنا نوی عهد ۱ : ۱ او عبرانیان ۱: ۸ ، رومیان ۹: ۵ او د اول یوحنا ۵ : ۲۰ – ۲۱ سره مقایسه کړی). مقدس کتاب هغه صفات عیسی ته منسوبوی چې کیدای شی یوازې خدای ته صادق وی. په نوی عهد کې عیسی د هغه ذات او هستی تر عنوان لاندې چې د پیدایښت نه مخکې هم موجود دی (یوحنا ۱: ۴ او ۱۴: ۲) او په هر چیرته حاضر (متی ۲۸: ۲۰ او ۱۸: ۲۰ او په ټولو شیانو عالم یوحنا ۴ : ۱۲، ۲: ۲۴ او متی ۱۷: ۲۲ – ۲۷) او مطلق قادر (مکاشفه ۱: ۸ او لوقا ۴ : ۳۹ – ۵۵ ، ۷ : ۱۴ – ۱۵ ، متی ۸: ۲۲ – ۲۷) او د همیشنی ژوند لرونکی (یوحنا ۵ : ۱۱ – ۱۲ او ۲۰ . یوحنا ۱: ۴) معرفی شویدی.

عیسی د یوه داسې احترام او عبادت وړ وګرځید چې یوازې خدای ته ښایي. د شیطان سره په مخامخ کیدو کې عیسی وفرمایل "مقدس کتاب وایي : باید خپل خدای ته عبادت وکړي او یوازې هغه له خدمت وکړي، (متی ۴ : ۱) او عیسی د خدای په شان د عبادت وړ وګرځید (متی ۱۴ : ۳۳ او ۲۸ : ۹) او کله کله خو یې د پرستش غوښتنه هم کړیده، (یوحنا ۵ : ۲۳) په دې هکله د عبرانیانو آیتونه ۱ : ۶ ، مکاشفه ۵ : ۸ – ۱۴ . په نوی عهد کې مطالعه او سره مقایسه کړي).

د عیسی مسیح اکثره پیروان پارسایي او هغه یهودیان وو چې یوازې یې په یو حقیقي خدای عقیده او باور درلود. دې یهودیانو د زړه د کومې او په خپل پوره ایمان سره د هغه په یووالی باندې معتقد وو. خو سره د دې بیا هم هغوی عیسی مسیح د مجسم خدای په بڼه ومانه.

د پر له پسې تعلیم او تربیې په سبب یو د عیسی مسیح د استاذو څخه، د پولوس په نوم فقیه یهودی او (یو د عیسی مسیح د رسولانو) څخه وویل: پکار ده چې عیسی ته د الوهیت نسبت لمانځنه، او د خدای خطاب کولو کې ډیره پاملرنه وشي. پولوس په دې باره کې د یو زرې په اندازه شک ته هم لار پرینښوده. هغه د خدای وري عیسی په خدائی قبول کړ چې د هغه ویناوې په انجیل کې د دې حقیقت ښکارندوی دي د مثال په توګه د رسولانو په کارونو ۲: ۲۸ کې راغلی دي د خپل ځان او هغې ډلې په نظارت کې اوسی د کومې چې روح القدس "پاک روح" د هغې په نظارت مکلف کړي یاست او دشپنو په څیر د هغه کلیسا پالنه وکړی کومه چې خدای د خپلو وینو دقیمت په بدل کې اخیستی ده.

کله چې عیسی مسیح له شمعون پطروس څخه پوښتنه وکړه چې د هغه له نظره عیسی څوک دی. د هغه غبرګون دا ؤ چې "ته مسیح د ژوندی خدای زوی یې." (نوی عهد متی ۱۲ : ۱۶) د عیسی غبرګون شمعون پطروس په وړاندې دا نه ؤ چې د هغه خبره ورته سمه کړی بلکه د خپل ځواب په وسیله یې د هغه خبری داسې ورته تائید کړی." "ای د یوحنا زویه شمعونه! ته بې شکه بختور یې، تا دا خبره د فانی انسان نه نۀ ده زده کړی بلکه زما آسمانی پلار دا ستا په زړۀ کې اچولی ده." (متی ۱۲ : ۱۷) مرتا چې د عیسی نژدې ملګري وه ورته ئې وویل : "مالکه! زما ایمان دی، هم تۀ مسیح یې، د خدای زوی څوک چې دنیا ته راتلونکی وو."

همدارنګه نتانی ایل چې پوهیده د ناصری له ښار نه کوم ښه شی په لاس نه راځی، عیسی ته ئې وویل: "استاذه! تۀ د خدای زوی یی او تۀ به د اسرائیلو بادشاه یې." (یوحنا ۱ : **۴۹**)

کله چې هغوی ستفانوس سنګساراوه نو هغۀ چغی کړی چې : "ای مالکه عیسی! زما روح قبول کړه!" (اعمال **۷** : **۵۹**) پولوس عبرانیانو ته د خط په لیکلو سره عیسی د خدای زوی بولی. "ای خدایه! ستا تخت به تل تر تله وی او ستا د بادشاهئ امسا د صداقت امسا ده." (عبرانیان ۱ : ۸) بپتسمه ورکوونکی یحیی د عیسی په هکله وویل: "روح القدس د یوې کونتری په شکل په عیسی نازل شو او د آسمان نه یو آواز راغی چې ته زما زوی یی، زما محبوب یی. زۀ ستا نه رضا یم." (لوقا **۳**: **۲۲**)

نو بیا د توما (برغونی) چې په شکاک مشهور وه اعترافونه لرو. شاید چې د هغه فکر هو لکه د ننني زده کړی د خاوندانو په څیر وه هغه په خپله وویل: "تر څو چې ما د هغۀ په لاس د میخونو سوری لیدلی نۀ وی، او خپلې ګوتې مې پرې نۀ وی لګولی په کوم ځای کې چې میخونه ټک وهلی شوی وو او خپل لاسونه د هغه په پوښتئ ونۀ لګوم نو زۀ به پرې یقین ونه کړم." (یوحنا ۲۰ : **۲۵**) د توما طرز فکر طبیعی دی ځکه چې دا هیڅ کله نه کیږی چې څوک خپل ځان داسې معرفی کړی چې ووایی چې هغه مجسم خدای دی د دغو خبرو د باور دپاره هغه ثبوت وغوښت، پس له اتو شکمنو ورځو څخه د مسیح د نورو شاګردانو سره توما ناست وو چې : "سره د دې چې دروازی بندي وې نو عیسی ورغی د هغوئ په مینځ کې ودریدو او وئې ویل، "په تاسو دې سلامتیا وی." بیا ئې توما ته ووئیل، "خپلې ګوتی دلته کیږده او زما لاسونه ووینه او خپل لاس وړاندې کړه او زما په پوښتئ ئې ولګوه او نور شک مه کوه خو یقین وکړه." توما وویل، "زما مالکه او زما خدایه!" عیسی وویل، "په دې چې تا زۀ ولیدم نو ایمان دې راوړو. بختور دي هغوی چې زۀ ئې نۀ یم لیدلی خو ایمان راوړی." (یوحنا ۲۰ :**۲۲** – **۲۹**)

عیسی د توما هغه اعتراف چې عیسی مسیح ئې د خدای په نوم ونوماوه قبول کړ. خو هغه ئې د عدم ایمان په وجه په لومړی قدم کې ملامت کړ او د هغه ستاینه ئې ومنله. کیدای شی اوس کوم انتقاد کوونکی ووایی چې دا ټولی خبرې د عیسی مسیح په هکله د نورو خلکو دي نه چې د عیسی مسیح. په اوسنیو پوهنځیو کې داسې تومت کوی چې د مسیح د وخت کسانو دی ښه ونه پیژاند. هسی نه چې نن مونږ د هغه په هکله له ځنو سؤ تفاهماتو سره مخ یو یعنی دا چې ویله کیږی چې عیسی په حقیقت کې د خدای دعوا نه ده کړی. خو زه فکر کوم عیسی همدغه دعوا کړیده د ده الوهیت مستقیماً د نوی عهد له

صفحو څخه اخيستل کيږي په نوی عهد کې په کراتو د عيسی مسيح الوهيت ته اشاره شويده، او د دې اشاراتو معنی په پوره توګه روښانه ده. يوه تاجر سړی چې نوی عهد ئې د عيسی مسيح د الوهيت د دعوا په خاطر پوره لوستی ؤ، وويل چې: "که څوک نوی عهد ولولی او داسې نتيجی ته ورسيږی چې عيسی مسيح د خدای دعوا نه ده کړی هغه چا نه ورته پاتی کيږی چې د کوټی دروازی نه بهر نمر ته ولاړ وی او داسې ووايی چې : "دی نمر نه وينی."

د يوحنا انجيل د عيسی او د ځينو يهوديانو تر منځ په يو بحث کې دې خبرې ته اشاره کوی چې اصلاً اختلافات د يوه ګوډ سړی په رغونی سره د سبت (يعنی شنبه په ورځ چې د يهوديانو رخصتی ده) د عيسی په وسيله شروع شو چې د خبرو په دوران کې عيسی هغه سړی ته وويل چې بستره دې ټوله کړه او لاړ شه." څنګه چې دا د سبت په ورځو کې دغه کارونه کول په يهوديانو ښه ونه لګيده او د ده د آزارولو تابيا يې وکړه. مګر عيسی هغوی ته وويل: "دا د سبت په ورځ د دغه قسم کارونو کولو سبب وو چې يهوديان ئې راوپارول او عيسی ئې په عذاب کړو. ولی عيسی جواب ورکړو چې "زما پلار لا تر اوسه کار کوی او زه هم کار کوم." په دې يهوديان نور هم د هغهٔ په مرګ پسې شول ځکه چې يوائې دا نه چې هغهٔ د سبت حکم ماتولو بلکه دا هم چې هغهٔ خدای ته خپل پلار وئيلو او د هغهٔ سره ئې د برابرئ دعوا کوله." (يوحنا ۵: ۱۲ – ۱۸)

ښايی ځنی ووايی چې د "پلار مې کار کوی، جمله او زه هم کار کوم" هر څوک ووايی دا د عيسی په هکله د الوهيت خبره نه سپينوی. خو کله چې مونږ يو سند تر کره کتنی او مطالعی لاندې نيسو بايد چې ژبه، کلتور، فرهنګ او همدارنګه د هغې مخاطب کسان هم تر پاملرنې لاندې ونيول شي چې په سند کې وي او څرنګوالي ته ئې توجه وشي. په پورتنې موضوع کې يهودي کلتور او مخاطب يهودي مشران دي. راځی چې وګورو: د يهوديانو درک او د څيړلو نتيجه د عيسی مسيح د خبرو څخه دوه زره کاله مخکې د يهودی کلتور په زيرمو کې څه وه "دې خبري يهوديان نور هم را پاڅول چې بايد دوی (عيسی) له منځه يوسی ځکه چې ده نه يوازی سبت مات کړ بلکه خدای ئې خپل پلار ګڼلو او په دې ډول يی ځان له خدايه سره برابراوه." (يوحنا ۵: ۱۸) ولې يهوديانو داسې سخت عکس العمل يا غبرګون له ځانه ښکاره کړ.

د دغو ټول اصل عامل عيسی ؤ چې ويې ويل "پلار مې" او نه "زمونږ پلار" او زياته يې کړه "اوس هم کار کوی" د دغو دوه ټکو په وړاندې کولو سره يې ځان له خدايه سره برابر کړ او خپل کار يې د خدای له کاره سره يو ډول کړ. يهوديانو هيڅکله هم خدای ته

"پلار مې خطاب نه ؤ کړی خو کله چې به يې ويل نو هم داسې به يې ويل "زمونږ آسمانی پلار" مگر عيسی دا کار ونکړ، هغه وويل "پلار مې" او له دې خبرې سره يې يهوديانو ته هيڅ کوم د شک او دليل ځای پرې نښود چې دعوا يې څه وه، عيسی همداسې وويل چې هغه او خدای يې په يوه کار مشغول دی، يهوديانو ته ددغو دوه خبرو معنی دا وه چې عيسی د خدای زوی دی، او په دې سره د يهوديانو نفرت او کرکه د ده په نسبت زياته وه. له دې خبر نه خو وړاندې هم يهوديان د ده ځورونی ته تيار ناست ؤ، خو اوس هغوی دا غوښتل چې بايد دی مړ کړای شی او له منځه يووړل شی.

نه يوائې عيسی له خدايه سره د برابری دعوا وکړه، حتی ويی ويل هغه او پلار دواړه يو دي. د تقديس د اختر په موقع کې د يهوديانو ځينو مشرانو (رهبرانو) د هغه د مسيح والی په هکله (يعنی هغه څوک چې مسح شويوی هغه دې د خدای ځانگړی وي پوښتنی وکړی او په پای کې عيسی هغوی ته داسې وويل: "زه او پلار مې يو يو." (يوحنا ١٠ : ٣٠) بيا يهوديانو ډبری راواخيستی څو چې دی سنگسار کړی عيسی هغوی ته وويل: "ما د پلار له خوا ستاسو په وړاندې ډير ښه کارونه کړيدی ما له کوم يوه ښه کار په وړاندې د سنگسارولو جزا را کوی؟ يهوديانو په جواب کې ورته وويل: "دا جزا د ښه کارونو د پاره نه ده چې غواړو تا پرې سنگسار کړو بلکه دا جزا ستا د کفر ويلو په اړوند ده ځکه چې ته خو يو انسان يې نو بيا څنگه د الوهيت دعوا کوی؟ (يوحنا ١٠ : ٢١ –٣٣)

ښايی د يهوديانو د سختی غبرگون دپاره چې عيسی وويل دی او پلار يو شانته دي څوک فکر وکړی کله چې د يونانی اصلی لغت "يو" "يکی" پورتنی آيات ته رجوع کوو.

ای. تی. رابرټسن د يونانی ژبی پوهاند وايی: چې دا لغت په دې معنی دی چې عيسی او خدای د يوه ذاته او يو طبيعته څخه دي.(١)

رابرټسن زياتوی چې "د عيسی مسيح دا پورتنی متن ډير په زړه پورې دی ځکه چې د عيسی مسيح د دې دعوی په باره کې دی چې هغه عبارت ده د خدای او عيسی له رابطی څخه يعنی عيسی د زوی حيثيت لرل او خدای د پلار، نو دا موضوع ډيره روښانه ده. د عيسی دغو خبرو يهودي او فريسی ملايان غصه او د ليونتوب مرحلي ته ور نژدې کړل. (٢)

ظاهره ده چې کله هغوی د عيسی دغه خبرې واوريدی بې لدې نه ئې بل هيڅ قسمه شک پرې نه کاوه چې عيسی مسيح د خدايی دعوی کوی.

نو د لی آن موریس له قوله چې د ملبورن د ښار او د ریدلی له پوهنځی څخه دی یهودیانو د عیسی دغه څرګندونی بغیر د کفر څخه بل څه نه ګڼل. نو بیا د هغه دفعو په لړه کې شول "چې عبارت دی له سنګسار څخه" چې په شریعت کې د مقدساتو د بې حرمتی دپاره مقرر شوی دی (زوړ عهد لاویان ۲۴: ۱۲) چې د مقدساتو د بې حرمتی په بدل کې د یهودي شریعت په زیرمو کې درج وي نو په لاس وهنی ئې شروع وکړه او د یهودو غصه دې اندازې ته ورسیده چې نه ئې غوښتل د قانونې مرحلو په تطبیقولو عیسی محاکمه کړي بلکه غوښتنه ئې دا وه چې قاضې او جلاد په خپله همدوی شي (۳)

نو عیسی یی د کفر په ویلو سره په سنګسارولو تهدید کړ. یهودیان دقیقاً پوهیدل چې عیسی څه وایی. خو حاضر نه وو چې د موضوع د صحت او رښتینوالی دعوی ئې تر څیړنی لاندې نیولای وای.

عیسی به همیشه دا خبره کوله چې هغه او خدای له یوه ذاته او طبیعته څخه دي. هغه په څرګند ډول وویل چې که زه مو پیژندلی وای، پلار مې هم تاسو پیژاند. (یوحنا ۸: ۱۹) "هر څوک چې ما وینی، زما رالیږونکی یی هم لیدلی دی" (یوحنا ۱۲ : ۴۵) "څوک چې له ما نه کرکه کوی زما له پلاره هم کرکه لری." (یوحنا ۱۵ : ۲۳)، "ټول هماغسی چې پلار ته احترام کوی زوی ته یی هم باید چې احترام ولري. څوک چې له زویه سره بې حرمتی کوی پلار ته ئې هم چې د هغه لیږونکی دی بې حرمتی کړیده." (یوحنا ۵ : ۲۳) دغه آیتونه ښیی چې عیسی ځانته یوازی انسان نه ویل بلکه ځان یی له خدایه سره برابر ګاڼه، څوک چې عیسی مسیح ته یوازی د خدای نژدې شخص په صفت ګوری باید چې د عیسی دې خبرې ته فکر وکړی چې ویل یی: که ما ته لکه پلار د احترام په سترګه ونه ګوری دواړو ته مو بې حرمتی کړیده.

کله مې چې د مغربې ویرجینیا د پو هنځی په صنف کې خبری کولی د پوهنځی یو استاد مې خبرو کې را ولویدو او ویې ویل چې یوائنی انجیل چې عیسی په هغه کې د الوهیت دعوی کوی هغه د یوحنا انجیل دی او دا وروستنی انجیل وو چې لیکل شویدی، بیا یی زیاته کړه چې د مرقوس په انجیل کې چې لومړنی انجیل چې لیکل شوی هلته عیسی یو ځل هم د خدائې دعوی نه ده کړی نو معلومه خبره ده چې دغه سړی یا خو د مرقوس انجیل اصلاً لوستی نه دی او یا یی لوستلی دی خو په غور سره نه!

انجیل نه مې د ده د پوښتنی د جواب دپاره مراجعه وکړه، هلته عیسی دعوی کوی چې دی کولی شی ګناهونه وبخښی. "عیسی کله چې د دوی ایمان ولید، یوه فلج سړی ته

یی وویل: "ای زویه! ستا ګناهونه معاف شوی." (مرقوس ۲: ۵ ، لوقا ۷: ۴۸ – ۵۰ ته هم مراجعه کولی شی)

د یهودو شریعت له مخی د ګناه بخښل هسی کار دی چې یوازی خدای کولی شی چې ویی کړی. (یشعیاه ۴۳ : ۲۵) دا کار یوائی د خدای له کارونو څخه ګڼی یهودی ملایانو پوښتنه وکړه چې "ولې دا سړی داسې وایی؟ دا کفر دی، څوک کولای شی له خدایه پرته د چا ګناوی وبخښی؟" (مرقوس ۲: ۷)

بیا عیسی وپوښتل مفلوج سړی ته به دا ډیره آسان وی چې ورته وویل شی "ستا ګناهونه وبخښل شول." او که ورته ووایی چې "پاڅه او خپله بستره دې واخله او لاړ شه؟"

د مقدس کتاب څخه "وایکلف" د تفسیر له مخی دا پوښتنه جواب نلری، دواړو خبرو ویل ساده دي خو عملی کول یې ګران او د خدای قدرت پکې اړتیا لیدل کیږی. البته یو غولونکی سړی به لومړی پوښتنه آسانه او ساده وګڼی ځکه چې د ګناهونو پېړونه یعنی دا چې دا سړی بخښلی شوی دی که نه، آسانه ده.

مګر عیسی فلج ته شفا ورکړه. څو ټول پوه شي چې هغه د قدرت خاوند دی کولی شی چې په ناروغیو باندې بریالی شی. (۴) اما یهودی ملایانو په عیسی باندې د کفر تهمت وکړ، لوئیس چیفر لیکی: هیڅوک په دې خاورینه نړۍ کې د ګناهونو د بخښنی حق یا قدرت نلری یوازی پرته له هغه یو کس نه چې کولی شی هغه ټول ګناهونه چې هغه پورې اړه لري او یا د هغه په حق کې صادر شوی وي وبخښیکله چې عیسی مسیح ګناهونه بخښل او هغه په رښتیا دا کار وکړ. نو هغه له یوه انسانی امتیازه څخه هم ګټه نه اخیستله ځکه له خدایه بغیر داسې نور څوک نشته چې ګناهونه وبخښی نو په پای کې دې نتیجی ته رسیږو عیسی چې ګناهونه بخښی هغه خدای دی. (۵)

دغې د بخښنی فکر زه تر ډیره حده ځورولم ځکه چې سم نه پرې پوهیدم یوه ورځ د فلسفی په کلاس کې مې د الوهیت یعنی د مسیح د الوهیت په هکله پوښتنی ته جواب ورکاوه. پورتنی آیات مې د مرقوس له انجیل څخه ولوست د مافوق اللیسانس یوې محصلې زما له دې خبرې سره چې (هغه ګناهونه بخښلی شی دا د هغه د الوهیت نښه ده) له ما سره مخالفت وکړ، دې محصلی وویل چې دی هم کولای شی څوک وبخښی خو دا بیا د دې معنی نلری چې د خدائی دعوی دې را منځته شی. ما په دې کې فکر کاوه چې دې نتیجې ته ورسیدم چې ولې یهودي ملایان دا رنګه نا مناسبه عکس العملونه د

عیسی په باره کې کوي!؟ یا په بل عبارت : زه فقط کولای شم چې هغه څوک چې زما په حق کې د جرم مرتکب وي وبخښم نه د خدای مجرم.

مګر عیسی هغه شل سړي ته چې د خدای په حق کې د ګناه مرتکب وه وویل ستا ګناوی وبخښل شوي

پس مونږ کولای شو چې هغه ګناهونه وبخښو چې زمونږ په حق کې وي ولې هغه ګناهونه چې د افرادو له خوا د خدای په حق کې صادریږی یوائې خدای بخښلی شي نه مونږ.

پس قویترین دلیل د عیسی په الوهیت همدا دی چې هغه هاغه ګناهونه چې افراد ئې د خدای په حق کې مرتکب شي هم بخښلی شي چې دا یوازی د خدای حق دی.

د یهودیانو د غبرګون او عکس العمل علت هم همدا وه چې یوه ترکاڼ د ناصری له ښاره د داسې یوه قدرت دعوا لرله چې هغه یوائې خدای ته ځانګړی وه، د عیسی استفاده له دې قدرته څخه د دې ټکی څرګندوی دی چې دهٔ د خدا ی دغه ځانګړی امتیاز درلود.

په همدې ډول په انجیل مرقوس کې د عیسی د محاکمې داستان لولو (مرقوس ۱۴: ۲۰ – ۲۴) د دې محاکمی جریان دده د خدایی روښانه ثبوتونه را څرګندوی،"لوی کاهن یعنی کاهن اعظم جګ شو او د ټولو تر مخ یی له عیسی نه وپوښتل دغه تهمتونو ته چې په تا باندې شویدی جواب نه ورکوی." خو هغه غلی او آرامۀ هیڅ څه یی نه ویل، بیا همدغه کاهن ترینه وپوښتل "آیا مسیح د متبارک خدای زوی یی؟" هغه جواب ور کړ هو خو ته به د انسان زویووینی چې د خدای ښی لاس ته به ناست وی او په وریځو به سپور راځی" کاهن اعظم خپل ګریوان وشکاوه او ویی ویل نور هم شاهدانو ته څه حاجت شته دی؟ تاسو دا کفر ویل واوریدل؟ تاسو څه وایی؟ "ټولو د ده د اعدام کولو رایه ورکړه."

په لومړی سر کې عیسی جواب نه ورکاوه. کاهن قسم ورکړ نو د قسم په زور یی مجبوره کړ چې جواب ورکړی. او څومره خوشحاله یم چې ده جواب ورکړ. د دې پوښتنی په جواب کې چې : "آیا ته مسیح د متبارک خدای زوی یی؟" او هغه وویل "یم"

د عیسی مسیح له شهادته څخه یوه تجزیه او تحلیل را ښیی چې هغه دعوا وکړه چې ۱) د خدای زوی دی. ۲) هغه څوک دی چې د قادر خدای ښی لاس ته به ناست وی ۳) دانسان زوی دی چې د وریځو په سر به راځی هره خبره یو دلیل دی د زاړه عهد او پیشګویی ده د مسیح په هکله، او دا د دې ادعاوې ټولی د اهمیت وړ دی د یهودو شورا په دریواړو ادعاو توجه وکړه او د لوی کاهن غبرګون دا وو چې ګریوان یی څیری کړ، او ویی ویل: "نور نو شاهدانو ته څه حاجت دی؟" ځکه د دی دغه ادعاوې د عیسی مسیح له خولی نه اوریدلی وې چې د ده د محکومیت سبب شولې.

رابرت اندریس په دې هکله وایی، "د دلایلو د ماتولو دپاره او خپل دلیل ته قوت بخښلو کې د مخالف د ګواهی څخه قوی دلیل نشته. رښتیا دا ده چې عیسی مسیح د خدایی دعوی وکړه چې د ده د دښمنانو له غبرګون سره تاییدیږی. باید په یاد ولرو چې یهودیان له جاهلو قبایلو څخه نه ؤ بلکه ډیر رسیدلی با فرهنګه او متدین خلک وو، د الوهیت په اتهام سره د یهودو علماؤ او مذهبی مشرانو چې ستر دینی ارزښت او مقام ئې درلوده د رایو په اتفاق سره عیسی یی په مرګ محکوم کړو. (۲)

پس معلومه خبر ده چې عیسی غوښتل چې ټول دې د ده له الوهیته څخه باخبره وي همدارنګه ګورو چې د یهودو استنباط د محاکمې په وخت کې د عیسی مسیح له جواب څخه د هغه د الوهیت دعوی وه نو دوې لارې وې: یا به عیسی کفر ویل یا به په رښتینی توګه هغه خدای ؤ. د محکمی قاضیانو قضیی په روښانه توګه کتل او هسی په خبره پوه ؤ چې عیسی یی په صلیب وځړاوه، او بیا یی د صلیب له کوزی برخی ملنډی پرې ووهلې: "هغه په خدای متوکل ؤ ویل یی چې د خدای زوی دی." (متی ۲۷ : ۴۳)

ایچ. بې. سؤیت، د کاهن دګریوان د څیرلو اهمیت داسې څرګندوی: "د یهودو د قانوڼ له مخی اعظم کاهن دا حق نه درلود چې د شخصی مسایلو دپاره خپل ګریوان وشلوی (لاویان ۱۰ : ۶ ؛ ۲۱ : ۱۰) خو کله چې بیا د قضاوت په کرسی کښیناست که چا ئې مخ کې کفر ویلی نو حق یی درلود چې ګریوان یی څیرلی وای اوس چې خپله عیسی مسیح د شورا په وړاندې کفر ویلی ؤ د کاهن فکر آرام شو، ځکه چې ده نو نورو شاهدانو ته د راوستلو ضرورت نه لیدلو او خپل متهم یې په مرګ محکوم کړی ؤ. (۷)

هماغسی چې ایروین لینتون څرګندوی چې د عیسی مسیح محاکمه یوه عادی محاکمه نه وه. په ټولو جینایی محاکماتو کې دا محاکمه بې ساری وه. ځکه چې د متهم عمل ته پاملرنه نه کیده، یواځی توجه د هغه هویت ته وه چې پرې اتهام وشی جنایی اتهام

مسیح باندې، اعترافونه او شواهد او د رومی حکمرانانو بیا بیا غوښتنی او پوښتنی او هغه لیک چې د عیسی مسیح سر ته په صلیب باندې ځوړند شوی ؤ. دا ټول د عیسی د مقام د هویت لپاره ؤ. یعنی دا معنی چې "عیسی مسیح څوک دی؟" او "د چا زوی دی؟" (۸)

د نیویارک مشهور قاضی ګینور د عیسی د محاکمی په هکله وایی چې د یهودو د شورا له خوا عیسی مسیح باندې د کفر ویلو تهمت وو. "د انجیل د روایاتو له مخې څرګنده ده، چې عیسی مقدساتو ته د سپکاوی په تور محاکمه شو، عیسی دعوی کړې وه، چې مافوق الطبیعه قدرت لري نو دا ډول دعوا کول د یوه عادی انسان له خوا کفر ګڼل کیږی." (۹)

ګینور د خپلې وینا په تائید د یوحنا انجیل ۱۰ : ۳۳ ته اشاره کوی چې په هغې کې د عیسی د الوهیت په اجندا بحث کیږی.

په ډیرو محکمو کې مجرم د جرم په بنا محاکمه کیږی مګر دا د عیسی مسیح په باره کې بلکل بدله محاکمه وه، ځکه چې هغه د خپل هویت او شخصیت په بنا چې هغه څوک دی! محاکمه شو.

د عیسی له محاکمی څخه دا بلکل څرګنده ده چې هغه په خپل الوهیت اعتراف وکړ، او د شورا قاضیانو دا خبره تایید کړه. او د دې نه پرته د مصلوب کیدو په ورځ یې هم دښمنانو چې دی مجسم خدای دی، اعتراف وکړ. "دغه شان مشرانو کاهنانو د شرعی عالمانو او مشرانو هم ورپورې ملنډی کولی، او ویل ئې چې "هغه نور خلک بچ کړل خو خپل ځان نهٔ شی بچ کولی. بې شکه که دی د اسرائیلو بادشاه دی نو اوس دې د دې صلیب نه راکوز شی، نو بیا به پرې مونږ ایمان راوړو. د ده په خدای باور وو، اوس دې خدای بچ کړی که چیرې هغه ئې غواړی، ځکه چې ده دا دعوی کړې وه چې زه د خدای زوی یم." (متی ۲۷ : ۴۱ – ۴۳)

# دويم فصل

## دروغجن يا ليونې خدائ

دا چې عيسى ځانته خداى وايى، روښانه دلايل لري او همدغه دلايل د شک کونکو هغه نظريي، چې وايى: عيسى يو اخلاقى شخص او عالى تعليماتو والا پيغمبر ؤ نفى کوى. ډير پوهان د عيسى په هکله دا نظر قبلوى او د عقل د صحيح استعمال روښانه نتيجه ئې بولي. خو مشکل دلته دا دى چې ډير خلک پداسې حالت کې د دې قسم د فکر تګ لارې سره موافقت کوي چې د دليل په بيانولو کې څه قسمه اشتباه فکر ته راوړاندې نشي.

عيسى ته د خلکو په نظر کې د ده د هويت څرګندونې بنسټيز ارزښت درلود. که چيرې د ده خبرو او ادعاګانو ته پاملرنه وکړو نو نشو کولاى چې دې نتيجې ته ورسيږو چې هغه يواځې يو اخلاقى کس او يا پيغمبر وو. دا ډول نتيجه اخستل صحيح نه ده. او عيسى هم دا غوښتل چې هر شى دى د ده په هکله داسې روښانه وى، چې خلک دې د ده په هکله غلطى سره کومې نتيجې ته ونه رسيږى.

د کمبريج د پوهنتون استاد (سى. ايس. لوئيس) هغه وخت چې حتى د خداى په وجود ډاډمن هم نه ؤ، په دې خبرې ډير ښه وپوهيده. هغه وليکل، "زه غواړم د دې خبرې مخه ونيسم چې خلک عيسى يواځې د اخلاقياتو د استاد په توګه قبلوى، مګر د خداى په توګه نه. مونږ بايد هيڅکله د عيسى په هکله داسې نتيجه ګيرې و نه کړو. ځوک چې يواځې يو انسان وى او د عيسى خبرى وکړى نشى کولى چې د اخلاقياتو استاد وى. دا ډول کس يا ليونى دى يا لکه د (مجنون چې خپل ځانته لوى کورش واى) يا لکه دوزخى شيطان. يو کس بايد خپله فيصله وکړى او دا دوه حالاتو څخه خلاص نه دى: "يا دا چې عيسى د خداى زوى ؤ او دى او يا هغه يو ليونى او د دې نه هم خراب ؤ."

ورپسى لوئيس زياتوى: "سړى کولى شى چې عيسى د يوه ليونى په توګه هير کړى، سړى کولى شى چې د هغه پر مخ لاړى تو کړي او هغه لکه د يو شيطانى روح وشړى. او يا يو سړى کولاى شى چې د هغه په پښو پريوزى او هغه ته مالک او خداى ووايى. خو نه چې داسې يوې مزخرفى نتيجى ته ورسيږى چې هغه د اخلاقياتو غوره

استاد وُ. دا ډول نتیجه اخیستل منطقی خبر نه ده. او عیسی داسې لاره خلاصه نه ده پرې ایښی چې مونږ دې دا ډول نتایج ترلاسه کړو. (۱)

ایف. جې. هورت، چې اته ویشت کاله یې د نوې عهد په انتقادی پلټنه کې کار وکړ داسې لیکی: "د عیسی خبرې هسی په هغه پورې تړلی او مربوطی دي چې نشو کولای هغه د حقایقو د یوې مطلقی څرګندونی په توګه د حکیم یا پیغمبر له خوا تلقی کړای شي که د عیسی له وینا و نه هغه چې د ده په هکله دی را وباسی نور نو هیڅ شی هم نه پکی پاتی کیږی (۲)

مسیحی تاریخ پوه کنت لاتورت د ییل د پوهنځی څخه خپل نظر په دې ډول بیانوی. "څه شی چې عیسی ته دومره ارزښت ورکوی هغه د ده تعلیمات نه دي که څه هم د ده تعلیمات او زده کړه ایز کارونه ډیر ښه او عالی ؤ، د عیسی د لوړښت مهم عناصر او سبب د ده ترکیبی تعلیمات او د ده خپله هستی ده. نشو کولای چې دا دواړه عنصره یو له بله جدا کړو. هر یو پوه او هوښیار لوستونکی د انجیل په مطالعی سره دې نتیجی ته رسیږی چې عیسی خپل ځان او خپل زیری یو له بل نه جدا نه ګڼل. هغه یو ستر ښوونکی ؤ خو له دې نه هم لوړ ؤ. د هغه ښوونی د خدای د بادشاهی په اړوند، د یو کس تګلاره او د خدای شخصیت ډیر اهم ؤ. ولې که چیری خپله عیسی له دې تعلیماتو او ښوونو څخه لری کړی نو بیا دا تعلیمات او زده کړی باطلی او بې معنی شي." (۳)

عیسی دعوا وکړه چې خدای دی. هغه له دې پرته ځانته بله لاره پرې نښوده. یوکس کولای شی چې د ده دا دعوا وی نفی یا قبولی کړي. او دا هغه تصمیم دی چې باید په غور سره ونیول شی یوه پوښتنه چې ده خپلو شاګردانو ته مطرح کړه: "تاسو به ما کله پیژنی؟" (متی ۱۲ : ۱۵) کیدای شی څو جوابه لري.

لومړی تصور وکړی چې د عیسی دعوا یوه تیروتنه وه، نو که داسې ؤ دوی لارې پاتی شوی یا دا چې عیسی پوه یده چې دعوا یی تیروتنه او اشتباه وه، یا دا چې په دې نه پوهیده. اوس به په دغو دوه برخو باندې وګړیږو.

# آیا عیسی دروغجن و؟

کله چې عیسی خپلې دعوی ثرګندولی، په دې پوهیدو چې هغه خدای نه دی. نو چې دروغجن نه ۇ نور څه ۇ چې قصداً یې خپل پیروان غولول. که چیرې هغه دروغجن ۇ هغه دوه مخی به هم ۇ ځکه کله چې به یې نورو ته درس ورکاوه، خپلو شخصی ګټو ته په پاملرنی سره باید چې صادق و اوسی. په داسې حال کې چې د دۀ ذاتی ژوند د یو لوی دروغو څخه بل څه نه ۇ. له دې سره سره هغه یو دیو هم ۇ، ځکه چې ده به نورو ته ویل چې د خپل راتلونکی لپاره په دۀ باندې باور وکړي، که هغه نشو کولای چې خپلې ادعاوی په حقیقت سره تثبیت کړی نو د ده کار د شیطان له تصوره څخه هم زیات ۇ، او په پای کې هغه له احمقه څخه پرته بل څه نه ۇ، ځکه چې په خپلو همدغو د الوهیت په ادعاګانو یې خپل ځان په صلیب باندې له لاسه ورکړ.

اکثره خلک لا تر اوسه هم د عیسی مسیح په باره کې وائي: چې هغه د اخلاقیاتو ښه او یوه تکړه استاذ ۇ. خو دا خلک باید دې حقیقت ته په پاملرنی سره وپوهیږی چې د هغوی دغه خیال او د عیسی مسیح د ژوند دود او تعلیمات سره سمون نه خوری. هر چیرته چې دی پیژندل شویدی د خلکو په ژوند کې یو مثبت بدلون را منځته شویدی ملتونه په بلا عوضه توګه بدلون موندلی دی. غله په صداقت سره سم شویدی الکلی کسانو شفا موندلی ده، کرکجن کسان په مینه ناکو افرادو بدل شوی او ظالمان په عادلانو بدل شویدی.

ویلیام لکی، د انګلستان یو له مشهورو تاریخ پوهانو، او د مسیحیت له سر سختو مخالفینو څخه لیکی:

"یوازی مسیحیت دی چې ځانګړی او نمونه شخصیت نړۍ ته ورپیژنی او په تیری اتلسمی پیړی په بدلونو کې هم همدغه مسیحیت انسان لپاره د مینې او محبت سرچینه وه او د هر سن، ملیت، مزاج خلک ئې تر خپل تاثیر لاندې راوستی وه. مسیحیت نه یوازی د پرهیزګاری لپاره ډیر په زړه پورې او عالی معیار وه، بلکه د دا ډول ژوند د تشویق لپاره د ټولو نه ښه منبع هم وه. د عیسی مسیح د درې کالو د خدمت پروسه په بنیادمانو کې د تهذیب او خلکو ته د نوې ژوند د پیدا کیدو سرچینه ګرځیدلی ده او ټول فلاسفوی تعلیمونو او د اخلاقیونو هځونو هم دومره تاثیر نۀ درلود." (۴)

فيليپ شف تاريخ پوه وايي: "كه چيرې د عيسى مسيح د ژوند جريان حقيقت نه لرى، نو د هغه ژوند له كفره او ليونتوبه پرته به بل شى نه ؤ." د عيسى د دروغ ويلو فرضيه چې د هغه له خبرو او كړنو څخه څرګنديږى او ټول خلک چې د هغه په هكله فكر كوى مثلاً د هغه له عظمت اخلاقو او عمل سره سمون نه خورى. او عيسى نشواى كولاى خپل ځان د خپل هويت په هكله وغولوى ځكه چې هغه د سالم فكر خاوند ؤ. دا څنګه ممكنه ده چې عيسى دې ليونى وي په داسې حال کې چې ده هر وخت سالم تعادل ساته په سره سينه يې ټول تكليفونه او زحمتونه و زغمل او ټولو پوښتنو ته يې كه څه هم موزيانه ؤ په پوره حكمت سره جواب وركړ، او په پوره آرامى سره په صليب باندې د ده ځړيدل او په دريمه ورځ له مړو نه را ژوندى كيدل او د روح القدس نازليدل، د كليسا تاسيسيدل، او د اورشليم نابودى او دا ټول يې په ريښتنى توګه پيشګويى كړل؟ نو آيا يو څوک يا داسې د كامل شخصيت لرلو كس چې په پوره ډول سره ثابت قدم او د هر بشر نه لوړ وى كولاى شي چې خيالى يا غولونكى وي!

عيسى مسيح حقيقت درلود، خو هيڅوک يا داسې شخصيت نشى كولاى چې د عيسى په شان شخصيت را منځته كړي."(**۵**)

په بل ځاى کې شف هم، په قانع كوونكو دليلونو او استدلال سره د ده درواغو نه ويلو د اثبات لپاره ليكى: "څرنګه به معقوله او د منلو وړ وى چې يو فريبكاره سړى دې داسې يو شخصيت رامنځ ته او برپا كړي چې پاک، نجيب، او د بشر په تاريخ کې له هره اړخه پوره او د ژوند د شروع نه تر پايه پورې ريښتونى او واقعيت پرست وى؟ څرنګه يو دوكه مار سړى كولى شى چې بې داغه ژوند خپل او له همدې لپاره ځان قربان كړي؟ خو عيسى مسيح دغه ټولى سپيڅلى دندى د هغې قوى سياليو سره سره چې د ملګرو او هم عصرو په منځ کې ئې خپرې وي. سرته رسولى وى.

كه چيرې عيسى مسيح خامخا غوښتل چې د يوې ډلګۍ پيشوا شي او يا ئې د خداى په حيث وپيژنى ولي د يهودو كورونو ته لاړه؟ ولې هغه خلكو ته لاړه چې د هغوى په وركوټې هيواد کې ټولو پيژانده چې عيسى مسيح د ناصرې يو تركاڼ دى او هغه خلک بډايا او يكتا پرست وه؟ ولي مصر ته، او يا د هغه نه مناسب ځاى يونان ته لاړ نشو چرته چې خلک د مختلفو خدايانو او زړو عقيدو پيرو دي؟ چا چې د عيسى په شان ژوند وكړ، او د هغه په څير يې تعليم وركړ او د عيسى په شان مړ شو، نشى كيداى چې دروغجن دې وي. اوس به دويمې برخى ته لاړ شو.

## آیا عیسی لیونی وه؟

که چیرې عیسی دروغجن نه ؤ، نو آیا ممکنه نه ده چې دۀ دې په غلطی یا اشتباه سره د خدایی دعوا کړی وی؟ داسې کسان شته چې د دوستی له مخی ځنی خبری کوي خو په عین وخت کې دوی هم اشتباه کوي. خو باید په یاد ولرو چې د یهودو په فرهنګ کې چې واحد پرست دی نو داسې دعوی کول ساده خبره نه ده. یعنی چې ووایې هغه خدای دی، او د دوی ټولو ابدی برخه لیک په هغه پورې تړلی او په هغه دې دوی عقیده او باور ولري. که چیرې یو کس په ناپوهی او یا سهواً داسې ادعا وکړی نو باید چې هغه لیونی وی، نو آیا په حقیقت کې عیسی هم داسې لیونی ؤ؟

هر هغه څوک چې خپل ځان خدای وګڼی هغه چا ته پاتی کیږی چې ووایی زه کورش یم. داسې سړی خپل ځانته دوکه ورکړی او کیدای شی ټولنی ته هم خطرناک وي او باید چې په لیونتون کې وساتل شي. مګر د عیسی له کرداره څخه واضح ده چې هغه د لیونو په شان عمل او رفتار ونکړ. او هغه یو متعادل او محترم شخصیت ؤ.

نویز او کلب په یوه طبی (۷) کتاب کې د څو تنو روانی ناروغانو د ژوند په هکله چې د خیال په دنیا کې له ځانه سره خبری کوی یادونه کوی او وایی: روانی ناروغ څو شخصیتونه غواړی چې له ربښتینی دنیا څخه وتښتی. نو د خدایی دعوی کول هم ، همداسې یو ډول له حقیقته څخه تیښته ده. هغه معلوماتو ته په نظر سره چې د عیسی په باره کې پرې خبر یو ډیره مشکله ده چې ووایو چې عیسی روحی او فکری خلل لري. عیسی هسی شخصیت ؤ چې خبری ئې د تاریخ له ډیرو غوره او منل شوو خبرو او بیانونو له جملی څخه ګڼل کیږی. د ده ښوونو ډیر په روانی ناروغیو اخته کسانو ته شفا ورکړیده.

کلارک پیناک پوښتی: "آیا عیسی د خپل ځان لوی ګڼلو، او د نورو خلکو سره د خپل ځان دښمنان بللو په ناروغی او د څو ابعادی شخصیت لرلو په رنځ اخته وه. یا دا چې یو غیر عادی غولوونکی ؤ؟

د ده د تعلیماتو ژوروالی او د ده برلاسی په دې کار باندې د عیسی د فکری روغتیا دلیل په سموالی شهادت ورکوی. کاشکی چې مونږ د ده په شان هوښیار او پوه وای! (۸) د کالیفورنیا له پوهنتون څخه یوه زده کوونکی ماته وویل چې: یوه ورځ د روانشناسی استاذ یې په صنف کې ویل چې "ډیرو ناروغانو ته همدا بس ده چې د مسیح

د تعلیماتو ځنی برخی ورته ولولې دا یوازی یوه مشوره او خبره ده چې ناروغان ورته اړتیا لري."

طبی راوانشناس جی، ټی، فیشر وایی: "که دا اروا پوهانو او سایکالوجست پوهانو لخوا ډیری قوي او په لوړه سطحه لیکل شوی مقالی او مضامین یوه ماهر شاعر ته ورکړی چې هغه د شعر په ژبه ولیکی هیڅکله به د زیتون په غره کې د عیسی د وعظ په اندازه مؤثری نه وی او نشی کیدای چې د هغه له خبرو سره پرتله او مقایسه شي. نژدې دوه زره کالونو دپاره مسیحی نړۍ د خپلو بې ثمره او ناراحته ارزوګانو دپاره د حل مکمله لاره په خپل لاس کې نیولی (یعنی مثمر او راحت موندونکي شویدی). ځکه چې د زیتون د غره موعظه او ویناوی د یوه پر مخ تللی ژوند له طرحو سره چې فکری سلامتیا او خوښی ورسره شته دی وړاندې کوي." (۹)

سی، ایس، لوئیس لیکی: "د عیسی مسیح د زندګۍ، تعلیماتو او نفوذ د دلائیلو په ښکار کولو کې د تاریخ لیکونکو ستونزی د مسیحی عالمانو څخه کمې نه دي. هغه لویه غونډۍ چې د عیسی مسیح د تعلیماتو د رازونو او د هغه د شخصیت د لوی ګڼلو چې د عیسی د الهی تعلیماتو وسیله وه. ترمنځ پرته ده هیڅکله بغیر لدې دلیله چې هغه خدای وګڼي نه لیری کیږی. چې په همدې اساس ټول هغه غیر مسیحی دلائل بې نتیجی، شنډ او ګمراه کوونکی پاتی کیږی." (۱۰)

فلیپ شف داسې استدلال کوي: "آیا ممکنه ده د عیسی عقل چې د آسمان په شان شین، د غرونو د هوا په شان صاف او د توری په شان تیره، تل سلیم، باقوته، حاضر جوابه او تر کنټرول لاندې وُ. کولای ئې شوای چې په عین حال کې یې د ده په هکله دغلطو خیالونو او د عیسی د ژوند او شخصیت په هکله بې لاری او منحرف شوي وي؟ هر څوک چې دا ډول امکان منی د هغه فکر خراب او نا معقوله دی." (۲)

## آیا عیسی مسیح خدائ ؤ ؟

لیکونکی نشی کولی چې دا نتیجه تر لاسه کړی چې عیسی دروغجن یا لیونی ؤ. یوازی یوه خبره باقي پاتي کیږی چې هغه د عیسی مسیح دعوی هم ده. او د منلو وړ هم ده. چې هغه د مسیح، او د خدای د زوی په صفت ومنل شي.

کله چې په دې هکله له يهوديانو سره خبرې کوو نو ډير په زړه پورې جوابونه راکوی، دوی معمولا دا خبره کوي چې: عيسی يو ښه اخلاقی، ښه کار پوه، د دين لارښود ښه سړی او يو پيغمبر ؤ. د دوی د رايو په پرتله هغه دعوی چې عيسی مسيح د ځان په هکله کړي او هغه دلائل چې په دې فصل کې مو مطالعه کړل مقايسه او مخې ته ئې ايږدو.

کله چې له دوی پوښتم: آيا عيسی دروغجن ؤ ؟ په منډه جواب راکوی چې نه. نو بيا پوښتم "آيا تاسو فکر کوی چې عيسی ليونی وو؟" او بيا جواب راکوی چې "البته نه. ولې کله چې د همدې سړی نه صرف پوښتنه وکړو: "آيا دا منی چې عيسی خدای دی؟" پرته له کوم فکر او دليله بلکه په ټينگه سره وايی چې : "نه، هيڅکله نه." سره له دې بايد چې يو سړی يو له همدغو دريو برخو نه ومنی.

خبره دا نه ده چې کوم يو له همدغو ذکر شوو برخو نه صحيح وي. ځکه نو بيا هر يو د دې دريواړو نه امکان لری چې په خپل ذات کې د منلو وړ وي. خو اصل خبره دا ده چې "دې دريواړو کې به کومه يوه قوی احتمال ولري چې صحيح به وی؟" دا پوښتنه چې آيا عيسی څوک دی، يوه آزموينه او د فکر د تيزوالی معما نه ده.

مونږ نشو کولای چې عيسی د اخلاقياتو د يو لوی استاذ په صفت ومنو او بيا هير کړو. دا خبره معتبره نه ده. هغه به بايد چې د دې دريواړو څخه يو اوسی. دروغجن، ليونی يا خدای. او زمونږ انتخاب به هم د دې درې واړو څخه يو وی. لکه څنگه چې يوحنا رسول ليکلی دي: "او هغه چې دلته ليکلی شوی دي دا تش په دې غرض دي چې تاسو په دې ايمان راوړئ چې عيسی هم مسيح دی، يعنی د خدای زوی، او د ايمان راوړلو په وسيله د هغه په نوم ژوندون ولرئ." (يوحنا ۲۰ : ۳۱)

څرگنده خبره ده چې دا ټکی چې عيسی خدای دی غوره ښه لري خو ځينی دا خبری نه منی. ځکه منل ئې دا معنی لري چې دوی بايد خپل ژوند ته تغير او بدلون ورکړی. خو دا خلک په ځان کې دا تياری او آماده گی نلري چې هغه اخلاقی مسئوليتونه چې عيسی مسيح ته د خدای ويلو ، شاته راځی په ځان ومنی.

# دریم فصل

## علوم په دې هکله څه وائې؟

ډیر کسان عیسی مسیح ته د خپل ژوند د سپارلو تصمیم شا ته غورځوی او وایی چې: د دې علت دا دی چې یو شی له علمی نظره ثابت شوی نه وی، نشی کیدای چې د منلو وړ او حقیقت دې ولري یا دا چې کوم ارزښت نلری چې څوک هغه ومنی. دوی وایی څوک نشی کولی چې د عیسی مسیح الوهیت او یا د مړو نه د هغه بیا ژوندی کیدل ثابت کړي نو لازم ده چې د شلمی پیړی انسان د دې نه زیات هوښیار اوسی چې مسیح د خپل خلاصونکی په حیث قبول کړی او یا د هغه په بیا راژوندی کیدلو ایمان او باور ولري!

د فلسفی او تاریخ په کلاسونو کې معمولاً له ما نه پوښتنی کیږی چې "کولی شی دا خبری په علمی لحاظ ثبوت ته ورسوی ؟" او زما جواب هم معمولاً دا دی چې "نه، ځکه چې زه پوه او عالم نه یم." زما له دې جوابه سره سم د څو کسانو له ملنډو ډکې خندا وې اوریدلی کیږی نو بیا وایی "ښه نو په دې هکله مونږ سره خبری مکوه" "نو بیا مونږ دې هر څه د ایمان له مخی په پټو سترګو قبول کړو؟"

په دې وروستیو کې چې د الوتکی په وسیله د بُستن ښار ته تلونکی وم. نو څنګ ته ناست ملګری سره مې دا خبره رامنځ ته کړه چې زه ولې د مسیح ټولو ادعاوی منم او په دې هکله مې بحث ورسره پیل کړ، په دې وخت کې د الوتکی یو مسئول راغی چې له ټولو مسافرو سره روغبړ وکړي او زمونږ خبري یې چې واوریدې. ما ته یې وکتل او ویی ویل: "یوه لانجه شته هغه دا چې څه چې تاسو وایی نشی کولی چې هغه په علمی لحاظ ثابت کړي."

د ډیرو خلکو طرز تفکر واقعاً چې نن سبا عجیبه ښکاری که چیری یو سړی ونشی کولی کوم شی په علمی لحاظ ثابت کړی نو د دوی په نظر هغه شی حقیقت نلري! داسی نظر او فکر غلط دی. مثلا ډیر داسې شیان کولای شو چې د قانونی تاریخ له نظره اثبات ته ورسیږی، او حقیقت هم ولري نو ښه به دا وی چې د قانونی یا تاریخی او علمی اثبات ترمنځ فرق، لږ څه دمطالعی او څیړنی لاندې ونیسو. علمی طرز اثبات په دې ولاړ دی چې غواړو د یوې فرضیی یا اجنډا د حقیقت د یو شخص په مخ کې و هغه ته په تکرار سره ثابت کړو.

د دې قسم اثبات دپاره لمړی باید ځه شروط وضعه او کنترول شي او د همدې شرائطو په رڼا کې څه تجزیي تر سره شي بیا معلومات راغونډ شي خو مطلب ثبوت ته ورسیږی علمی کړنلاره د مطلب په څیړلو او په هغه بار بار تجربو کولو پورې اړه لري." (۱)

د هارورد د پوهنتون پخوانی رئیس جیمز کنانت لیکی: "پوهه د سره ورته طرحو او تړلو ایډیا و څخه ده چې د آزمایښتونو او تجربو په اثر منل شوي وی. او د ډیرو تجربو او آزمیښتونو په کولو سره لا هم پسی غنی کیږی. (۲)

د کنترول شوی آزمایښت له لاری د یوی منل شوی فرضیی د حقیقت اثبات د ماډرن علومو له اساسی میتودونو او روشونو څخه لاس ته راځي مثلاً یو څوک وایی چې مارکه نښانه صابون په اوبو کې غوټې نه وهی. کولای شو چې دغه سړی پخلنځی ته بوځو او شل سانتیمتره اوبه په ۲۸ درجه سانتیګراد کې په لاس مینځلځی کې تویی کړو بیا صابون پکې واچوو.

اوس خپله تجربه شروع کوو او خپل معلومات راټولوو. که صابون په همدغه شرایطو سره په اوبو کې غوټه ووهله، نو دا فرضیه چې مارکه نښانه صابون په اوبو کې غوټه نه وهی "عملاً" کولی شو رد او نفی کړو اوس که چیری علمی اصول یا روش یوازی د یوه مطلب یا یوی پیښی د اثبات لاره وي په هغه صورت کې تاسو نشوای کولای ثابت کړی چې نن سهار ښوونځی یا دفتر ته لاړی. یا مو نن سهار ناشته وکړه. په هیڅ صورت نشی کولای چې پیښی تر کنترول شوو شرایطو لاندې تکرار کړی.

اوس به قانونی روش یا تاریخی کړنلاری ته چې د تردید د لری کیدو او د حقیقی اثبات په ستنو ولاړ دی وګورو یا په بله وینا دا هغه نتیجه او حکم دی چې د ډیرو شواهدو په وسیله یی لاسته راوړی شو. یعنی د شواهدو په مبنی به عاقلانه نه وي چې لاسته راوړی نتیجه او حکم ومنو. دا اوس په لاندې درې ډوله شهادت پورې تړلی ده: شفاهی شهادت کنبی یا لیکل شوی شهادت او نور شواهد لکه اسلحه، مرمی، د یادښت دفتر (کتابچه). د قانونی او تاریخی اثبات په مرستی سره د شک او تردید د لری کیدو تر میزانه پورې کولای شی ثابته کړی چې تاسو نن سهار خپل صنف ته یا د کار دفتر ته تللی یی. مثلاً ستاسو دوستانو هلته ولیدلی، د استاد خبری مو لیکلی ساتلی دي او استاد خبر دی چې تاسو کلاس ته راغلی وی.

دغه اثبات، د علمی روش له مخې کولای شی د تکرار وړ پیښنو د ثبوت لپاره ستاسو په درد وخوري خو د شخصی چارو یا د تاریخی پیښنو د اثبات لپاره مناسب نه دی.

علمی روش داسې پوښتنو ته لکه: "آیا په رښتیا سره نادرشاه افشار وجود درلوده ؟" یا "آیا ستارخان په ایران کې د مشروطیت د رژیم د ټینګیدو یا د استبداد په وړاندې د مبارزی له رهبرانو څخه وه؟" او یا "عیسی مسیح څنګه شخص وو ؟ "

یا بالاخره "آیا عیسی په رښتیا د مړو نه بیرته را ژوندی شو؟" نشی کولای جواب ووایی. دا ډول پوښتنی د علمی ثبوت د حوزی نه وتلی پوښتنی دي نو باید جوابونه ئې د قانونی روش یا تاریخی روش له لاری ولټوی. یا په بله وینا علمی روش د مشاهداتو، اطلاعاتو د را ټولولو، فرضیه جوړونی، استقرائی استنتاج او آزمایښتی تاییداتو په بنا ولاړ دی.

او له هغې نه د طبیعت د تجربی نظامی کشف یاتو او بیانه څخه د هغه څه چې په طبیعت کې حثیت لری او د یوې قاعدې او نظم په اثر تکراراً عمل کوی استفاده وشی. مګر علمی روش نشی کولای "د مړو نه د عیسی بیا ژوندې کیدلو" او یا د ده د الوهیت مسالی ته ګړندی او پریکونې جواب ورکړي. کله چې مونږ له قانونی او تاریخی اسلوب یا کردار څخه کار اخلو لازمه ده چې د شاهدانو د څرګندونی باور او قابلیت تر څیړنې لاندې ونیسو.

هغه حقیقت چې ماته ډیر قیمتی دی دا دی چې مسیحی عقیده د عقایدو د هغې سلسلې څخه نه ده چې د جهالت سره خلط او په ړندو سترګو ومنل شي. بلکه یو د هوښیاری ډک اقدام او د باور او ایمانداری منبع ده. هرکله چې خدای په مقدس کتاب کې چا نه هم غوښتنه کوی چې په خپل ایمان دې عمل وکړی، په حقیقت کې عمل په پوره او هوښیار ایمان دی. عیسی د یوحنا انجیل ۸: ۳۲ کې فرمائی : "او تاسو به په حقیقت پوه او حقیقت به تاسو آزاد کړی." له دې معلومیږی چې عیسی هیڅکله هم نه غوښتل چې په حقیقت سترګی پټی کړو، او بابیزه یې وګڼو. له مسیح نه چا وپوښتل : "د الهی په فرمانونو کې لوی فرمان کوم دی؟" هغه وویل : "د خپل مالک خدای سره د زړه له کومې مینه کوه" (متی ۲۲ : ۳۷)

هغه حالت چې ډېر خلک ورسره مخ کیږی دا دي چې د زړه له کومې توجه سره سره هم ئې مسیحی حقایق زړه ته نه پریوزی زمونږ عقل چې د روح القدوس په واسطه تر میم او روښانه کیږی د خدای پیژندنی وسیله ده. نو همدارنګه که چیری زمونږ زړه کې خدای سره دوستی اراده کې مو خدای منل او د هغې په تګ لاری عمل وي باید درې واړه اړخه یوځای عملي کړو چې په دې توګه به مونږ نه یوازی خدای سره ټینګه رابطه ساتلی وي بلکه د پوره لوئې او عظمت قائل به ئې هم یو. نه پوهیږم چې تاسی به هم زما په څیر یې چې عقل مې څه ونه منی زړه مې هم ترې خوښ نه وی؟ عقل او زړه مو باید یو بل سره مرسته او یو ځای کار وکړی خدای هیڅری چا نه ندی غوښتی چې عیسی مسیح د خدای او یا خلاصونکی په صفت منلو کې د خپل عقل نه لاس په سر شی.

په راتلونکو څلورو فصلو کې به لیکل شوی قولی، سمعی، او بصری شواهد تر څیړنی لاندې ونیسو. او هم به وګورو چې عینی شواهد د اعتبار ور دي، او که نه دي.

# څلورم فصل

## آيا مقدس کتاب پورې مربوطې منابع د اعتبار وړ دي؟

نوې عهد (انجيل) د عيسی مسيح په هکله لومړنی تاريخی معلوماتيمنبع ده. څکه خو د نولسمی او شلمی پيړی ناقدينو مقدس کتاب ته مربوطو معتبرو اسنادو باندې حملې کړيدی. يو شمير اتهمات شويدی چې اصلاً هيڅ تاريخی ارزښت نلري يا د لرغون پوهنی اکتشافاتو او څيړنو هغه شاته غورځولي دي.

کله مې چې د "اريزونا ستيت" په پوهنتون کې وينا کوله، د ادبياتو د پوهنځی يو استاذ له شاګردانو سره ولاړ وو او زما د خبرو په پای کی ماته راغی او ويی ويل: "ښاغليه مک داوله! ستا ټولي دعواوې د مسيح په هکله چې په ثانوی مدارکو باندې چې نور ارزښت نلری ولاړی دي. نن مې محصلينو ته څرګنده کړه چې څنګه نوی عهد کلونه کلونه وروسته له عيسی نه ليکل شويدی نو دا معلومات نيمګړی دي."

ما ورته په جواب کې وويل: "ستاسو عقايدو او نتائيج د نوې عهد په هکله پنځه ويشت کاله وروسته څرګنديږی."

د دې استاد نظريه د عيسی د مدارکو په اړوند دالمانی انتقاد کوونکی "ايف . سي . ياور." له نظری اخيستل شوي چې فکر ئې کاوه. د نوی عهد "انجيل" ډير مطالب د دوهمی عيسوی پيړی، تر پايه پورې نه وه ليکل شوي.

محترم استاد په همدې اساس دې نتيجې ته رسيدلی وه چې د انجيل ټولی ليکنی د هغو قصو افسانو او خيالاتو سره تړاو لري چې د عيسی د ژوند نه بعد د انجيل تر ليکلو پورې اوږدې مودی کې اختراع شوی دي.

مګر د شلمی پيړی په لومړيو کې د لرغون پيژندنی انکشافاتو د نوی عهد د لاسی ليکل شوو نسخو تاييد کړيدی. لومړنی خطی يا پيروسی نسخی (کاشف جان رايلند، د نسخی تاريخ **۱۳۵** ميلادي کال، کاشف چستر بی اتی، د پاپيروسی نسخی تاريخ **۱۵۵**

میلادی کال او کاشف باد مرد پاپیروسی خطی نسخی تاریخ ۲۰۰ میلادی کال) د نوی عهد د خطی نسخو او د مسیح د ژوند منځ زمانی واټنی ډک کړیدی.

د ییل له پوهنتونه څخه میلار باروز وایی: "د کشف شوی پاپیروسی نسخی د ژبی او د یو نانی نوی عهد سره مقایسوی نتیجه د نوی عهد د مطالبو د انتقال د صحت په ډاډ ټینګار کوی." (۱) دا ډول انکشافاتو په مقدس کتاب باندې د علماؤ د باور ډاډ ته زیاتوالی ورکړیدی.

(ویلیام آلبرایت) چې د مقدس کتاب وتلی لرغونپوه ؤ لیکی: "مونږ اوس کولای شو، په تاکید سره ووایو چې نور نو دریدلی دلیل او قوی پایګاه د دغو بنسټپالو منتقدینو د فرضیی لپاره چې وائي: مقدس کتاب (نوی عهد) د ۱۳۰ او ۱۵۰ میلادی کلونو کې لیکل شوی وجود نلری او د دې سره شواهد شته دي چې نوی عهد ټول تر اتیایم میلادی کال پوری یعنی دوه نسله وړاندې له هغه نه چې دا کره کتونکی پرې ټینګ دي) لیکل شویدی." (۲) آلبرایت دا نظر د ننني مسیحیت (کریسټیانیټی ټو ډې) له مجلی سره په یوه مرکه کې بیا تکرار وي. "زما په عقیده د نوی عهد هره برخه د یوه غسل ورکړ شوي یهودي (یعنی مسیحی یهودي) په وسیله د ۴ نه تر ۸ میلادی کلونو فاصله کې لیکل شوی (په قوی احتمال سره د زمانی فاصله له ۵ نه تر ۷۵ میلادی کلونو پورې ده). (۳)

"سر ویلیام رمزی" له لویو تاریخی لرغونپوهانو څخه شمیرل کیږي. هغه لا د المانی تاریخی مکتب زده کوونکی ؤ چې ویل به ئې د رسولانو د کارنامو کتابچی (د نوې عهد له کتابونو څخه یوه برخه ده). د دوهمی میلادی پیړی په اوسطو کې لیکل شوی دی. د منتقدینو د لیکنو تر مطالعی او د نوو څیړنو وروسته دی قانع شو چې د رسولانو کارونه د ۵۰ میلادی پیړی محصول نه دي او هیڅ یو ښه تاریخپوه ته لازمه نه ده چې دا نیټه ومنی کله چې رمزی د وړی اسیاد تاریخ په مطالعی لګیا ؤ. د نوی عهد کتاب ته یی هیڅ پاملرنه ونه کړه. خو بالاخره د ده تحقیقاتو او څیړنو دی مجبور کړ چې د لوقا (رسولانو د کار نامو لیکونکی) کار تر څیړنی لاندې ونیسی، رمزی د هغه زیات احتیاط او دقیق لیدنی نه وروسته چې لوقا د تاریخی پیښو په ثبتولو کې ترې کار اخیستی وه. خپل نظر د رسولانو د کارونو په باره کې بدل او مجبوره شو چې ولیکی او مجبوره شو چې ولیکی: "لوقا له لومړی درجه تاریخ لیکونکو څخه دی، دا مؤلف باید د نړی د لویو مؤرخینو له جملې څخه وګڼل شي." (۴) د رسولانو د کارونو ډیر وړو جزئیاتو

ته د لوقا د غور له امله رمزی مجبور شو ومنی چې دا کتابګوتې د دوهمې میلادی پیړۍ یوه منبع نه ده بلکه هغه سند دی چې د لومړۍ پیړۍ په نیمائې کې لیکل شویدی.

ډیر آزاد لیکوالان او پوهان اوس ناچاره دي چې څو هغه تاریخونو ته چې په اول کې به ئې نوې عهد ته د هغو نسبت کیدلو بیا کتنه وکړي د نوې عهد تاریخ ته بیا کتنه"تر عنوان لاندې د کتاب لیکوال داکتر جان رابینسون ډیرو اساسی نتایجو ته رسیږي." او په خپلو څیړنو کې دې نتیجې ته رسیږی چې ټول نوی عهد د اورشلیم تر ړنګیدو مخکې یعنی په اویایم میلادی کال کې ولیکل شو.

نو اوسنی د ظاهری شکل انتقاد کوونکی وایی چې د اناجیلو مطالب تر یوه وخته پورې خوله په خوله نقل کیدل. څو بالاخره ولیکل شول. که څه دا دوره ډیره لنډه ده له هغه نه چې فکر ورته ډیر کیده. خو وی داسې استنتاج کوي چې انجیلونو زمونږ د نیکونو د کیسو او متلونو بڼې غوره کړي وي.

د شفاهی روایت د پراخوالی له اړخه په ظاهری منتقدینو باندې د دوی د عقیدو په وړاندې یو لوی اعتراض یا انتقاد دا دی چې د خوله په خوله نقل یا روایاتو دوره دومره ځنډمنه نه وه چې د مطالبو صحت ته دې زیان ورسیږي.

"سیمون کیسته ماکر" د (ذرت) په کالج کې د مقدس کتاب استاد د نوې عهد د لیکلو د وخت نږدې والی د عیسی له ژونده سره داسې څیړي: "معمولاً د کیسو د و دې او پراختیا د مسالی ارزیابی په هغو خلکو چې ابتدایی فرهنګ لري ډیری مودې ته اړتیا لري چې دا خپله یو تاریخی جریان دی چې سبط یې بللی شو. او څو پیړۍ وخت نیسی، د سبکی منتقدینو د فکر له مخی دې نتیجې ته رسیږو چې د انجیلونو قیصې له یوه نسله زیاته موده کې را ټولی شویدی. په دې توګه د هر انجیل مطالب په لنډه موده کې جدا شکل موندلی دی." (۴)

د ابلین د پوهنتون د الهیاتو پخوانی استاذ (ای. ایچ . مک نیل) د سبکی منتقدینو د شفاهی روایاتو فرضیه تر پوښتنې لاندې نیسی او وایی چې دا کتونکی (منتقدین) د عیسی د خبرو په نقل پورې تړلو مراسمو سره آشنایی نلري. په نوی عهد کې د کورنتیانو په نوم په اول خط ۷: ۱، ۱۲ او ۲۵ ژوره مطالعه او لوستنه راښیی چې په هغه وخت کې د معلوماتو د ساتلو او ظبط لپاره یو داسې عادت وه چې خبرې به په ډیر غور سره حفظ کیدلی. همدا عادت د یهودو هغه دود ته ورته وه چې یو شاګرد به د حاخام

"عالم" خبرې زده کولې او په یاد به ئې یادولې. او ښه شاګرد هغه حوض ته ورته وه چې یو څاڅکی ئې هم نه ضائع کیږي.

که چیرې د سی ایف برنی نظریه چې په خپل کتاب "زمونږ د خدای شعرونه" تر سر خط لاندې لیکلی ومنو باید باور ولرو چې د عیسی مسیح خدای لارښونې چې نرمه شعری لهجه او ښه ئې درلوده یادول ئې آسان وه. (۷)

(پال مایر) د (میشیګان باختری) پوهنتون د لرغونی زمانی د اثارو د تاریخ استاد ، لیکی چې: "په دې دلیل اعتماد کول بې ځایه او هیڅ حقیقت نه لري چې مسیحیت د خپلې اوږدی دوری په موده کې د مسیحی اختر افسانه اختراع کړي ، او هغه مطالب چې د عیسی د مړو د منځ څخه د بیا راپاڅیدو په باره کې دي د کلونو په تیریدو سره تر مودو مودو وروسته لیکل شوي او حقیقت نلری." (۸)

د سبکی منتقدینو د لیکنو له تجزیی او څیړنی څخه وروسته البرایت داسې ولیکل: "یوائې مادرن عالمان چې د دوی په لیکنو کې تاریخی کتنه او سلوک نشته کولای شی د انجیل په اړوند تړلو مراسمو کې ګډوډ خیالونه وکړي." او هغه نتیجه چې خپله البرایت تر لاسه کړی هغه دا ده چې : "له ۲۰ نه تر ۵۰ کلونو پورې یوه لسیزه ډیره لږه موده ده چې څوک دې وکولای د مسیح د خبرو او کلیماتو محتوا ته محسوس تغیر ورکړی." (۹)

ډیر ځله کله چې له چا سره د مقدس کتاب په هکله خبری کوو. مقابل لوری په ملنډو سره وایی چې هوښیار سړی نه شی کولای په نوی عهد باندې چې تقریباً ۲۰۰۰ کاله وړاندې لیکل شوی باور وکړی، دی زیاتوی چې نوی عهد له تیروتنو نه ډک دی او ضد او نقیض مطالب پکې راغونډ کړای شویدی. خو زما جواب بیا داسې دی چې زه باور لرم او کولای شم چې د نوی عهد په صحت باندې اعتماد وکړم. بیا لاندې کیسه ورته وایم. د تاریخ د مضمون په ساعت کې په یوه صنف کې ئې د خبرو په وخت کې وویل، زه باور لرم چې د نوی عهد د مطالبو د صحت لپاره ډیر شواهد وجود لري. هومره چې لس جلده ادبی کتابونه ترې جوړیدلای شي. دې وخت کې د همدغه درس استاد په ملنډو سره وخندل. ما ترینه د خندا د سبب پوښتنه وکړه وئې وویل: "ماته ستا په دومره بې ادبی باندې خندا راځی چې د تاریخ په ساعت کې د نوی عهد په هکله دا ډول چټیات وایی." بیا مې پوښتنه ترینه وکړه: "آیا عالی جناب د یو تاریخ پوه په صفت د یوه کتاب د صحت لپاره له کومو معیارونو او دلایلو نه کار اخلی؟" معلومه ده چې ده حتی یوه

آزموينه هم په فکر کې نه درلوده او يو دليل ئې هم نه لرلو، نو ورته ومې ويل: "زه خپله معيارونه او آزموينې ورته لرم." زه باور لرم چې کيداى شى د نوې عهد په مطالبو باندې له تاريخى لحاظ د اعتماد او باور قابليت له تاريخى لحاظ په هغه معيار باندې چې نور تاريخى آثار پرې څيړل او ارزيابى کيږي دا هم ارزيابى شي. (سى ، سندرز) نظامې تاريخ ليکونکې د تاريخى مدارکو د بررسى لپاره له درې تاريخى مدرکو څخه استفاده کوي او داسې شرحه ورکوى چې دا درې اصله عبارت دى له: ۱) کتاب پورې د مربوطو ازموينو شرح او د هغو هويت، د هغه د ليکنى تاريخ او د ليکوال په هکله معلومات ۲) د داخلى شواهدو آزموينه ۳) د بهرنى شواهدو آزموينې. (۱۰)

او اوس به د دغو دريو آزموينو په وضاحت پيل وکړو.

## د هويت ازموينه او ليکنې شرحه(*)

دا آزموينه د ليکنو د انتقال معاينه ده چې اوس تر مونږه را رسيدلى، يا په بله وينا څنګه چې اصلى نسخه زمونږ په واک کې نشته. غواړو پوه شو چې کتابت شوى نسخى چې اوس يې لرو تر کومې اندازى پورې د باور وړ دي، او دا کار له دوو خواو نه کيداى شي چې سر ته ورسيږي. لومړى د لاس ليکل شوو نسخو تعداد. دوهم د اصلى نسخى د ظهور او د کتابت د وخت تر منځ د زمانى فاصله.

د نوې عهد د خطى نسخو له نورو لرغونو خطى نسخو سره پرتله د کتنى وړ ده. مثلاً د تاسيديسى له تاريخه چې (له ۴۶۰ کاله څخه تر ۴۰۰ مخکې له ميلاده اوسيده) د دغى تاريخى اثر نه يواځى اته لاسکښلى نسخى لرو د ۹۰۰ ميلادى په خوا او شا (تقريباً ۱۳۰۰ کاله وروسته د اصلى نسخى د ښکاره کيدو څخه ليکل شويدى.

د هر ودوت تاريخ هم همدارنګه د خطى نسخو د تعداد او له اصل نسخى نه د زمانى فاصلى څرنګوالى ښه وضعيت نلري سره د دې ايف، ايف بروس، داسې ارزونه کوى او وائې هيڅ يو برجسته عالم د هرودت او تاسيديس د تاريخ په

(*) Bibliographical Test

صحت او رښتينولى کې شک نه کوى. خو سره د دې چې موجوده خطى ليکل شوى نسخى ئې ۱۳۰۰ کاله وروسته د اصلى نسخو څخه ښکاره شوي. (۱۱)

**ارسطو خپله شعری مجموعه په کال ۳۴۳ قبل المیلاد کې لیکلی خو قدیمترینه خطی نسخه په کال (۱۱۰۰) میلادی کې ښکاره شوي چې د اصلي نسخی سره تقریبا "۱۴۰۰" کاله فاصله راښیی او پنځه خطی نسخی لري.**

د ګال د جنګونو تاریخ قیصر د **۵۰** او **۵۸** قبل المیلاد کلونو ترمنځ لیکلی وه چې نهه یا لس خطی نسخی لري او تقریباً زرکاله پس د مؤلف د وفات څخه ښکاره شویدی. کله چې خبره د انجیل په خطی نسخو اعتماد او قابلیت ته رسیږی نو وایو چې زیاتی موجوده اصلی نسخی د پورتنی کتابونو سره د مقایسی وړ نه دي.

سر بیره په پاپیروسي نسخو چې د عیسی مسیح د ژوند او دوهم قرن تر منځ زمني خالیګاه ئې ډکه کړي نوري ډیري نسخی کشف شوي چې نن ورځ ئې شمار تر شلو زرو زیات دي. او د ایلیا د کتاب ته چې **۲۴۲** خطی نسخی لري په دوهمه مرتبه کې ځای ورکوی.

سر فرد ریک کنیان چې د برطانوی کتابخانی مدیر او ساتونکی او په مخطوطه شناسی کې یو نومیالی شخص وه لیکی: د اصلی نسخو د لیک او موجوده پخوانیو شواهدو او نسخو ترمنځ زمنی فاصله دومره لنډه ده چې په حقیقت کې د هیڅ سره برابره او په صفر کې ضرب ده. په همدې سره هغه سوال جواب او هغه شک پائی مومی چې ویل کیږی، آیا انجیل چې څرنګه وه مؤلفینو ئې همغسی لیکلی او په عین حالت مونږ ته رارسیدلی؟

هو بالاخره د نوې عهد د ټولو کتابونو صحت او پوره والی اثبات ته رسیدلی. (۱۲) جې هر ولډ ګریډلی چې د نوی عهد د یونانی ژبی عالم دی زیاتوی: "څرنګه چې پوهان داسې ادبی او تاریخیلیکنی د اعتماد وړ بولی چې لرغونی خطی نسخیدمودو مودو وروسته د اصلی نسخو د ظهور د نیټی څخه لیکلی شوی او د خطی نسخو تعداد ئې هم ډیر کم دي.

نو معلومه ده چې د نوې عهد کتابونه په صحیح طریقی سره د اعتماد وړ دي. (۱۳)

نو په دې ډول د هویت او د لیکنی د شرحی آزموینه د نوی عهد په هکله مونږ ته دا ډاډ راکوی چې هغه له هر لرغونی لیکلی اثر څخه د خطی نسخی له مخې خاص ارزښت لري که چیری د دې مطالبو د حقیقت سره دا خبره زیاته کړو چې د نوې عهد محتوا د سلو

څخه زیاتو کلونو راپدې خوا انتقاد کونکو د ذره بیني کتنې او څیړنې لاندې نیول شوی نو دا نتیجه به تر لاسه کړو چې د نوې عهد د محتوا صحت ثابت او رښتینوالی ئې لا پخوا برقراره وه.

## د داخلې آزمویني شواهد

د لیکنی د امتحان او هویت تشریح یواځې مونږ ته دا رابنیي چې هغه لیکنه چې اوس ئې مونږ په لاس کې لرو. تر کومې اندازې پورې له اصلي نسخې سره مطابقت لري خو څوک لا نه پوهیږي چې هغه څه چې په اصلي نسخې کې راغلي. تر کومې اندازې به د اعتماد او باور وړ وي. دا هغه موضوع ده چې د دروني شواهدو د امتحان له مخې څیړل کیږي.

یو ناقد باید د یو موضوع په کره کتنه کې ارسطو خپل لارښود وګڼي په دې معنی چې د موضوع محتوی د قبول وړ ده خو باید چې اساسي دلائل ئې مات کړي جان منتګمری دې موضوع ته په دې ترتیب وضاحت ورکوی یو کس باید د یو مدرک ادعاوی ومنی خو بیا دا بیان کړی چې مؤلف ئې ضد او نقیض خبري راجمعه کړی او یا د حقایقو په بیان کې د سهوی سره مخ شویدی. (۱۴)

د شیکاګو د پوهنتون د تاریخ پخوانی استاد ډاکټر لوئیس ګاتز چاک د رهنما هغه کتاب کې چې د تاریخی مدارکو د پلټنې د محصلانو د استفادې وړ کتاب دی، دا آزموینه تشریح کوي.

داکتر لوئیس ګاتزچاک د شیکاګو د پوهنتون د تاریخ پخوانی استاذ اشاره کوي او وائې چې د لیکونکی استعداد او یا د حقیقت په بیان شاهد دواړه هغه څه دي چې ناقد سره د یو مدرک د مطالبو په منلو کې مرسته کوي. دا مطلب که د زور یا چاپلوسی له لاری لاس ته راغلی وي. او یا مشکوک ښکاره شي او یا د یوی شایعی یعنی خوراور او متواتر خبر په اساس ولاړ وی. او یا د یوې ګتور شاهد د خولی او قلم څخه په لاس راغلی وي حقیقت لري او د اعتماد وړ دي. د حقیقت په بیان کې دغه استعداد د جغرافیائې حدود و د لنډ والی او لیکل شوو پیښو ته د شاهد د کلونو د فاصلی په نزدیکت پورې اړه لري.

د نوی عهد کتابونو کې د عیسی مسیح د زندګۍ او تعلیماتو بیان د داسې کسانو په واسطه لیکل شوي چې یا خو پخپله د دې پیښو عینی شاهدان دي او یا ئې د عینی شاهدانو څخه اوریدلی او په پوره امانتدارۍ مونږ ته را رسولي.

د لوقا انجیل ۱: ۱ – ۳ داسې لیکی: "ای خوږه تیوفیلوسه! ډیرو خلکو په دې لاس پورې کړی دی چې د هغه واقعاتو ترتیب وار بیان وکړی کوم چې زمونږ په مینځ کې تیر شوی دي. بلکه هغوی مونږ ته خبرې حواله کړی دي او چا چې دا واقعات د سر نه په خپلو سترګو لیدلی وو او د زیری خادمان وو نو زه هم په خپل وار، ای خوږه تیوفیلوسه! ستا دپاره د پوره تحقیق نه پس دا ټولی خبری په ترتیب سره نقل کوم.

د پطروس رسول دوهمه رساله ۱ : ۱۶ داسې وایی: "هرکله چې مونږ تاسو د خپل مالک عیسی مسیح د قدرت او د راتلو نه خبر کړی وئ نو مونږ په ټګئ د ځانه په جوړو کړو کیسو باور نه وو کړی بلکه په خپله مو د هغه لوئی لیدلی وه.

د یوحنا ۱ : ۳ په اوله رساله کې راغلي "...هغه څه چې مونږ ولیدل او واوریدل تاسو ته اعلاموو څو په هغه یووالی کې چې مونږ یې له خپل پلار او د هغه د زوی عیسی مسیح سره لرو تاسو هم راسره شریک شی."

یوحنا انجیل ۱۹ : ۳۵ لیکی : "دا د یو چشم دید ګواه ګواهی ده کومه چې پخه ده او هغه پوهیږی چې هغه رښتیا وائی چې تاسو هم پرې ایمان راوړئ."

لوقا انجیل ۳ : ۱ داسې نقل کوي : "د قیصر تیبریوس د حکومت په پنځلسم کال کې کله چې پنطوس پیلاطوس د یهودو ګورنر وو او هیرودیس د ګلیل حاکم او د هغه ورور فیلیپوس د اتوریه او تراخونیتیس او لیسانیاس د ایلیه ښار والیان وو... دغه تاریخی او جغرافیائې نزدیوالی د هغو پیښو او روایاتو صحت او قبول ته چې عینی شاهدانو ورته په ذهن کې ځای ورکړی یو ځلانده دلیل او د هغې د ریښتینولۍ یوه مؤثره وسیله ده. سربیره پر دې یو ناقد تاریخ شناس باید دا احتمال په نظر کې ولري چې عینی شاهدانو ګواهی او پیښه پخپله لیدلۍ او یا ور سره د زمانی نزدې والی لری او د حقیقت د بیان اهل او صلاحیت خاوندان هم دي خو بیا هم دا امکان څخه لري نه دی چې بې خبره او یا باخبره په مطلب کې یو دروغ ورځنې ځرګند شي.

په انجیل کې ذکر شوی واقعات، د عیسی د ژوند او خبرو په اړوند د عیسی د هم عصرو په لاس او اختیار کې وه هغوی کولای شوی چې یا ئی تائید او یا ئې دروغ وبولي.

د انجیل په پیغام رسولو کې رسولانو، (د نوې عهد لیکونکو ستورو) نه یوازی د خپلو خلکو په تعلیم او تربیې اکتفا کړی وه بلکه د انجیل او د عیسوی تعلیماتو سر سختو د ښمنانو ته به ئې هم پیغام رسونه او لارښونه کوله. د نوی عهد لیکونکو نه یوازی دا خبره کوله چې دا واقعات مونږ لیدلی یا مو اوریدلی بلکه انتقاد کونکو او مخالفینو ته په مخ کولو سره به ئې ویل: تاسی هم په دې پوهیږی، تاسي هم ولیدل، او هم پدې حقیقت خبر یاست. کله چې یو تن خپل دښمن ته وائی "ته هم پدې حقیقت پوه ئې" باید ډیر متوجه اوسي ځکه که یوه جزوی غلطی وکړي یا یو حرف هم غلط کړي مخالف لور ئې دې ته مجبوروی چې خپله خبره دې بیرته واخلی.

**اعمال د رسولانو کې لیکلی دي : "ای اسرائیلو! دا خبری واورئ! چې عیسی ناصری یو سړی وو چې خدای تاسو ته په معجزو، په عجیبه کارونو او نخښو ښکاره کړو، څه چې خدای د هغه په وسیله ستاسو په وړاندی وکړل او تاسو پرې ښه خبر یې چې خدای هغه غوره کړی وو." (اعمال ۲: ۲۲)**

په اعمال د رسولانو ۲۲ : ۲۴ - ۲۲ کې لیکلی دي چې : "لا پولوس په خپله صفائی کې خبری کولی چې فستوس په اوچت آواز وویل چې: "پولوسه! ته لیونی یې! ستا ډیر علم ته لیونی کړی یې!" خو پولوس وویل چې "ای صاحبه! زه لیونی نه یم، څه چې زه وایم هغه بالکل رښتیا دي او بادشاه په دغه خبرو ښه پوهیږی او هغه ته زه په زړورتیا خبری کولی شم. زه دا یقین کوم چې دا حقیقتونه به له هغه نه پټ نه وی، ځکه چې دا کار چرته په یو ګوټ کې نه دی شوی."

د مانچستر په پوهنتون کې د مقدس کتاب د انتقاد او ترجمی او تفسیر استاذ (اف. اف. بروس) د نوې عهد د لومړنیو منابعو یعنی هغه کسانو په باره کې چې د نوې عهد د منځ ته راتلو سبب شوی داسې وائې په نوې عهد کې د انجیل د واعظانو خبرې نه یوازی خپل نیک نظره دوست شاهدانو پورې محدودی او منحصری دي بلکه عینی بدنیته شاهدان ئې هم د خپلو خبرو په ترڅ کې په ذهن کې لرل ځکه ټول یو شان د عیسی ژوند، مرګ، او خدمت سره آشنا او خبردار وه. د عیسی مسیح شاګردان کاملاً په خپلو خبرو کې محتاط او د ژور فکر خاوندان وه. هغوی نشوکولای چې پخپلو خبرو کې دروغو ته ځای ورکړی ځکه دښمنان ئې همدې ټکی ته چې فریبکاره او دروغجن ثابت شي ډیر منتظر او متوجه وه.

خو برعکس د مسیح د رسولانو یو قوی ټکی دا ؤ چې تل به ئې د مسیح د تعلیماتو او د ژوند د مینه والو اوریدونکو پوهی ته اشاری کولې نه یوائې دوی ویل چې "مونږ خپله شاهد یو" بلکه دا ئې هم زیاتوله "لکه چې تاسو په خپله ښه پوهیږی ." (د رسولانو کارونه ۲: ۲۲)

که چیري رسولان د عیسی مسیح د ژوند او تعلیماتو په باره کې د یوې زری په اندازه د حقیقت څخه لیری شوی وای نو خامخا به دښمن عینی شاهدانو چې د دوی هم عصره مقابل لوري ئې تشکیلوه د دوی دروغ او غلطی ظاهره کړی وه. چې دا قسم عینی شاهدان په دې باعث شول چې رسولان دې د عیسی مسیح د ژوندانه او تعلیماتو په بیانولو کې د یوې ورکوټی غلطی هم مرتکب نه شی. (۱۱)

لارنس مک ګیسنلی، د سینټ پیټر له پوهنځی څخه په نوې عهد کې د دښمنو شاهدانو د ارزښت په هکله د ثبت شوو پیښو په اړوند داسې وایی."تر ټولو د مخه باید وویل شی چې ټول شاهدان د پیښو د عینی شاهدانو په حیث په نوې عهد کې د نشر او لیکلو تر وخته پورې لا ژوندې ؤ.

په دې شاهدانو کې داسې کسان هم ؤ چې د انجیل او مسیحیت له سختو دښمنانو څخه بلل کیدل خو نوې عهد د هغو پیښو او تعلیماتو څخه روایت کولو چې خلک ورسره آشنا ؤ او که چري په دې روایاتو کې کوم غلط مطلب ځای درلودلای خامخا د خلکو د اعتراض سبب ګرځیده." (۱۲)

د شیکاګو له پوهنتونه څخه (رابرت ګرنت) داسې نتیجه تر لاسه کوي. "کله چې د نوې عهد دري انجیله ولیکل شول یا ګمان کیږي چې هغه وخت کې ولیکل شول د عینی شاهدانو "ځارنی" لپاره شاهدان موجود ؤ او نشوای کیدای چې څوک دې د هغو شهادت ته غوږ ونه نیسی... نو ځکه خو لازمه ده چې انجیل د با اعتماده شاهدانو په حیث د عیسی مسیح د بیا ژوندی کیدو، مرګ او ژوند لپاره ومنو." (۱۷)

(ویل دورانت) چې د تاریخی څیړنو په ځانګه کې روزل شوی ؤ او ټول ژوندی ئې د لرغونو مدارکو په تجزیی او تحلیل کې مصرف کړ داسې لیکی: "مبشرینو رسولانو د الهی فرضیاتو په مخکې د تعصب او عصبیت د وجود سره سره داسې پیښی بیانولی چې جاهل لیکوال به ئې د پټولو هڅه کوي. لکه د مثال په توګه هغه مسابقی چې د خدای په دربار کې د لوی مقام د حصول په خاطر د عیسی مسیح د رسولانو تر منځ سر ته

رسیدلی، د عیسی د شاگردانو تیښته د عیسی د گرفتارۍ نه وروسته، او د پطروس انکار د هغه د پیژندلو څخه په گلیل ښار کې د عیسی مسیح د معجزې ښکاره کولو څخه ډه ډه کول، بعضی اشاري او علامي د هغه په لیونتوب د عیسی تردید په لمړیو ورځو کې خپلې دندي لرلی د هغه انکار د راتلونکو مستقبلی حالاتو د خبر څخه چې وده ته په خپل ژوند کې ورپیښیږي، د هغه د ژوند ترخې شیبی د هغه د نا امیدۍ اظهار د صلیب په سر باندې هیڅوک نشی کولای د داسې شخصیت څخه انکار وکړي چې د دې واقعاتو په منځ کې ئې ژوند کړی وي.

او یا دا تصور وکړی چې یو عادی شخص دې داسې یو کامله شخصیت د یوه نسل د تیریدو په موده کې رامنځ ته کړي چې با قدرته بانفوذه، د لویو اخلاقو خاوند، د الهام نه ډک مفکر، او د بنی نوع بشر تر منځ دې د ورورولی د فضا قائمونکی وي چې دا د نوې عهد د روایاتو د نه باوریدونکو معجزو څخه وه. د دوو پیړیو انتقاد سره سره د عیسی مسیح د ژوندون طرحه او د هغه لارښونی او شخصیت لا تراوسه ځلانده دي چې د مغربی نړۍ د کلتور او تاریخ لپاره د زړه راښکونکی ناوي حیثیت لري." (۱۸)

## د بهرنیو شواهدو آزموینه

د یوه تاریخی مدرک د صحت دریمه آزموینه د دغې تاریخی مدرک د بهرنیو شواهدو ارزیابۍ په ډگر کې صورت مومی په دې معنی چې آیا کومه بله تاریخی لیکنه شته چې د یو مدرک اجندا تائید او تکذیبوی. یا په بل عبارت آیا کومه مستقله منبع وجود لري چې د مطالعی په صورت کې د یو مدرک قابلیت او اعتماد ثابت کړي.

گاتزچاک داسې استدلال کوي. "د یوه منل شوي علمی او تاریخی حقایقو د مدرک برابری په خپله د یوه یا څو شاهدانو د مدرک د صحت په زړه پورې آزموینه ده." (۱۵)

دوه تنه د یوحنا رسول له دوستانو د یوحنا د داخلی یا کورنیو شواهدو لیکنی تاییدوی (یوسبیس) تاریخ لیکونکی د (پاپیاس) (اسقف ها یرا پولیس) (۱۳۰ میلادیکال) لیکنی تائیدوی او ورڅخه دفاع کوی او زیاتوی چې دغه ستر لارښود شخص یعنی (یوحنا رسول) به هم داسې روایت کاوه. مرقوس چې د پطروس ترجمان وه د هغه لیکنی د عیسی مسیح د ژوند او تعلیماتو په باره کې بې د کوم خاص ترتیب ورکولو څخه په ډیر غور سره ثبتولی ځکه چې د عیسی د وخت او ملگرو څخه نه وه او نه دهغې د مجالسو د حاضرینو څخه وه.

خو وروسته لکه څنګه چې و مو ویل پطروس به یې بدرګه کاوه، او پطروس د عیسی تعلیمات او خبری د وخت او زمانی او د ځای په پام کې نیولو سره ورته ویلی او مرقوس به په خورا غور او پرته له کومې غلطی نه په کامله توګه هغه ثبتولی." (۱۹)

په "۱۸۰ میلادی" کال کې (ایرنائوس اسقف لیونز) چې په (په ترکیه کې) د اسقف اسمیرنا شاګرد ؤ، او همدغه وروستنی ۸۲ کلن مسیحی شخص و او د یوحنا رسول له شاګردانو څخه ؤ وایي چې: "متی خپل انجیل د عبرانیانو په منځ کې (یهودیانو) د دوی په خپله ژبه خپور کړ، او دا هغه وخت ؤ چې پطروس او پولوس په روم کې د انجیل وعظونه کول او هلته ئې کلیسا هم جوړه کړه. د دوی تر مړینی وروسته (چې حدیث او روایت هغه تاریخ ۶۴ میلادی کال ښیی او دا هغه وخت وو چې دوی د نرون یعنی د روم د قیصر له خوا نه زورول کیدل) مرقوس د پطروس رسول شاګرد او مفسر په خپله د پطروس د وعظونو محتوی ولیکله. لوقا، د پولوس مرید هغه انجیل چې معلم یی ورته ویلی ؤ په یوه کتاب کې ولیکلو، بیا یوحنا د مالک عیسی مسیح شاګرد، هغه څه چې د مسیح د سینی پوري متکی وه چې (یوحنا ورته اشاره ۱۳ : ۲۵ او ۲۱ : ۲۰) کوی. د خپل ژوند په وخت کې راټول کړل او په اسیا صغیر د افسس په ښار یا په (نننی ترکیی) کې ولیکلو." (۲۰)

لرغون پیژندنه اکثره زړه پورې بهرنی شواهد وړاندې کوي. دا مسلک یعنی لرغون پیژندنه د مقدس کتاب څیړنه د مکاشفی او ا لهام له لاری نه، بلکه د ثبت شوو پیښو د صحت له مخی له څیړونکو سره مرسته کوي.

(جوزف فری) نامتو لرغون پیژندونکی لیکی: "لرغون پیژندنه د مقدس کتاب د ډیرې برخی په صحت باندې په هغه څه چې انتقادکونکو د غیر تاریخی مطالبو یا حقایقو د مخالف په نامه رد کړی ؤ د تائید مهر ولګاوه." (۲۱) ما مخکې ولیدل چې څنګه لرغون پیژندنه د دې سبب شوه چې سر ویلیام رمزی هغه منفی اعتقادات چې پخوا یې د لوقا د لیکنو د صحت په هکله لرل یوې خوا ته کیږدی. او دې نتیجې ته ورسیږی چې د رسولانو کار نامې د جغرافیی په تشریح د لرغونو رواجونو او د کوچنی آسیا د ټولنی په هکله سمه وګڼی.

(اف، اف بروس) "د اشاری په طور وائې: په هغه ځای کې چې د لوقا لیکنی د غور او کره والي له نظره د تردید وړ وي نو د بهرنی ګواهیو او لیکنی له مخي ئې صحت او

کره والی ثابت شوی. با ید وویل شي چې د لرغون پوهنی له نظره د نوي عهد د لیکنو صحت او د موضوع غوره والی ثابت شویدی ." (۲۲)

ای، ان - شروین – وایټ ، د لرغونپوهنی د تاریخ عالم لیکی :

د رسولانو د کتابګوټی د محتوا تایید ، له تاریخی پلوه داسې محکم دي چې ...هر راز کوشش د هغه د صحت د نه منلو حتی د هغه د جزئیاتو نه تایید له تاریخی لحاظه بې فایدی ښکاري روم پیژندونکی تاریخ لیکونکی د هغه سموالی او صحت یو مسلم کار بولی. (۲۳)

ما خپله کوشش وکړ چې د مقدس کتاب صحت او اعتبار له منځه یوسم. خو بالاخره اوس دې نتیجې ته ورسیدلم چې ټول مطالب ئې له تاریخی لحاظ د منلو وړ دي. که څوک له دې پلوه مقدس کتاب نه قبلوی نو بهتره ده چې د لرغونو زمانو یو اثر هم و نه مني. یوه لانجه چې زه تل ورسره مخ یم هغه دا ده چې د ډیرو خلکو خوښیږي چې دنیوی لیکنو ته یو ډول معیار او آزموینه او دینی لیکنو ته له بل ډول معیار نه کار واخلی. مونږ باید له همغی آزموینې څخه چې د یوه لپاره ئې په کار وړو بلې نه هم ترینه استفاده وکړو.

که داسې وکړو باور لرم چې وبه وایو مقدس کتاب د اعتماد وړ دی. او له تاریخی نقطی نظره د عیسی مسیح په هکله شهادت یې سم او موثق دی.

د (ریجنت) د پوهنځی د ا لهی لارښونو او سلوکیاتو استاد داکټر (کلارک پیناک) څرګندوی چې، "بل داسې کوم مدرک نشته دی له پخوا زمانو څخه چې له تاریخی او متنی پلوه دي داسې عالي شاهدان ولري. او د عاقلانه نصایحو او تصمیم نیوني او پلان جوړوني لپاره داسې لوړ تاریخی اطلاعات وړاندې کړي یو صادق سړی نشی کولای داسې اطلاعاتی منابع ونه منی، او هغه رد کړي. د مسیحیت د تاریخی اعتبار په وړاندې د شک کونکو تګلاره یو غیر منطقی تمایل (یعنی ضدیت له هغو شیانو سره چې مافوق الطبیعه ګڼل کیږی دی." (۲۴)

# پنځم فصل

## مړ کیدل د یو دروغ لپاره؟

یو ټکی چې مسیحی انتقاد کونکي ترې غافله دي او اکثره ئې په پام کې نه نیسی، د مسیح د رسولانو د حالت تغیر او بل ډول والی دی. د دوی بدل شوی ژوند د عیسی مسیح د ادعاو لپاره د اعتبار وړ ثبوت او شهادت دی.

څرنګه چې مسیحي دین ډیري لرغونی تاریخی جرړی لري. نو د حقایقو د اثبات او ارزیابی لپاره ئې باید په ډیرو، لیکل شوو، لیدل شوو او اوریدل شوو، شواهدو متکئ او اعتماد کونکی اوسوو.

د "تاریخ" د تعریف لپاره ډیرې خبرې شته او هغه تعریف چې زما خوښیږی وایی: "تاریخ د تیرو پیښو د څیړلو یوه پوهه. او د شاهدانو کلکه پایه او بنسټ ګڼل کیږي" که څوک ووایی چې دا ښه تعریف نه دی ترې پوښتم: "آیا دا قبلوې چې ناپلیون وجود درلود؟" جواب خامخا مثبت دی او تل هم مثبت دی. بیا ترې پوښتم: "نو په دې خبره څه پوهیږی؟" (چې ناپلیون موجودیت درلود او تا نه دی لیدلی) مجبوره دی چې ووایی: د نورو په خبرو متکی دي. د تاریخ دا ډول تعریف یو ذاتی مشکل لري. او هغه دا دي چې شهادت باید د اعتبار وړ وي. له دې نه پرته د اوریدونکی اطلاعات غیرصحیح او ناسمی وي. مسیحیت د تیرو پیښو په اړوند د افرادو د شهادت په کتنه ولاړ دی. نو لازمه ده چې پوښتنه وشي : "آیا د عیسی مسیح په هکله شفاهی شهادتونه د باور او منلو وړ ؤ؟ آیا دغو شهادتونو په سمه او سالمه توګه د عیسی مسیح کارونه او خبری وروستنیو نسلونو ته نقل کړیدی؟ زه پوره باور لرم چې دا شهادتونه (د پوره یقین او باور وړ دي).

زه کولای شم د مسیح د رسولانو شهادتونه ومنم او باور پرې وکړم. ځکه چې د مسیح له دولسو رسولانو څخه یوولس تنه یې د یوه شهید په مرګ مړه شول. د دوی شهادتونو دوه عامله درلودل. "د مسیح په بیا ژوندي کیدو ایمان او دا چې دی د خدای زوی دی په دې خبرې هغو باور او ایمان درلود. نو ځکه وځورول شول، څپیړی یې وخوړی، او بالاخره یې د مرګ د شرابو ترخی پیالی په داسې بیرحمانه توګه وڅښلی چې په لاندې ډول بیان شوي :

۱) **پطروس – په دار وځړول شو.**

۲) اندریاس – په دار وځړول شو.

۳) متی - د توری ضربی مړ کړ.

۴) یعقوب د حلفی زوی – په دار وځړول شو.

۵) فیلیپوس – په دار وځړول شو.

۶) شمعون پطروس – په دار وځړول شو.

۷) تدی - د لیندی په غشی وویشتل شو او مړ شو.

۸) یعقوب د عیسی ورور – سنگسار شو.

۹) توما - د نیزی په ضربی مړ شو.

۱۰) برتلمای – په دار وځړول شو.

۱۱) **یعقوب د زبدی زوی – په توره ووژل شو.**

**یوازی یوحنا رسول په خپل طبیعی مرگ مړ شو. اکثره اوریدونکی د دغه ډول اطلاعاتو په اوریدو سره داسې عکس العمل ښیی: "دا ټول د یوه دروغ لپاره مړه شول. او دا کوم شی اثباتولی شی؟"**

صحیح ده چې ډیر خلک د دروغو د لاسه مړه شویدی خو دوی پدی باور وه چې د دوی عقیده د عیسی مسیح په باره کې صحیح او سمه، راسخه ده. که چیرې عیسی د مړو له منځ نه نوائ راپورته شوي او شاگردان ئې پدې حقیقت خبر وای. هیچا نشوکولائ چې دا ومنی چې د عیسی شاگردان د عیسی د بیا ژوندون په اړوند غولیدلی دي.

نو که چیرې د منتقدینو خبرې سمې وي نه یوازې دا یوولس تنه شاګردان د یوه دروغ په ویلو مړه نه شول، نه بلکه دوی د شخصي هوښیارۍ له مخې په دې دروغ ووژل شول.

لازمه ده چې مونږ باید له څو عواملو نه خبرتیا ولرو، څو په دې وپوهیږو چې رسولانو د اول ځل دپاره مخکې د هغې چې څه ولیکي او یا ئې ووائې څه کار کړیدی؛ او د هغوی نظریې او اظهاراتو او واقعاتو ته چې په بیان ئې بوخت وه د عیني شاهدانو حیثیت درلوده.

پطروس وویل: "کله چې مونږ د خپل خدای عیسی مسیح د قدرت په هکله خبرې کولې او د هغه د راتګ په هکله غږیدو له هغو کیسو سره چې په ډیر مهارت سره جوړیږي مخامخ نه شولو ځکه چې مونږ په خپلو سترګو د هغه ملکوتي عظمت لیدلی." (دوهم پطروس ۱: ۱۲) رسولان خامخا د حقیقت او افسانو تر منځ په توپیر پوهیدل.

یوحنا ټینګار وکړ چې هغه څه یې د عیسی مسیح په هکله لیدلي وو. خپلو یهودانو هم لیدلي وو، مونږ د حیات د کلام په هکله تاسو ته لیکوو هغه کلام چې له ازله ؤ او موږ هغه لیدلی او اوریدلی دی، هو، موږ هغه لیدلی دی. او په خپلو سترګو مو لیدلی. او زمونږ لاسونو هغه لمس کړیدی هغه حیات را څرګند شو او موږ هغه ولید، نو موږ وظیفه لرو چې په هغه باندې شهادت ورکړو، او له هغه همیشني ژوند څخه چې له پلاره سره ؤ او موږ ته راوپیژندلی شو، تاسو هم خبرو، هو هغه څه موږ لیدلي یا اوریدلي له هغه نه تاسو هم خبر کړو. څو له هغه یووالي سره چې موږ یې له پلاره او د هغه له زوی عیسی مسیح سره لرو تاسې هم له موږ سره یو ځای او شریک شی." (نوی عهد اول یوحنا ۱: ۱ –۳)

لوقا وویل: "تر اوسه پورې ډیرو لیکوالو د هغو پیښو د شرحې په هکله لیکنې کړې کوم چې په موږ کې را پیښې شویدی. او هغه څه چې د لومړنیو عیني شاهدانو او مامورانو له خوا موږ ته رسیدلي هغه هم ثبت او ولیکي. ما هم په خپل وار سره په ځان باندې د هغه چا په توګه چې دا پیښې یې ټکی په ټکی څیړلي. لازمه وګڼله چې دا پیښې د تاریخي پیښو په ترتیب سره تا ته ولیکم." (لوقا انجیل ۱: ۱ –۳)

بیا لوقا د رسولانو په کتاب کې (یعنې په نوی عهد کې) د عیسی مسیح د بیا راژوندی کیدلو نه وروسته څلویښت ورځنی دوره چې د عیسی مسیح رسولانو هغه له

نږدې نه لیدلی وو تشریح کوي "ما په خپل لومړنی لیک (یعنی د لوقا انجیل) کې د عیسی د ټولو اعمالو او تعلیماتو په هکله له لومړۍ ورځې نه چې پیل شوی ؤ. تر هغې ورځې پورې چې د روح القدس ټول لازمی دستورونه د هغه په وسیله ټاکل شوی رسولانو ته ورکړ شول او آسمان ته لاړو. تا ته ولیکل هغه پس له مرګ نه د ډیرو د لایلو له مخې خپل ځان د غو ژوندیو کسانو ته وښود او څلویښت ورځې سر په سر هغوی ته ښکاره شو او د خدای د بادشاهی په هکله له هغوی سره ئې خبری وکړئ." (اعمال ۱: ۱ – ۳)

یوحنا د خپل انجیل په وروستنی برخه کې ولیکل چې: "عیسی د خپلو شاګردانو په وړاندې ډیرې هسې معجزې وښودلې چې دې کتاب کې ونه لیکل شوی." (یوحنا ۲۰ : ۳۰)

د دغو عینی او ربښتینې شهادتونو اکثره اصلې متنونه له بیا ژوندي کیدو د بیان نه ډک ؤ. رسولانو په لاندې ډول په بیا ژوندی شوی عیسی باندې شهادت ورکړ:

لوقا ۲۴ او ۲۸ ؛ یوحنا ۱۵ : ۲۷ ؛ اعمال ۱: ۸ ؛ ۲ : ۲۴- ۳۲ ؛ ۳: ۱۵ ؛ ۴: ۳۳ ؛ ۵: ۳۲ ؛ ۱۰ ۳۹ ؛ ۱۰ : ۴۱ ؛ ۱۳ : ۳۱ ؛ اول کورنتیان ۱۵ : ۴ – ۵ ؛ ۱۵ : ۱۵ ؛ اول یوحنا ۱ : ۲ ؛ اعمال ۲۲ : ۱۵ ؛ ۲۳ : ۱۱ ؛ ۲۲: ۱۲.

پرته له دې رسولان په خپله باید د عیسی په بیا را پورته کیدلو د مړو له منځه مطمئن وای. په لومړی سر کې دوی په دې پیښی چندانی باور نه درلود، او ځانونه یې پټ کړل. (مرقوس انجیل ۱۴ : ۱ – ۵) رسولانو په لومړی ځل کې د خپلو شکونو بیان ته فکر ونکړ، خو پس له ډیرو عینی قناعت بخشه نښانو د لیدلو نه وروسته هغوی د عیسی بیا را پاڅیدل تسلیم کړل د مثال په توګه توما وویل: څو چې خپلې ګوتی د میخونو په سوریو کې (چې د عیسی مسیح د صلیب لپاره ټک وهل شوی ونه منډی باور نشی کولای چې عیسی دی له مړینی نه ژوندی شوی وي. او همدغه توما بیا وروسته په خپله د عیسی مسیح لپاره شهید کړای شو. آیا توما غولیدلی شو؟ نه، هغه له خپلې عقیدی نه ځان قربان کړ.

اوس به را شو پطروس ته چې د عیسی مسیح د محاکمی په وخت کې څو ځله د عیسی مسیح نه منکر شو او بالاخره هغه ئې پریښود یعنې ترک ئې کړ، خو ډارن پطروس ته هم بده پیښه رامنځ ته شوه تر ډیرې لنډې مودې یعنی د عیسی مسیح تر مصلوبیدو او

ښخیدو وروسته هغه په اورشلیم کې ولیدل شو او د مرګ تر تهدیده پورې ئې په پوره شهامت سره موعظه وکړه او وئې ویل چې: "عیسی مسیح هغه څوک دی چې مسحه شوی او یهودیانو ته وعده ورکړ شوې دی." دی مړ شو او بیرته را ژوندې شویدی خپله پطروس هم بالاخره مصلوب کړی شو. آیا پطروس غلط شوی ؤ؟ څه پیښ شول چې ډارن پطروس دې په شنه زمری پطروس بدل شي؟ ولې پطروس دې ته حاضر شو چې د عیسی لپاره ومری؟ د دې پوښتنو سم او قانع کوونکی جوابونه د (کورنتیانو **۱۵ : ۵**) رساله کې په نوې عهد کې راغلی دی. "او وروسته (بیا را ژوندی شوی عیسی مسیح) ځان پطروس ته ښکاره کړ." یو بل او کره مثال دلته د یعقوب د عیسی د ورور (متی **۱۳ : ۵۵** او مرقوس **۶ : ۳**) دی چې پرته له دې چې زړه ئې وشی د عیسی مسیح د تعلیماتو او د ژوند حقایقو ته ئې میلان وکړ. که څه هم یعقوب د عیسی له دولسوو حواریونو څخه نه ؤ (متی **۱۰ : ۲ – ۴**) مګر وروسته د پولوس او برنباس (اعمال **۱۴ : ۱۴**) په څیر دی هم د رسول په توګه وپیژندل شو. (ګلتیانو ۱ : **۱۹**)

د عیسی په ژوند کې یعقوب خپل ورور عیسی د خدای د زوی په توګه ونه ما نه. (یوحنا **۷ : ۵**) کیدای شی سړی ووایی چې د عیسی وروڼو او خویندو حتی په ده یعنی عیسی باندې ملنډې هم وهلې. عیسی عجیبی دعوی کولی او ویل ئې چې "زه لاریم، زه حق یم او زه ژوندون یم. هیڅوک هم زما د وسیلی نه بغیر پلار ته نه شی راتلی." (یوحنا **۱۴ : ۲**) "زه د انګور بوټی یم او تاسو څانګې یی." (یوحنا **۱۵ : ۵**) "ښه شپون زه یم. زه خپلی ګډې پیژنم او ګډې ما پیژنی." (یوحنا ۱۰ : **۱۴**) د عیسی دا خبری یعقوب او د ده د کورنی شهرت لپاره د شرم نه ډکی بریښیدلی، که چیری ستا ورور همداسې یوه دعوا وکړي آیا تاسو به د دوی په شان همدا ډول احساس ونکړی؟

مګر یعقوب ته هم یو پیښه، پیښه شوه. د عیسی له مصلوب کیدو او ښخیدو وروسته، یعقوب په اورشلیم کې د موعظی په ترڅ کې د عیسی له انجیله وعظ کاوه، پیغام ئې دا ؤ چې: عیسی د ټولی دنیا د ګناهکارانو د ګناه لپاره مړ شو او بیا د مړو له منځه را ژوندی شو، او اوس هم ژوندی دی چې په دې کار سره یعقوب د اورشلیم د کلیسا له رهبرانو څخه شو. او په نوې عهد کې د یعقوب رساله د ده لیکنه ده. ده خپله لیکنه داسې پیل کړه: "دخدای او د مالک عیسی مسیح غلام د یعقوب له طرفه" دا جمله داسې راڅرګندوي چې یعقوب د خپل ورور عیسی په هکله څه ډول عقیده لري؟ او بالاخره په پای کې یعقوب د حنانیا لوی کاهن په وسیله سنګسار او شهید شو. (د جوزیفس تاریخ) آیا یعقوب غولیدلی ؤ؟ د دې پوښتنی جواب منفی دی او دلیل ئې په

نوې عهد کې د (کورنتيان ۱۵ : ۷) اوله رساله کې وينوو "وروسته له هغه يعقوب او بيا ټولو رسولانو (بيا راژوندی عيسی) وليد." که د عيسی بيا ژوندی کيدل محض دروغ وه، رسولان پرې پوهيدل، آيا ربنتيا رسولانو له دنيا سره دومره لوی چل کاوه؟ دا نامکنه ده، ځکه چې د دوی له عالی اخلاقی معياره سره سمون نه خوري دوی هر يوه شخصاً دروغ ويل محکومول ريښتنولی او صداقت ته ئې خلک هڅول. هغوی له خلکو نه غوښتنه کوله چې په حقيقت باندې ځان پوه کړي وتلی تاريخ پوه واردګيبن په خپل مشهور کتاب (د روم د امپراطوری د نابودی او زوال تاريخ) نومې کتاب کې د لومړی پيړی د مسيحيانو پاک او سپيڅلی اخلاقياتو د مسيحيت د پر مختګ له پنځو دلايلو څخه يو دليل بولي د ناتنيګهام د ښار د سنټ جان د پوهنتون مدير مايکل ګرين د خپلی رائی داسې څرګندونه کوی.

د بيا راژوندی کيدو عقيدی د يوه په دار ځړول شوي حاخام (د دينی پيشوا) پيروان په داسې په بهادری سره د شهادت مرګ ته حاضر وه او په لومړنۍ کليسا پالونکو شاهدانو ئې بدل کړل چې ساری ئې نه ليدل کيده. د مسيح د بيا راژوندی کيدو عقيدی د ده پيروان د نورو يهوديانو څخه بيل کړل، او د مسيح له مريدانو نه ئې يوه لويه ټولنه جوړه کړه، د عيسی پيروان زندان ته ولويدل، قمچينی ئې وخوړلي په دار باندې ځړيدل ئې ومنل. خو په دريمه ورځ د عيسی له بيا ژوندی کيدونه، منکر نه شول. (۱)

بالاخره د رسولانو زړوری منلې په دې هکله چې مسيح بيا ژوندی کيدل حقيقت لري دوی به دې معتقد کړل چې نشی کولای دروغ ووايی. يو په يو رسولانو جرئت پيدا کړ. پطروس رسول چې مخکې ئې له مسيح نه انکار کړی ؤ سره له دې چې په مرګ تهديد شوی ؤ، کلک ودريد او وئې ويل چې عيسی د مړو له منځه را جګ شوی او ژوندی دی.

مسئولو مقاماتو به د مسيح پيروان نيول. وهل او ټکول به ئې ورکول خو دوی له دومره تکليف سره سره بيا به هم ميدانونو ته راوتل او د عيسی په هکله به ئې وعظونه کول. (اعمال ۵: ۴ – ۴۲) د مسيح د رسولانو دوستان به د دوې بې پروايي ته کتل او دښمنانو به ئې د دوی جسارت ته. له دومره لانجو سره سره، دوی پټو ښاريو اوکلو او وتليو نامعلومو ځايونو ته پناه يو نه وړه بلکه اورشليم ته لاړل او هلته ئې د عيسی مسيح د زيری وعظونه کول.

د عيسی پيروانو پرته له دې چې د عيسی مسيح په بيا ژوندی کيدو باندې کلک ايمان ونلری نشوای کولای چې ځورولو او شکنجو ته غاړه کيږدي او مخامخ مرګ

ومنی. د دوی د غږ پیغام یووالی ډیر د تعجب وړ ؤ. د داسې یوې ډیرې لویې ډلې جوړیدل چې د یوه کار لپاره سره یو موټې شویوی ډیر لږ احتمال لري، مګر دلته دوی ټولو د عیسی مسیح د قبر څخه د قیام په حقیقت معتقد ؤ. نو که چیرې دوی غولوونکی یا فریبکاره وای، لږ تر لږه یو تن خو به تر دومره فشار او ځورونی لاندې خپل لوری ته تغیر ورکړی وای.

مشهور فرانسوی فیلسوف پاسکال لیکی: "دا تهمت چې د مسیح رسولان ظالم او لاس پوڅی مزدوران ؤ بیخی مزخرفه او غلطه ده، راځی چې دا اتهام د هغه تر معقولی او منل شوی نتیجی پورې وڅارو: فکر وکړی چې دوولس شاګردان مسیح له مرګ نه وروسته سره راټول شول څو داسې یوه آوازه واچوی چې عیسی مسیح بیا ژوندی شویدی. دا ډول ډنډوری به داسې معنی ورکړي چې دا په حکومت باندې او همدارنګه په نورو مذهبی ډلو باندې د یو ګذار مفهوم لری. خو د حقایقو په مقابل کې د انسان زړه زر نرمیږی او همدارنګه د سړی نظر د وعدو او نورو مادي وسوسو په وړاندې بدلون مومی. خو داسې رایه په یوه کې هم نه وه. که چیری یو تن له دوی نه د داسې غولوونکو وسوسو په وړاندې یا د جبر او ستم تر زور لاندې تسلیم شوی وای ټوله دوولس کسیزه ډله به ممکن ضعیفه او تسلیم شوې وه." (۲)

مایکل ګرین لیکی: "څنګه چې دوی تقریباً ټول په یوه سرسخت ګروپ باندې بدل شول چې په ډیر شوق او ذوق سره ئې زندان، شکنجی ملنډی او نور ضدیتونه په ځان منل چې د عیسی په دریو قارو کې د هغه د بیا را ژوندی کیدو او تعلیماتو په اړوند موعظی وکړی؟"

یو نوم ورکړی لیکوال هغه بدلونونه چې رسولانو ته په ژوند کې ورپیښ شوي وو داسې بیانوی: "دوی د عیسی د مصلو بیدو په ورځ ډیر خفه ؤو بیا دوه ورځی وروسته د یکشنبی په ورځ چې د عیسی د بیا ژوندې کیدو ورځ ده، ډیر خوشاله ؤ د صلیب بیخ ته خفه ناست ؤ. ناهیلی وو او د بیا ژوندی کیدو په ورځ بیا د دوی زړونه له هیلو او ډاډ نه ډک ؤ، کله چې په لومړی سر کې دوی د عیسی د بیا ژوندی کیدو خبره واوریده، چندانی باور ئې نه کاوه. باید چې بیرته په شا تللی مګر وروسته له هغه بیا هیڅکله ئې په دې برخه کې شک ونکړ، دا به کوم شی وی چې په دومره لنډه موده کې ئې دوی تر دې حده پوري بدل کړل؟ له قبره د عیسی د جسد را ایستل هم نشوای کولای چې دوی ته دومره مثبت بدلون ورکړي دری ورځې د هغې افسانی د جوړولو لپاره چې د دوې ژوند ته تغیر او بدلون ورکړی بس نه دی، د افسانی جوړولو کار پوره او په کافی اندازه وخت غواړی،

د رسولانو تغیر یو روانی حقیقت دی، چې پوره وضاحت ته اړتیا لري یوه شیبه د شاهدانو، نارینه او ښځو شخصیت ته پام وکړي د هغوی په هکله چې دنیا ته ئې لوړه اخلاقی زده کړه ورکړه فکر وکړئ. د دوی عالی شخصیت حتی د دوی د وخت او زمانی دښمنانو ته هم د منلو وړ ؤ. وګوری له روانی لحاظه څومره د نه منلو وړ خبره ده. هغوی بزدله چې تر پرونه پورې سره پټ په بالاخانه کې ناست ؤ او ډاریدل او څو ورځې وروسته بیا په دومره زوروری ډلې بدل شول چې د هیچا له آزاره ځورونی او شکنجی څخه ویره نه کوي او نه ئې چپ کولای شي که د دوی په جعل کارۍ او دسیسو باندې وغواړو وپوهیږ او وایو چې دوي غوښتل خپل ځانونه او دسیسی په جهانیانو تحمیل کړی او وئې منی. دا به څومره لوي بې معنی تهمت وي چې دوی بزدل شویدي."

کنت لاتورت په دې هکله لیکی : "د عیسی د بیا ژوندی کیدو مسئله او د روح القدس نازلیدل د دهٔ په شاګردانو باندې پوره اهمیت لري. دوی له نا امیدو سړیو او ښځو څخه چې پخوا ئې غوښتل عیسی اسرائیلو ته نجات ورکړي په سر سختو شاهدانو بدل شوی وو." (۴)

پال لیتل بیا دا پوښتنه مطرح کوي: "آیا دغه کسان (دمسیح شاګردان) چې د ټولني اخلاقی بنسټ ته ئې بدلون ورکړ ځنې له دوی نه دروغجن، ماهر، چالاکه او غولیدلی لیونی ؤ؟ د دوی په هکله داسې خبری کول، د قبلیدو او منلو وړنده، او د عیسی مسیح د بیا ژوندی کیدو له تصور نه هم ګران دی." (۵)

په عقایدو باندې د ده د رسولانو ټینګ پاتی کیدل حتی تر مرګه پورې د دوی دا ډول کلکوالی نشی کیدای چې په دنیوی استدلال باندې توضیح شي. د برطانوی انسائیکلوپیدیا د (دائره المعارف) له مخې اریجن د پطروس رسول د مرګ علت سر کښته پا دار ځړول بیان کړي دی.

هربرت ورکمن د پطروس مرګ داسې تشریح کوي: "نو پطروس هماغسی چې زمونږ خدای عیسی مسیح مخکې له مخکې ویلی وو، د ارلیان جادی نه د امپراطور نرون باغ ته نږدې سیمه کې دواتیکان د غونډی دپاسه، چیرته چې د دهٔ ډیر وروڼه له بیرحمانه مړینی نه ځوریدلی ؤ یووړل شو، د پطروس د غوښتنی له مخی سر چپه هماغسی چې هغه غوښتی ؤ هماغسی مصلوب شو، ځکه دهٔ خپل ځان د دې لایق نه ګڼلو د خپل استاد په شان دې دی هم مصلوب شی." (۲)

(هرولد متینګلی) د خپل تاریخ په کتاب کې داسي لیکی: "پطروس او پولوس رسولان دواړه د خپلې ګواهی ورکولو په سبب شهیدان شویدی." (**۷**)

تر تولیان په دې هکله لیکی : "هیڅوک نه غواړی چې دا ډول دې مړ شي پرته له هغه چا نه چې پوهیږی مرګ ئې د حقیقت لپاره دی." (**۸**)

د هارورد د حقوقو د پوهنتون استاد سایمن ګرین لیف چې کلونه ئې د دروغجنو شاهدانو د دروغ ویلو د اثبات په هکله خبرې کړیدی دې نتیجې ته رسیږی چې : "د نظامي جنګونو په تاریخ کې تر اوسه کوم قهرمان ندي لیدل شوی چې په صبر حوصله او پوره زړورتوب سره دې د عیسی مسیح د رسولانو په څیر وی.دوی ډیر دلایل درلودل چې د خپل ایمان اساس او بنیاد او د خپلو خبرو شواهد په دقیقه توګه یو ځل مطالعه کړي او بیا د هغه په هکله تجدید نظر وکړی (سره له دې چې دوی هیڅکله هم بیا تجدید نظر ونکړو." (**۹**)

رسولانو په خپلو بریالیتوبونو، د مرګ په آزمیښت کې دخپلو خبرو قانع کونکی د لایل ثابت کړل. زه کولای شم چې د دوی شهادتونه زیات د نړۍ د نورو معاصرو خلکو له شهادت سره (چې هیڅکله نه غواړی د خپلې عقیدی لپاره مړه شی) ومنم او باور پرې وکړم.

# شپږم فصل

## د مړ مسیح نه څه ګټه لاس ته راځی؟

ډیر کسان د خپل عالی اهدافو لپاره مړه شویدی لکه د کالیفورنیا د ایالت د (سن دیګو) په ښار کې د یوه محصل مړینه او همدارنګه په ویتنام کې ډیرو بودایانو خپل ځانونه په اور کې په دې خاطر وسیځل چې د جنوب ختیځی آسیا په سیمه کې د جګړې اور مړ کړي.

او د مسیح د رسولانو مسئله داسې وه چې د هغو عالی اهداف په صلیب کې برباد شول هغوی په دې عقیده ؤ چې عیسی هماغه موعود مسیح دی. دوی فکر نه کاوه چې هغه به مری همدارنګه دوی ډاډه ؤ چې عیسی هغه څوک دی چې د خدای پادشاهی به تاسیس او د اسرائیلو په قوم به حکومت کوي.

له مسیح سره د رسولانو د رابطی د درک مسئله او دا چې څنګه په صلیب باندې د هغه د مړه کیدو تحمل دوی ته ګران ؤ دا هغه مسایل دي چې د پوهیدو لپاره ئې باید د عیسی د دوری د خلکو فکری څرنګوالی و موعود مسیح په هکله وڅیړل شی. ځکه چې د عیسی تعلیماتو او ژوند له هغه څه نه چې یهودیانو دمسیح موعود څخه انتظار درلود ډیر توپیر درلود، یهودیانو داسې فکر کاوه چې موعود مسیح به له خپل راتګ سره لکه یو لوی سیاسی لاربنود، کامیابه او د یوه بادشاه په څیر به حکومت او بادشاهی وکړي. دوی غوښتل چې موعود مسیح به دوی د رومیانو له اسارته څخه وژغوري او یو مستقل اسرائیلی حکومت تاسیس کړي. هسی مسیح چې د خلکو د ګناه پیټی ته اوږه ورکړه او ځان ئې د دار څوکې ته پورته کړ یهودیان ورسره نا اشنا وه. (۱)

ای. ایف. رسکات د مسیحی دورې د خلکو فکری طرز داسې بیانوي "دې وخت کې خلکو په یوه هیجانی حالت کې ژوند کاوه. یهودي دینی رهبرانو دا توان نه درلود چې د خلکو لمبی مړې او هغو خلکو د انتظار مخه ونیسی چې موعود ژغورونکی ته سترګی په لاره وو، واضح خبره ده چې وروستیو تاریخی پیښو د خلکو د مینې اور ته لا هم پکې واهه له یوه نسله څخه زیات رومیانو د یهودیانو آزادی محدودی کړې وی چې د همدغو محدودیتونو له کبله په یهودو کې د وطن پالنی روحیه نوره هم راوپاریدله او داسې یوه هیله چې د معجزی په بڼه دوی ته نجات ورکړي په دوی کې قوت پیدا کاوه او په عین

حال کې دا کومه نوې خبره نه ده ځکه د انجیل له شواهدو څخه څرګندیږی چې خلکو د یوې زیاتی مودې لپاره د موعود مسیح ظهور ته سترګی نیولی وې خلکو داسې یوه مسیح ته انتظار ویسته څرنګه چې اشعیاه نبې وعده کړې وه، د داود له نسله به داسې ژغورونکې چې د بریالیتوب او نیکمرغی سباون دوی ته ور په برخه کړي پیدا شي. نو ځکه خو دوی یعنی یهودیانو له مسیح نه دا توقع درلوده چې له هر څه مخکې باید چې د دوی زعیم یو سیاسی او ملې لاربنود وي." (۲)

(جوزف کلاسټر) د یهودو د دین عالم لیکې: "موعود مسیح ورو ورو نه یوازی دیوه سیاسی رهبر په توګه ورته فکر کیده بلکه د یوه لوړ عالی اخلاقی شخصیت په توګه ورته هم خلک سترګی په لاره وو." (۳)

(جیکیب ګارتن هوس) د عیسی مسیح د دوری د یهودیانو په هکله لیکی: "یهودیان د هسی موعود مسیح لپاره سترګی په لاره وو، چې دوی درومیانو د ظلم له منګولو نه وژغوري، نو د دې مسیح اصلی دندې ملې ژغورنه وه." (۴)

د یهودو د دین دائره المعارف لیکی: "یهود ژغورونکی موعود ته خوشحاله وه چې د داود قوم د کرکجنو بهرنیانو له منګولو نه چې په اوچ زور ئې حکومت کاوه خلاص کړی او د رومیانو د سلطنت فاسد حکومت ته خاتمه ورکړي او د سولی او عدالت د حکومت په رامنځ ته کیدو سره د هغه ځای ډک کړی." (۵)

په هغه وخت کې یهودیانو د رومیانو د جبر او ستم د لاسه موعود مسیح ته پناه وړله. د مسیح موعود یا راتلونکی ژغورونکی شهنشاه په باره کې د عیسی مسیح د رسولانو مفکوری هم د دې خلکو مفکورو ته ورته وي لکه څنګه چې (میلار بروز) د خپل نظر په څرګندولو سره وائی: "عیسی هومره د موعود مسیح په هکله د یهودیانو له اعتقاداتو سره چې د داود له نسله ؤ توپیر درلود چې حتی د عیسی شاګردانو هم نشوای کولای هغه باندې موعود مسیح خیال وکړي." (۲)

هغه له تاثیره ډکی خبرې چې عیسی د خپل مصلوبیدو په هکله له خپلو شاګردانو سره مطرح کولی د هغوی لپاره د منلو وړ نه ؤ. (لوقا انجیل ۹: ۲۲) د ای. بی. بروس له قوله "شاګردانو داسې انګرله چې د دهٔ خبرې یعنی د عیسی خبری به له بد بینی څخه وي او د دهٔ اندیښنی به حقیقت ونه مومی... ځکه هغوی ته یو مصلوب شوی مسیح ننګ اوره ښکاریده او هغه تصور چې دوی له مسیح نه درلود له هغه سره نه جوړیده. دا ډول فکری

طرز حتی د مرگ نه وروسته د عیسی مسیح خدای بیا ژوندون او په جنت کې د هغه او د هغه د خواصو شخصیتونو د مرتبې څرنګوالی د یهودو په منځ کې ډېر مشهور وه." (۷)

د کمبریج په پوهنتون کې د تورات د یونانی ترجمې استاد آلفر اور شالیم، داسې نتیجه تر لاسه کوي چې: "د عیسی د دوری د اوسیدونکو عقایدو د عیسی له صفاتو سره حتی ډېر لږ ورته والی هم نه درلوده." (۸)

په نوې عهد کې کیدای شی سړی د مسیح د شاګردانو فکری څرنګوالی یعنی طرز تفکر وګوری، هغوی د داسې مسیح لپاره سترګی په لاره ؤ چې راشی د سلطنت په تخت کښینی. وروسته له دې عیسی خپلو شاګردانو ته وویل چې دی باید اورشلیم ته لاړ شي، او هلته تکلیف وګالی، یعقوب او یوحنا له دۀ نه وغوښتل چې ورسره وعده وکړي چې د دۀ په پادشاهی کې دې دوی دواړه د ده کیڼ او ښی خوا ته کښینی. (مرقوس انجیل ۱۰ : ۳۲ – ۳۸)

دې شاګردانو د موعود مسیح په هکله څه تصورات درلودل؟

آیا د داسې یوه مسیح په انتظار ؤ چې مصلوب کړی شی؟ نه. دوی غوښتل چې مسیح دې یو سیاسی لاربنود شي. او په خلکو دې حکومت وکړي. عیسی هغوی ته توضیح او بیان کړه چې دوی د دۀ په هکله سم تصور نه کاوه او په دې پوهیدل هغه څه چې دوی غوارړی هغه د عیسی مسیح له ماموریته سره توپیر درلود. کله چې عیسی مسیح د خپل تکلیف او آزار او رنځ او دار ته د ځړیدلو په هکله خبرداری ورکړ نو د دۀ شاګردان د ده په مقصد ونه پوهیدل. او د ده خبره ئې د یوې معما په توګه وګڼله. (د لوقا انجیل ۱۸ : ۳۱ – ۳۴)

د خپل دین د تعلقاتو او همدارنګه د فرهنګی امکاناتو له کبله دوی ډېرو لوړو غوښتنو ته هیله مند ؤ، خو نابېره ګوری چې د ګلګتا د غونډۍ د پاسه له مصلوب عیسی سره مخ شول نور نو د دوی ټولی هیلی د موعود مسیح لپاره له خاورو سره خاوری شوې، نا امیده خپلو کورنو ته ستا نه شول، او له ځانونو سره ئې داسې فکر کاوه، چې څنګه څو کاله فضول او بې ګټی تیر شول.

(ډاکټر جرج الدن) د (فولر) د الهیاتو په پوهنځی کې د نوی عهد د تدریس استاد لیکی : "د عیسی مسیح د شاګردانو د هغه د ګرفتارۍ په وخت د تیښتی یو علت همدا وه د مسیح د شاګردانو په ذهن کې یو بل ډول تصور ؤ. هسی مسیح ئې غوښته چې د دوی

دښمنانو ته به ماتې ورکوي او په ټولو به حکومت کوي. کله چې شاګردانو په خپلو سترګو ولیدل چې د هرې ضربې په واردولو سره له عیسی نه وینې ځاځي، ورپسې عیسی د پیلاطوس اسیر شو او په پای کې ئې هغه د ګلګتا غونډۍ ته وخیژاوه، او د یوه جنایتکاره په شان په لرګو پورې میخ کړ (او مصلوب شو). د دوی ټولې هیلې چې دی به هماغه تر ټولو قوی او زوړ موعود مسیح وي. دا یو روانی حقیقت دی چې مونږ هغه څه چې غواړو هغه اورو، شاګردانو د عیسی مسیح ټولی پیشګویی ګانی غیر متوقع او نه لیدونکی ګڼلې. د عیسی له ټولو خبرتیاوو سره سره چې دوی ته به ئې ورکولې، دوی د دا ډول پیښو د زغملو او منلو لپاره هیڅ تیاري نه درلودی." (۹)

د عیسی تر مصلوبیدو وروسته څو هفتې د دهٔ شاګردانو د خپلو پخوانیو تردیدونو او شکونو پرخلاف په اورشلیم کې را ټول شوی وو، او عیسی ئې د ژغورونکې خدای او د یهودیانو د مسیح په توګه اعلان کړ د دهٔ د شاګردانو د دې ډول بدلون یوائینې دلیل څنګه چې په نوې عهد کې د (اول کورنتیانو په ۵ : ۵) کې راغلې چې "... (بیا را ژوندی شوی عیسی) خپل ځان ... دولسو حواریانو ته څرګند کړ." بله خبره څه وه چې د شاګردانو خفګان یوې خوا ته کړي او هغوی ته دا جرئت ورکړي چې د مسیح زیری د مرګ ډیرو تهدیدونو په کیدلو سره سره اعلام کړي او ورپسې د خپل مصلوب شوی مسیح لپاره دوی هم تکلیفونه ووینی هسې نه چې بیا وروسته سره مړه شي؟ یقیناً چې عیسی په ډیرو دلایلو سره ځان خپلو دغو افرادو ته ژوندی وښود. "او پوره څلویښت ورځې هغه په هغوی پیښیدو او هغوی ته ئې د خدای د بادشاهئ په هکله تعلیم ورکاوه." (اعمال ۱ : ۳)

ډیرو خلکو د همداسې عالی اهدافو لپاره ځانونه قربان کړل خو د عیسی د رسولانو عالی هدف په دار وځړیده او په صلیب مړه شول.

یوائې د عیسی مسیح بیا را ژوندی کیدل. او له رسولانو سره د دهٔ لیدنه کتنه دوی دې ته اړ کړل چې عیسی هماغه موعود مسیح دی چې دوی ورته منتظر وه. د عیسی شاګردان په دې ټکی چې دی یعنی عیسی موعود مسیح دی شفا وی وموندې او د دهٔ په ژوندی کیدو ئې شهادتونه ورکړل حتی په دار سره مړه شول.

# اووم فصل

# اوریدلی مو دی چه ساؤل ته څه پیښ شول؟

کله چې یو زما له ملګرو نه چې جک نومیده غوښتل ئې په پوهنتون کې خبری وکړي خبر شو چې محصلانو له دۀ سره د بحث او خبرو اترو دپاره یوه موضوع تیاره کړیده چې دی د فلسفی له یوه استاد سره پرې مباحثه وکړی هسی استاد سره چې هغه د مسیحیت په ضد او له خدایه منکر ؤ. زما ملګری د خدای د بیا ژوندی کیدو د اثبات لپاره دلایل وړاندې کړل او بیا د یهودو له دینه څخه د شائول د اوښتل او بیا ئې په مسیح باندې د خپل شخصی ایمان د لرلو په اړوند او دا چې څنګه عیسی ده کې دا بدلون راوستی ؤ اوریدونکو پوره خبری وکړي. کله چې د پوهنتون استاد ته نوبت ورسید هغه ډیر غوصه و. او په دې نشو بریالی چې د عیسی د بیا ژوندی کیدو او یا زما ملګری جک د ژوند د تغیر د لایلو ته جواب ووائي د ردولو ثبوت وړاندې کړي، نو د شائول د ژوند د تغیر په هکله (د اعمالو په کتاب کې ۷ – ۹ فصلونو ته مراجعه وکړي) نو بیا ئې داسې وویل: "خلک د مبارزی او همدارانګه د یوې عقیدی د ضدیت په وخت کې له اروایی پلوه دومره د غو مسایلو ته ورلویږی چې بالاخره دې ته مجبوریږی چې هماغه عقیده ومنی او ایمان پرې راوړي." د دې خبرې له اوریدو سره زما ملګری ته خندا ورغله او ورته ویی ویل : "نو ګرانه ښاغلیه پام کوی چې تاسو په خپله مسیحی نشی."

له ډیرو مؤثرو او اثر منو شهادتونو څخه د مسیحیت په اړوند یو شهادت داسې موقعت وخت شخصیت پورې تړلی دی لکه شائول طرسوسی چې لومړی د مسیحیت دښمن ؤ، او په مسیح باندې تر ایمان راوړلو وروسته ئې په ژوند کې پوره بدلون راغی هسی چې د عیسی مسیح له رسولانو نه یو رسول ؤ چې بیا د پولس رسول په نامه ئې شهرت پیدا کړ. شائول یو غیرتمن یهودي او د یهودانو له وتلیو لارښودونکو څخه ؤ. هغه ته ځکه طرسوسی وایی چې د طرسوس په ښار کې وزیږید او هلته ئې د خپل وخت د علومو تر څنګ د یهودی دین عالی زده کړی او پوره تعلیمات ترلاسه کړی. د طرسوس په ښار کې یو مشهور پوهنتون وجود درلوده چې د رواقینو د فکر د متب په حیث د هغوی فلسفه، کلتور ځان ژغورنه او پرهیزګاری ته پکې ډیر اهمیت او مرکزیت ورکړ شوی وه د جغرافیا یو مشهور عالم د طرسوس د ښار د ښکلا په هکله ډیر مطالب لیکلی دي. او هغه ئې د اوچتو فلسفو او عالي تعلیماتو کلتوری ښار بللی. او له همدې کبله ئې ډیر زیات ستایلی. (۱)

پولوس هم د پلار په شان د روم ښار له اوسیدونکو څخه ؤ چې هغه وخت ئې ډیر امتیاز او اهمیت درلوده، دی له یونانی فرهنګ او تفکر سره پوره آشنا ؤ همدارنګه دی په یونانی ژبی هم پوره لاس بری وه او په بار بار د مناظرو او مباحثو تر خوا خپله پوهه او لیاقت څرګند کړي دی. او په کراتو ئې په ځنو مباحثو کې خپله وړتیا ښودلی ده. هغه دا کله هم د ځنو هغو شاعرانو او فلاسفه خبرو ته د بحث د اثبات په منظوره اشاره کوله چې د دومره زیات شهرت خاوندان هم نه ؤ. مثلاً په نوي عهد (اعمال ۷: ۲۸) کې د پولوس له قوله لیکلی شوي: "ځکه چې په هغه کې ژوند کوو او په هغه کې حرکت او استوګنه لرو." (اپیمنندس) څنګه ستاسو خپله ځنو شاعرانو ویلی: "مونږ هم د هغه زامن یو" (آراتوس، کلینتس) یا د (کورنتیانو لومړی رساله ۱۵: ۳۳) کې پولوس لیکی: "غولیږی به نه ، بداخلاقه دوستان د ښو خلکو په ښو اخلاقو باندې بده اغیزه کوي" (منانذر). او په (تیطوس ۱: ۱۲) کې لیکلی دي "یو له کریتی پیغمبرانو څخه یو څوک چې د هغوی له خپلو څخه ؤ وویل :"د کریت اوسیدونکی تل دروغجن او مردارو حیواناتو په څیر ډیر خواره او تنبل دي (اپیمنندس)." ګوری چې څنګه پولوس په پوره پوهی او مهارت سره د هغه وخت له شاعرانو او فلاسفه ؤ څخه په خپلو خبرو کې استفاده کوله.

د پولوس تحصیلات د یهودو په دین کې ډیر په عالي سطحه وه او د فریسیانو د دقیقی عقیدی په بنیاد ولاړ وه. په ځلوارلس کلنی کې د غمالائیل په درسګاه کې د وخت لوی خاخام څخه چې د هلیل نوسی وه دینی تعلیم واخیست. پولوس د خپل ځان په هکله لیکلی وه چې دی نه یوازی پخپله یو فریسی وه بلکه د فریسی زوی هم وه. (اعمال ۲۲ : ۲)

پولوس په فخر سره ویل: "په دین او د دینی امورو او فرمانونو په رعایتولو کې د ټولو همزولو یهودو څخه په سر کې ووم. او په تعلیمی دوره کې ډیر زیات د مافوقو سره په ضد او تعصب کې ووم." (ګلتیان ۱: ۴۱)

که چیرې څوک وغواړی د پولوس د ژوند په بدلون پوه شي باید چې ورته دا هم معلومه وي چې ولې هغه د مسیحیانو سره دومره سخته دشمنی لرله؟ د دې دښمنۍ سبب د یهودو په شریعت د پولوس کامل ایمان وه چې له همدې کبله د ده نا آرامی والي د عیسی مسیح او کلیسا په لومړیو کې ستر محرک وه. د (ژاک دویانت) د لیکنی په مطابق "د شائول یعنی پولوس نا آرامی د مسیحیت په ارتباط د عیسی د مسیح په صفت منلو څخه نه وه. بلکه هغه د عیسی د ژغورونکی په صفت منلو کې نا قراره وه کوم چې د

يهودي شريعت په زيرمو کې ليکل شوي وه. شائول د مسيحيت سره پدې اساس خلاف وه چې هغه يهوديت د نجات يوازينی لار ګڼله."(۲)

د بريتانيکا انسائکلوپيديا "دائره المعارف" زياتوی چې مسيحيت د شائول "پولوس" د يهودي عقيدی په زړه حمله او غورزنګ کاوه." (۳)

چې له همدې وجې نه د شائول اساسی وظيفه د مسيحيی فرقی نابودي وګرځيده. (ګلتيان ۱: ۱۲)

شائول به د مسيحی فرقی د غړو پسي او د هغوی د مرګ تر حده پورې پلټنه کوله. (اعمال ۲۲ : ۹ – ۱۱) د هغې حقيقی هدف د کليسا تهداب نړول وه او تر ډيره حده پورې په دې کار کې قدرت او موفقيت درلوده. (اعمال ۸: ۲۰) هغه د دې غرض لاس ته راوړلو لپاره دمشق ته د تګ عزم وکړ خو د عيسی د پيروانو د نيولو لپاره لازم تدبيرونه غوره کړي او هغوی اورشليم ته د محاکمې لپاره بيرته راولی. څو محاکمه شي. په همدې وخت کې شائول "پولوس" ته يوه عجيبه پيښه مخ ته راغله. شائول د عيسی مسيح د پيروانو د وژلو زورولو، او تهديدولو څخه د دمشق د کليسا لپاره د معرفت خطونو او تعارفونو، غوښتنه وکړي. او بيا هغه ښځه او يا نارينه پيدا کړي چې د اهل طريقت پورې تړلي وي وئې نيسی او بنديان ئې اورشليم ته د محاکمی لپاره راولي.

خو شائول لا دمشق ته نه ؤ رسيدلی چې ناڅاپه يو نور له آسمان څخه په هغه باندې وځليده او بيا سائول په ځمکې باندې راپريوته او داسې غږ ئې واوريدلو چې ويل يې :"سائوله سائوله ولې له ماسره جفا کوی؟" سائول پوښتنه وکړه : "ای خدايه! ته څوک يې؟" د نور څخه ئې جواب واوريد: "زه عيسی يم. هغه څوک چې ته غواړی جفا ورسره وکړي. خو پاڅه او ښار ته لاړ شه او هلته به تا ته وويل شی چې ته څه بايد وکړي. دا وخت له شائول سره تللی او راغلی کسان خاموش شول او په خپلو ځايونو ودريدل دوی غږ واوريد خو څوک ئې په سترګو ونه ليد. په دې وخت کې شائول له ځمکې نه پورته شو په داسې حال کې چې سترګی ئې خلاصی وياو په سترګو ئې څه نه ليدل. له لاسه ونيول شو او د دمشق په لور ئې وخوځاوه. هلته درې ورځی په سترګو ړوند پاتی شو هيڅ شی ئې نه ليدل چې ناست ؤ نه ئې څه شی وڅښل او نه ئې څه وخوړل.

"په دمشق کې یو د عیسی منونکی سړی وو چې نوم ئې حننیاه وو هغه رویا ولیده او د مالک دا آواز ئې واوریدو چې ویل ئې "ای حننیاه!" هغه جواب ورکړو چې "مالکه! زه حاضر یم." مالک هغه ته وویل چې "سمد ستی هغه کوڅی ته لاړ شه چې ورته نیغه ویلی شی او د یهودا کره ورشه او ترسوس نه یو سړی راغلی چې ساول ئې نوم دی، تپوس ئې وکړه. ته به هغه په دعا ووینی."هغه رویا ولیده چې د حننیاه نوم سړی دننه راځی او په هغه خپل لاس کیږدی او نظر ئې وشی." (اعمال ۹: ۱ – ۱۲)

راځی وګورو چې ولې مسیحیان له پولوس څخه ډاریدل.

خو حننیاه جواب ورکړ چې "مالکه! ما ډیر ځله د دې سړی په هکله آوریدلی دي او کومې بدئ چې دهٔ ستا د منونکو سره په بیت المقدس کې کړی دي، د هغې نه هم خبر یم. او هغه له مشر کاهن نه د دې اختیار سره دلته راغلی دی چې هغه ټول خلک ګرفتار کړی څوک چې ستا نوم یادوی."

خو مالک هغه ته وویل چې "ضرور لاړ شه ځکه چې دا سړی مې د خپل خدمت دپاره غوره کړی دی څوک چې به غیرو قومونو او د هغو بادشاهانو او اسرائیلیانو ته زما نوم څرګندوی. زه به په خپله هغه ته هغه څه وښیم چې هغه ته به زما د خاطره څومره زغمل وی."

نو په دې حننیاه روان شو او هغه کور ته ورغلو او په ساول ئې خپل لاسونه کیښول او وئې ویل چې "زما وروره ساوله! مالک عیسی چې په تا په لارې پیښ شوی وو، هغه زهٔ تا ته په دې غرض را استولی یم چې ستا نظر بیا وشی او ته په روح القدس معمور شی." او سمدستی هغه ته داسې معلومیده لکه چې د هغه د سترګو نه پوټکی لری شول او هغه بیا نظر وموندلو. هغه بیا پاځیدو او بپتسمه ئې واخسته. او د هغې نه پس هغه ډوډئ وخوړه او په وجود کې ئې طاقت پیدا شو. (اعمال ۹: ۱۳ – ۱۹) پولوس وویل : "آیا ما زمونږ مالک عیسی مسیح نه دی لیدلی څه؟" (اول کورنتیان ۹: ۱) او پولوس د ځان په نسبت د عیسی ظهور او د دهٔ ظهور له بیا ژوندی کیدو وروسته رسولانو ته مقایسه کړ؟ "او آخر ئې ټول خپل ځان ما ته را وښود." (اول کورنتیان ۱۵ :۸)

نه یوازې پولوس عیسی ولید بلکه هغه ئې د یوه نه مقاومت کوونکی په بڼی سره ولید، پولوس د مسیح انجیل په خپل اختیار سره اعلام نکړ، مګر د الزام له مخی. "که زه

زيرى آوروم نو په دې څه فخر نه کوم ځکه چې دا خو زما فرض دى. بلکه افسوس دى په ما، که زه زيرى وانه وروم!" (اول کورنتيان ۹ : ۱۲)

تاسى وګورى له عيسى سره د پولوس مخامخ کيدل او د پولوس په ژوند کې ټول تغيرات په نابيره توګه او غير ارادى تغيرات پيښ شول.

"ناڅاپى له آسمان نه يوه لويه شغله له ما نه ګير چاپيره وځليده." (اعمال ۲۲ : ۲) پولوس اول نه پوهيده چې دا له ده سره مخامخ کيدونکى آسمانى شخص څوک دى، کله چې پوه شو له ناصرى عيسى سره خبرى کوي ولړزيده او تعجب کې ډوب شو.

مونږ هغه تاريخى جزئيات، او روانى حالات چې د دمشق په لاره کې پولوس ورسره مخ شو نه شو بيانولى خو دومره ويلى شو چې دغى پيښى د ده په ژوند کې ډير لوى بدلون پيدا کړ.

لومړى دا چې د پولوس په ژوند کې ډير بدلون راغلى ؤ او هغه بيخى تغير کړى ؤ، د بريتانيکا دائره المعارف پولوس د دمشق د لارې له پيښې نه وړاندې يو مذهبى متعصب، مردم آزاره تند مزاجه، مغرور، متلون طبيعته ... تصويروى. همدغه منبع د ده د ژوند تر بدلانه وروسته برخلاف پولوس يو ډير باشخصيته، مهربانه، فداکار، او باحوصله سړى تصوير وى." (۴) کنت لاتورت وايى : "هغه څه چې د پولوس ژوند ښه کړ او د دهٔ نا متعادله اخلاق ئې د يوه متنفذه شخص په اخلاقو بدل کړ، يوه ژوره انقلابى او يوه زړه پورې تجربه وه." (۵)

دوهم پولوس د عيسى مسيح له لارويو سره په يو بل ډول حالت کې ؤ. "سائول څه موده د دمشق په کليساګانو کې له ايماندارانو سره پاتى شو." (اعمال ۹ : ۱۹)

او کله چې پولوس د مسيح رسولانو ته ورغى هغوى د ورور په شان غيږه ورته پرانيسته.

دريم د پولوس پيغام بيخى تغير وکړ، سره له دې چې يهودى ميراث ورته ګرانښت لاره. دى له يوه ډيرې سختى دښمنى نه د مسيح په وړاندې په يوه تکړه دوست بدل شوى ؤ. "څه موده لا نه وه تيره چې په دمشق کې په ښکاره ډول اعلام شو چې عيسى د خداى زوى دى." (اعمال ۹ : ۲۰) نور نو د پولوس په فکر کې ډير بدلون راغلى ؤ، د دمشق د لارى تجربه دى مجبوراوه چې د موعود مسيح په هکله د فريسيانو د عقايدو خلاف

ودریږی او عیسی د مسیح په توګه ومنی له مسیح نه د دۀ نوې فکر او تصور د دۀ د فکری انقلاب څرګند وونکی وه. (۲) ژاک دوپانت اشاره کوي چي پولوس وروسته له هغه چې "په پریکونبی توګه د مصلوب عیسی مسیح والی تکذیب کړی و په خپلو ټولو افکارو باندې نوې کتنه کړې وه چې په دې توګه ئي بیا عیسی د موعود مسیح په توګه منلی ؤ." (۷)

همدارنګه پولوس اوس پوهیده چې د مسیح عیسی مصلوب مرګ چې په ظاهره توګه د خدای لعنت او د زړه بګنونکی ژوند د پای ټکی ؤ. په حقیقت کې د خدایه سره د بنی آدم د سولی لاره وه. پولوس اوس پوهیده چې د عیسی مسیح مصلوبیدل د بشر د ګناهونو په خاطر ؤ. (ګلتیان ۳: ۱۳) "او خدای هغه زمونږ دپاره بې ګناه ونه پیژانده." (دویم کورنتیان ۵ : ۲۱) د ماتی په ځای په حقیقت کې د عیسی مرګ د یوه لوی بریالیتوب نښه وه چې د دۀ په بیا ژوندی کیدو سره تر لاسه شوه.

بیا نو اوس د پولوس دپاره په دار باندې د عیسی مسیح ځړیدل، او مرګ څه غیر قابل قبول موضوع نه وه. بلکه هغه ئې د بشریت د ژغورنی دپاره یوه لازمی او یواځینی لار ګڼله. د پولوس د پیغامونو لنډیز کیداشی په دې ډول وړاندې کړو: "لازمه وه چې مسیح ځورونه ووینی، بیا له مرګه وروسته ژوندی شي ... هغه عیسی چې زه ئې تاسو ته اعلاموم هماغه مسیح دی." (اعمال ۱۷ : ۳)

څلورم د پولوس ماموریت واوښتل او بل ډول شو. هغه چې مخکې له غیر یهودیانو نه کرکه درلوده، اوس ئې د عیسی مسیح د زیری د اعلام مسوؤلیت ته ځان جوګه کړی ؤ. هغه مخکې یو متعصب یهودي ؤ، او غیر یهودیانو د ژغورنی زیری ورکوونکی و. پخوا به ئې غیر یهودیانو ته د یوه یهودی او فریسی په سترګو نه کتل، بلکه هغوی ته ئې په دې سترګه کتل چې دوی د خدای د منل شوی قوم یعنی یهودو څخه ټیټ دي او هغوی به ئې خوار ګڼل، مګر دمشق د لاری تجربی دی په یوه داسې رسول بدل کړ چې په تمامه معنی د غیر یهودیانو خدمت ته لاس په نامه ؤ. پولوس اوس پوهیده چې هغه مسیح چې دۀ ته ئې ځان څرګند کړ د ټولی دنیا د قومونو ژغورونکی دی. پولوس له یوه فریسی معتقده څخه چې ماموریت ئې د یهودیت خدمت ته وقف ؤ د مسیحیت د لارې یوه تکړه مبلغ ترینه جوړ شوی ؤ. د پولوس عقاید او شخصیت هسی بدل شوی ؤ، "چې هر چا به چې د هغه خبری اوریدلی تعجب به ئې کاوه، او ویل به ئې چې دا هماغه څوک نه دی چې په اورشلیم کې به چا د عیسی نوم واخیست و به یې واژه؟ آیا دلته د دۀ راتګ د دې لپاره نه دی چې دوی ونیسی او کاهنانو ته ئې وسپاری؟" (اعمال ۹: ۲۱)

فليپ شف تاريخ پوه ليکی: "د پولوس تغير نه يوازی د دۀ په ژوندکې د يوه توپير پيل دی بلکه د رسولی کليسا ؤ د مهمی تاريخی دوری پيل هم او په نتيجه کې د بشريت په تاريخ کې يو نوې باب دی، د پنطيکاست د ورځی د معجزی له تاريخه دا ډيره ګټوره پيښه وه، او د مسيحيت نړيوال بريالیتوب ئې تامين کړ." (٧)

د هوستون له پوهنځی نه د کتلو په ځينو شيبوکې مې د مسيحيت د زده کړې له يوه محصله سره خبری کولی، هغه وويل چې د مسيحيت او خپله مسيح لپاره هيڅ داسې کوم تاريخی شواهد نشته دی. د تاريخ د څانګی محصل ؤ، او يو کتاب مې هم ورسره وليد چې د روم د امپراطوری د تاريخ په هکله وُ. کله مې چې د دۀ د کتاب د محتوا له مخې د مسيحيت په هکله پوښتنه ورنه وکړه. ويې منله چې د دۀ په کتاب کې د پولوس رسول او د مسيحيت په هکله پوره فصل شته دی. د دې فصل له مطالعی نه دغه محصل وويل چې ډيره ورته حيرانونکی ده چې د سائول ترسوسی په نامه سره همدغه فصل هم شروع شوی او بيا پولوس رسول د ژوندانه په شرحی سره پای ته رسيږی. د فصل په وروستی بند کې ليکل شوي وو. دا خبره چې کومې پيښی سائول په پولوس بدل کړی ؤ دا روښانه، نه ده. ما په نوې عهد کې د رسولانو کتابونه دغو محصلينو ته وښودل او روښانه مې کړه چې څنګه عيسی مسيح وروسته تر بيا ژوندی کيدو د پولوس د بدليدو څرګنده او د منلو وړ دليل ګڼل کيږی چې بالاخره همدغه محصل په پای کې مسيح عيسی د خپل ژغورونکی په توګه ومانه.

الياس اندروز څرګندوی چې "ډير خلک په اساسی توګه د دې اصولی او بنسټپاله فريسی يعنی سائول په پولوس د بدلون او د هغه قانع کوونکی دليل د هغه دينی قدرت او حقيقت لپاره چې غوره کړی ئې وه د لوړ مقام خاوند شخصيت د عيسی مسيح ذات بولي." (٨) د پولوس د کارونو او بريالیتوبونو په وړاندې د لوی اسکندر او ناپليون کارونه ډير واړه ښکاريږی." (٩) کلمت وايی: "پولوس اوه ځلی په ځنځير وتړل شو، خو ده د عيسی د انجيل وعظ په شرق او غرب کې وکړ او د مسيح پيغام ئې د غرب تر اخری کنارو پورې ورساوه او د هماغه ځمکې د حکمرانانو له لاسه ئې د شهادت جام وڅښه." (١٠)

پولوس په څو څو ځلو ويلی چې څنګه بيا ژوندې شوی او ژوندی عيسی د هغه ژوند ته بدلون ورکړ، هغه د عيسی په بيا ژوندی کيدنی او د مړو د منځ نه په راپورته کيدو پوره عقيده درلوده چې دی له همدغې کلکی عقيدی په دفاع کې شهيد کړای شو.

د اکسفورډ د پوهنتون دووتنو نومياليو وتلو استادانو، (گيلبرت وست) او (لر دليتلتون) غوښتل چې د مسيحی ايمان ريښه له بيخه را وباسی او ورکه ئې کړي.

ويست غوښتل ثابته کړي چې عيسی له مړو نه ژوندی شوی نه دی، او (لر دليتلتون) غوښتل ثابته کړي چې طرسوسی سائول هيڅکله هم مسيح نه دی منلی. وروسته تر يو شمير تحقيقاتو او څيړنو دوی دې نتيجې ته ورسيدل چې دواړه د هغه څه په هکله چې د دوی د تصور خلاف ؤ حقيقت پيدا کړی. او دواړه د عيسی په زړه پورې او مينو پيروانو څخه شول، لر دليتلتون ليکی: "د پولوس د دين تغير او د خدای رسول کيدل په يوازنی توگه دا ثابتوی چې مسيحيت له خدا يه بشر ته يو کشف شوی دی." (١١) دی داسې نتيجه تر لاسه کوی چې که چيرې ٢٥ کاله د پولوس زحمت او خدمت د مسيح لپاره حقيقت لري نو د ده د دين تغير په مسيحيت باندې هم واقعيت لري. ځکه هر څه چې پولوس د مسيح لپاره وکړل. له هغه سره نابېره بدلون د شروع کيدو څخه رامنځ ته شو او که د پولوس د مذهب تغير حقيقت درلود، نو د عيسی مسيح بيا ژوندی کيدل هم يو واقعيت دی، ځکه هرڅه چې پولوس وکړل هغه ته ئې د بيا ژوندی شوی عيسی پيښی ته نسبت ورکړ.

# اتم فصل

## ولې نشي کيدائ چې عيسی مسيح دی هير کړی شی؟

په جنوبی امريکا کې د اورګونه د پوهنتون يوه محصل را نه وپوښتل آيا نشی کيدای چې مسيحيت دې تکذيب او ردکړ شی؟ ما ورته وويل: "نه، په يوه علت نشی کيدای چې هغه د عيسی مسيح د بيا ژوندی کيدو مسئله ده."

وروسته له اوه سوونه (۷۰۰) ساعتونو نه د زياتی مطالعی او څيړنی له مخې هغه هم په همدغه موضوع. زه بالاخره دې نتيجې او پای ته ورسيدم چې د عيسی د بيا ژوندی کيدو مسئله کيدای شی دوه حالته ولري: يو حالت يا دا چې شريرترين او بې رحمه فريبونه دي چې په بشر تحميل شويدی. او يا دا چې د نړی په تاريخ کې له ډيرو مهمو پيښنو نه يوه مهمه پيښه ده.

د مسيح د بيا ژوندې کيدو مسئله د مسيحيت د اعتبار پوښتنه د فلسفی له حوزی نه ايستلی او په يوې تاريخی پوښتنی ئې بدلوی چې: "آيا مسيحيت د منلو وړ کوم اساس او بنسټ لري؟" يا آيا داسې پوره شواهد د دۀ د بيا ژوندی کيدو لپاره ځوک لري؟

د بيا ژوندی کيدو په اړوند ځنې حقيقتونه په دې ډول دي "ناصری عيسی، يوه يهودی پيغمبر دعوا وکړه چې هماغه موعود مسيح دی چې په زوړ عهد (په مقدس کتاب) دی او دی ونيول شو او د يوه سياسی ياغی په څير محکوم او بيا مصلوب کړای شو. درې ورځې وروسته له مرګه او له تدفينه يو شمير ښځې چې مقبری ته ئې ورغلی وې هغوی وليدل چې قبر خلاص دی او دی په قبر کې نشته. د عيسی شاګردانو (حواريونو) ادعا وکړه چې خدای عيسی د مړو له منځه را ژوندی کړ، او وروسته له هغه عيسی په بيلا بيلو وختونو کې ځان هغو ته ښکاره کړ، او په پای کې جنت ته لاړ.

په دې اساس مسيحيت د روم په ټولی امپراطوری کې پراختيا وموندله او د پيړيو په تيريدو کې ئې پوره نفوذ او وسعت پيدا کړ.

آيا په رښتيا سره دی بيا د مړو له منځه را ژوندی شو؟

## د عیسی تدفین

د عیسی بدن د یهودو د تدفین له رواجه سره سم په یوه کتانی کفن کې پټ کړی شو، د څلویښتو کیلو په اندازه معطر ادویه چې یو له بله سره ګډ شوی وو او سریښتناکه موادو ته ورته وو، د دهٔ په کفن وشیندل شول او کفن ئې پرې خوشبویه کړ. (۱)

وروسته له هغې چې د دهٔ بدن له تیرې نه په جوړ شوی قبر کې کیښودل شو. (۲) یوه لویه ډبره د دوه تنو په درووند والی سره د څو اهمو شخصیاتو په وسیله د دهٔ د قبر دپاسه کیښودله شوه. (۳)

څو چوکیدارنو له رومې انظباطو سره یو ځای د عیسی د قبر ساتنه کوله. "چوکیدارانو له دې ډاره چې دوی کومه جزا ونه وینی د دهٔ په قبر پیره کوله او قبر ئې پوره څاره، په تیره بیا د شپې په وخت کې." (۴) دوی د روم د امپراطور د حاکمیت نښه هم په قبر ولګوله (یعنی د روم د امپراطوری) په مهر سره مهر کړای شو. څو د غلو د لاسه قبر وران نشی که چا د قبر د مخې ډبره ښور ولی وای. دا کار د دې سبب کیده چې د امپراطوری مهر به ماتیده، او د روم د قانون له مخې داسې کار پوره سزا درلوده.

خو د عیسی قبر تش ؤ.

## د عیسی تش قبر

د عیسی پیروانو ویل چې دی بیرته ژوندی شویدی. دوی به ویل چې عیسی د یوې څلویښت ورځنې دورې په ځینو شیبو کې دوی ته ځان ښکاره کړیدی او په ډیرو کلکو او قانع کوونکو دلایلو ئې ځان هغوی ته ښوولی ؤ. (۲) پولوس رسول وایی چې یو ځلې عیسی له پنځو سوو نه زیاتو کسانو ته ځان ښکاره کړ، او اکثرو همدغو کسانو دا وخت کې چې پولوس دا خبره لیکله دوی ژوندی وو او کولای ئې شو چې د دهٔ د خبرې صحت تایید او ومنی. (۷)

ای، ام، رمزی لیکی: "یو له دلایلو څخه چې زه ئې د عیسی په بیا ژوندی کیدو باوری کړی یم هغه دا ده چې یو شمیر حقیقتونه ئې پرته له یوې همداسې پیښې نشو روښانولی." (۸)

قبر تش ځرګندیدونکی او معلومدار ؤ کیدای شی تکذیب کړل شی. پال التاس وایی چې "د بیا ژوندی کیدلو دعوا نشوای کیدلای چې د یوې ورځې او حتی د یوه ساعت لپاره د اورشلیم په ښار دوام وکړی او ومنل شي. خو د قبر د تشوالی مسئله د یوه حقیقت په حیث ټولو منلی وه." (۹)

پال می یر، داسې نتیجه تر لاسه کوی: "که چیري ټولو شواهدو ته د انصاف په سترګه وګورو په اصل کې یو معقوله حقیقت دی چې د تاریخی څیړنو د مقرراتو او اصولو سره سم دې نتیجې ته رسیږو چې هغه قبر چې عیسی په کې دفن شوی وه د عیسی د بیا ژوندی کیدو د ورځی په سهار کې خالي وه. د دې پر خلاف هیڅ یو کوچنې دلیل هم د معتمدو د لرغون پوهنی او لرغونو خطوطو (کتیبو) او ادبې لرغون پوهانو څخه لاس ته نه دي راغلی." (۱۰)

د عیسی د قبر د تشوالی لپاره څه دلایل شته دي؟ آیا کیدای شی چې یوه طبیعی پیښه او قضیه د دې سبب شي؟

د تاریخی ډیرو شواهدو له مخې مسیحیان په دې عقیده دي چې د یوه مافوق الطبیعه خدای په قدرت سره عیسی جسماً په قبر کې ژوندي او بیا ترې رابهر شو. د دې خبرې مننه او باور ګرانه خبره ده، خو نه باور کول اصلاً په خپل ذات کې له باوره څخه ډیره ګرانه ده.

د بیا ژوندی کیدو په تعقیب کې د قبر د سر موقعیت یو ځانګړی اهمیت درلود، د روم د امپراطوری مهر مات شوی ؤ چې د دې ګناه د مرتکبینو دپاره چپه مصلوب کیدل فوری سزا ټاکل شوی وه. هغه ډبره چې دوه ټنه دروندوالی ئې درلود نه یواځې له هدیری لرې شوی ؤ بلکه له قبره ډیر لرې غورځول شوی ؤ. داسې لکه چا چې د خپل ځایه پورته کړې وی او لرې ایښی وی." د قبر ساتونکی یو هم نه ؤ پاتی ټول تښتیدلی وو. جاستین په خپل ډایجست (۱۲ ، ۴۹ برخه) لیکنه کې اتلس مرګونی جزاوی رومې ساتونکو ته کتاروی چې د ساتونکو ویده کیدل یا د خدمت د سیمی او ځای پریښودنه هم په همدغه فهرست کې شمیري.

د انجیل د روایت له مخې ښځې قبر ته راغلې، خو قبر تش ؤ، دوی د تش قبر په لیدو سره وډار شوې او بیرته لاړې او په خپلو کورونو کې ئې خپلو نارینو ته دا کیسه وکړه. پطروس او یوحنا په منډه ځانونه قبر ته را ورسول، یوحنا لومړی را ورسید خو قبر ته ورکوز نشو یوائې ئې قبر ته وکتل او تش کفن یې ولید چې پروت ؤ. عیسی مسیح له کفنه وتلی او خپل اصلی نوی ژوند ته تللی ؤ. د داسې یوې پیښې لیدنه لیدونکو باندې نیغ په نیغه اثر کوي.

د بیا ژوندې کیدلو د وضاحت لپاره ډیری فرضیې په معقول انداز سره وړاندې شویدی چې ضعیفی دي خو په واقعیت کې د لوستونکی ډاډګرینه د عیسی د بیا ژوندی کیدو په باره کې نورهم تقویه کوي.

## عوضی قبر؟

یوه بله فرضیه چې (کریساپ لیک) مطرح کړی، هغه دا ده چې کله ښځو د عیسی قبر تش ولید، دوی غلطی شوې وې، هغه د عیسی قبر نه ؤ بل قبر ؤ.

که چیرې دا فرضیه سمه وي. نو کله چې د عیسی شاګردان قبر ته ورغلل چې هغه وګوري او معلومه کړی چې د ښځو خبره سمه ده او که نه، نو داسې معلومیږی چې دوی هم عوض کړی شوی (بل) قبر ته ورغلی وو، خو مونږ کولای شو ډاډ ولرو چې یهودو رومی مقاماتو نه غوښتنه کړی وه چې په قبر باندې ساتونکی ودروی، ترڅو څوک ونکړای شی د هغه بدن له قبر نه راوباسی او پټ ئې کړي (او د هغه د بیا ژوندې کیدو دعوا را پورته کړي). څنګه چې د دهٔ د بیا ژوندې کیدو خبره داود پیغمبر په خپل کتاب (زبور ۱۲ : ۸ – ۱۱) کې مخکې له مخکې راوړې وه، همدارنګه وګوري. (اعمال ۲: ۲۵ – ۳۲) په دې اساس یهودی مقامات به څنګه په یوه عوضی یعنی بدل قبر باندې ساتونکی دروی. بیا رومی ساتونکو هم داسې غلطی نه کوله، ځکه چې دوی په خپله هم په قبرستان کې وو او قبر ئې لیدلی وو.

که چیرې پورتنی فرضیې حقیقت درلودلای نو د عیسی د شاګردانو د دعواؤ په وړاندې به یهودي مقاماتو بې له ځنډه اصلی قبر پیدا کړی وای، او د عیسی بدن به ئې ټولو ته ښکاره کړي وای، او د بیا ژوندی کیدو آوازی ته به ئې د پای ټکی ایښی وای.

یوه بله فرضیه وایی: کله چې عیسی تر بیا ژوندی کیدو وروسته خپل ځان شاګردانو ته ښکاره کړ، هغه په خپله د دوی له وهم او خیاله پرته هیڅ شی هم نه ؤ. دا وړاندیز د خیال او واهمی د ارواییی اصولو له مخی تشه خبره ده. او پرته له هغه د رسولانو له ارواییی حالاتو او تاریخی څرنګوالی سره هیڅ سمون نه لري.

## د درغلیو او ضعف فرضیه

دې تئیوری ته (ونتورینی) څو پیړی د مخه رواج ورکړ او نن هم کله ورته اشاره کیږی. دا فرضیه وایی چې عیسی په صلیب باندې مړ نشو، بلکه هغه د ډیري وینی له ضایع کیدنی او د سختی ستړیا د لاسه ضعف وکړ. هغوی چې هلته صلیب سره لنډ وو، ګمان ئې کاوه چې دی مړ شویدی. خو وروسته دی په هوش راغی او شاګردانو ئې خیال کاوه چې بیرته ژوندی شویدی.

(دیوید استراوس) چې د عیسی د بیا ژوندی کیدو مسئله ئې نه منله. دا فرضیه داسې ردوی: "دا غیر ممکن دی چې مړ ژوندی سړی دې څوک له قبره وتښتوی او هغه سړی (عیسی) چې سختی طبی مرستی او معالجی ته اړ دی او ده ته لازمه ده چې بیرته قوت ومومی او جوړ شي او دا شیبه په درد او رنځ کې لاس او پښې وهي و دې کولای شی چې په شاګردانو کې دې دا تصور پیدا کړی چې دی په مرګ باندې زورور شویدی او د ژوند باچا دی. دا هغه تصویر دی چې د شاګردانو له زده کړی څخه له ورایه او په پوره توګه څرګندیږی. دا ډول ژوند موندل یواځی دا کوی چې د شاګردانو عقیده او ګمان د عیسی په هکله ضعیف کړی او دوی یواځی مرثیه ویلو ته وهڅوی بلکه دا نشی کولای چې د دوی ماتم په خوشالی او د دوی احترام په عبادت واړوي." (۱۲)

## د بدن د غلا کولو تئیوری

دا فرضیه وایی چې کله ساتونکی ویده وو د عیسی شاګردان راغلل او د ده بدن ئې غلا کړ. (۱۳)

د عیسی مسیح د مصلوب کیدو نه وروسته د ده شاګردانو خفګان او ډار د دې مخنیوی کوی چې څوک دې دا باور وکړی چې دوی داسې غیرتمن او زړور کسان وو چې له ساتونکو سر بازانو سره مخ شول او په دې بریالی شول چې دی پټ

وباسي ځکه چې د دوی رواني حالت په هغه وخت کې دوی ته دا اجازه نه ورکوله چې په داسې خطرناک عمل دې لاس پورې کړي.

(جی، ان، اندرسن) چې د لندن په پوهنځی کې د حقوقو استاد، د ختيځو سيمو او د افريقی د پوهنځی رئيس او په لندن کې د حقوقو د پر مختللی مطالعاتو د مؤسسی مدير وه. د عيسی د بدن د غلا کيدنی په هکله داسې نظر ورکوي: "دا فرضيه د ټولو هغو شيانو خلاف ده چې په هغه وخت کې د ده د شاګردانو د زغم او اخلاقی زده کړو څخه چې د تکليف او زحمت په مقابل کې تر سره کړي خبر يو. له دې سره سره د دې فرضيی وضاحت او قبلول نور هم په اشکال کې پريوزی يعنی دا څنګه کيدای شی چې د ده سترې او ځان بايللی شاګردان په زړه ورو شاګردانو بدل شي.او په داسې جراتمندانه اقدام دې لاس پورې کړي." (۱۴)

دا فرضيه هم چې يهودي يا رومی مقاماتو به د عيسی بدن له قبره ايستلی وي دومره د منلو وړ نده. که چيرې دغو مقاماتو د عيسی بدن له ځانه سره لرلای، نو کله چې د دهٔ شاګردانو په اورشليم کې د عيسی د بيا ژوندی کيدو په هکله مو عظی کولې واضح خبره ده چې همدغو مقاماتو د عيسی بدن د هغوی د مواعيظو د تکذيب او رد په خاطر ښوده او پټ ئې نه ساته.

که چيرې دغو مقاماتو سره د عيسی بدن وای ولې ئې نه ويل هغه دوی هلته يا په فلانې ځای کې ساتلی دي بيا ولې ئې په ګاډی کې نه ايښوده او په اورشليم کې د خلکو په وړاندې نه ښکاره کاوه واضح خبره ده که چيرې دا کار شوی وای نو مسيحيت ئې له نابودی سره مخامخ کاوه.

ډاکټر (جان مانتګامری) داسې وايی: "دا باور نه کيدونکی دی چې د عيسی لومړی پيروان دي داسې يو لوی دروغ د عيسی د بيا ژوندی کيدو په خاطر ووايی. او داسې يوه لويه افسانه دې جوړه کړی او هغه دې بيا په داسې خلکو کې ووايی چې کولای شوای د عيسی د بدن په ښوولو سره د دوی دا ډول درواغ په آسانی سره ثابته کړي." (۱۵)

# د عیسی د بیا ژوندی کیدو شواهد

پروفیسور (تاماس آرنوالد) چې څوارلس کاله د راګبی د موسسی مدیر ؤ او د روم د تاریخ د دری جلدیزه کتاب لیکوال او مُولف ؤ. او بیا وروسته د آکسفورد د پوهنتون د نوی تاریخ د پوهنځی د رئیس په توګه هم وټاکل شو. او په تمامه معنی د تاریخې حقایقو په تثبیت او تعین او د شواهدو په تاریخی ارزښت پوه ؤ وه ویل: "ما کلونه کلونه د نورو پیړیو تاریخ لوستلی او کتلی دی او د دې پیښی د شواهدو شرحه مې هم څیړلی ده، مګر ما د هیڅ یوه حقیقت لپاره حتی د بشریت په تاریخ کې په داسې انداز ښبی ندی لیدلی، لکه خدای چې مونږ ته راکړې. یعنی دا ښبه چې عیسی مړ شو او بیا د مړو له منځه پورته او بیا راژوندی شو له دې نه زیات مې نور د یوه بې طرفه او بې غرضه څیړونکی لپاره کره شواهد ندې لیدلی." (۱۴)

انګلیسی پوهاند بروک وسکات وه ویل: "که چیرې ټول شواهد په پام کې ونیسو په ډیرې اسانی سره کولای شو ووایو چې هیڅ یوه بله تاریخی پیښه د عیسی مسیح د بیا ژوندی کیدو په څیر نده رامنځته شوې، د دهٔ د بیا ژوندی کیدو د اثبات لپاره د هیڅ ډول شواهدو کمې نشته." (۱۷)

د امریکا د هاروارد د پوهنتون د حقوقو د څانګی د لوی متفکر او استاد ډاکټر (سیمون ګرین لیف) په هکله (ایچ ډبلیو ناتز) د مشهورو امریکایانو دکلتور په شرح کې داسې لیکی: "د دې دستوری (چې بیا وروسته د امریکا د قضا د عالي دیوان مشر شو) د کوششونو له مخې ګرین لیف د هاروارد د پوهنتون د حقوقو په پوهنځی کې غوره مقام ترلاسه کړ." هسی مقام چې د ټولی امریکا د حقوقو په پوهنځیو کې ډیر وتلی ؤ، کله چې دی لا د هاروارد په پوهنځی کې استاد ؤ، د عیسی د بیا ژوندی کیدو په خاطر د رسولانو د حقوقی شواهدو د ارزښت په هکله یو کتاب ولیکه. هغه ولیدل چې هیڅ امکان نلری چې: "د عیسی له رستاخیزه پرته او په دې پیښی باندې د دوی له باوره بغیر مسیحی تبشیری رسولانو وکولای شو چې د عیسی د ژوند او د هغه د تعلیماتو په هکله په خپلو موعظو دوام او ټینګار وکړي." (۱۸)

ګرين ليف دا نتيجه تر لاسه کړه چې د عيسی مسيح بيا ژوندی کيدل، له پوره شواهدو لرونکو پيښو څخه عظيمه پيښه ده چې په هره قانونی محکمه کې کيدای شی د هغه حقيقت ثابت کړای شي او د شواهدو لوړ مقام ئې ومنل شي.

يو بل حقوق پوه چې فرانک موريسون نوميږی تصميم ونيو چې د عيسی د بيا ژوندی کيدو پيښی باندې د ابطال کرښه وباسی. هغه وويل چې د عيسی ژوند د بشريت په تاريخ کې بې ساری روښانه دی، خو د دۀ د بيا ژوندی کيدو په اړه وايی: "چې يوه چا غوښتی وه هسی يوه افسانه جوړه کړي او د عيسی د ژوند د پای ټکی پورې ئې وتړي" نو تصميم ئې ونيو چې د عيسی د ژوند د وروستيو دريو ورځو د ځرنګوالی د وضاحت لپاره يو څه وليکی. د هغه قصد هم دا ؤ چې د عيسی د بيا ژوندی کيدو مسئلی ته داسې په درنه سترګه ونه ګوري او ترې تير شی، ده خيال کاوه چې د عيسی د ژوندانه يوه منطقی شرحه به د عيسی د بيا احيا يا ژوندی کيدو مساله نفی کړي وه خو کله چې موريسون، د يوه حقوق پوه په حيث د پيښی شواهد او مدارک و څيړل مجبور شو چې خپلې عقيدی ته تغير ورکړی "لومړی فصل ئې همدغی موضوع ته مختص کړ، دا هسی کتاب ؤ چې ده نه غوښتل ويی ليکی، خو ويې ليکه او وروستی فصلونه ئې په کلکه سره د عيسی د بيا ژوندی کيدو په اړه په شواهدو ټينګار کوي." (۱۹)

د (جرج لد) ارزيابی دا رنګ ده: "د دې تاريخی پيښی يواځنی منطقی استدلال دا دی چې خدای جسماً عيسی د مړو له منځه بيا ژوندی کړ." (۲۰)

نو ځکه د عيسی اوسنی لاروی او پيروان په پخوانيو لارويانو او پيروانو باندې پوره اطمينان څرګند کړي او داسې عقيده ولري چې د دوی ايمان په کيسی يا افسانی ندی ولاړ. بلکه په هغه څه ولاړه چې د عيسی د بيا ژوندی کيدو او د تش قبر په پوره حقيقت ترښت لري.

تر ټولو مهمه دا ده چې اوسنې ايماندار کولی شی د عيسی د بيا ژوندی کيدو قدرت په خپل ژوند کې تجربه کړي تر ټولو ړومبی: هغه کولی شی وپوهيږی چې ګناهونه ئې ښښل شوی دي. (۲۱)

دويم : هغه کولی شی ډاډه اوسی چې د ابدی ژوند لرونکی دی او خپله به هم د مړو له منځه ژوندی شي. (۲۲)

دریم : هغه کولی شی له بې مفهومه او بې معنی ژوند څخه آزاد او په یوه نوی خلقت یعنی په عیسی مسیح باندې ایمان راوړلو سره خپل ځان کې بدلون ومومی. (۲۳)

اوس نو ستاسو ارزیابی او تصمیم څه ډول دی؟ تاسو د عیسی د تش قبر په هکله څه فکر کوی؟ وروسته له ډیرو قانونی شواهدو څخه چې ئې لرو (دارلینګ) د انګلستان د عالی دیوان پخوانی غړی دا نتیجه تر لاسه کړه چې: "له ټولو مثبتو او منفی اصلی او جزوی شواهدو ته په پاملرنی سره هیڅ یو څیړونکی، پوه او طرز جوړونکی او د عدالتی محکمی او محاکمی هوښیار هیئت نشی کولای چې د عیسی د بیا ژوندی کیدو د حقیقت له منلو پرته کوم بل تصمیم یا فیصله تر لاسه کړي." (۲۴)

# نهم فصل

## حقیقی مسیح چیرته دی؟

عیسی د خپلې دعوی د ثبات لپاره چې مسیح د خدای (روحانی) زوی دی مختلف صلاحیتونه لرل، دلته یو له هغو صلاحیتونو څخه چې خورا مهم دی او اکثرو له پامه غورځولی چې د زوړ عهد له نبوت او پیشګویو څخه عبارت دی خبری کوو.

په څو څو ځلو به عیسی د زاړه عهد په پیشګویو متوسل مخ او بدرګه کیده چې دعوی به ئې دا خبره سپینوله چې مسیح (هغه څوک چې مسح شویدی د خدای خاص کس دی) او اثبات ته به ئې رسوله. د نوی عهد د ګلتیان ۴: ۴ رساله کې ویل شوی : "خو هرکله چې نیټه پوره شوه نو خدای خپل زوی راولیږلو د ښځی نه وزیږیدو او د شریعت د لاندې پیدا شو." په دې آیت کې د مسیح د صفاتو او ځانګړنتیاو په هکله اشاره شویده."هغه وخت (عیسی) د موسی له تورات نه او دنورو انبیاؤ له لیکنو نه شروع وکړه، او د مقدس کتاب په هره برخه کې هغه آیاتونه چې د ده په هکله ؤ هغوی ته بیان کړل." د (نوې عهد – د لوقا ۲۴ : ۲۷) عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: "هغه وخت لا زه له تاسو سره وم چې ویل هغه څه چې زما په هکله د موسی په تورات او زبور او د نورو نبیانو په کتابونو او لیکنو کې راغلی باید چې سر ته ورسیږی زما مطلب همدغه شیان ؤ." (لوقا ۲۴ – ۲۵) عیسی همدارنګه وویل: "که تاسو په موسی ایمان لرئ، نو په ما به ئې هم لرئ ځکه چې هغه څه لیکلی دي، هغه زما په هکله دي." (یوحنا ۵: ۴۶) او بیا ئې هم وویل: "ستاسو پلار ابراهیم زما د ورځی په لیدو ډیره ښادی کوله. هغه دا ولیده او خوشحاله شو." (یوحنا ۸ : ۵۲) د عیسی رسولانو او د نوې عهد لیکونکو او نورو به همیشه په پیشګویو باندې تحقیق کاوه تر څو د عیسی دا دعوا چې د خدای (روحانی) زوی او د بشریت ژغورونکی، او مسیح دی ثابته کړي او حقیقت ته ورسوی "خو خدای پاک د ټولو نبیانو په پیشګویو کې ښیلی شوی خبری پوره کړی چې مسیح به تکلیف وزغمی." (اعمال ۳: ۱۸)

پولوس د خپلې همیشنې عادت له مخې کنیسی ته ولاړ او د خالی (سبت) درې ورځې پرله پسی د مقدس کتاب (یعنی زاړه عهد چې د موسی تورات او د

داود زبور په کې شامیلیدل) هلته مباحثه کوله او خبرې به ئې کولې دلایل به ئې وړاندې کول چې لازمه وه چې عیسی باید وځوریږی او تر مرګ وروسته بیرته را ژوندی شي. هغه به ئې ویل: "هغه عیسی چې زه تاسو ته اعلاموم هماغه مسیح دی." (اعمال ۱۷ : ۲ – ۳) "هغه څه چې ما ته را رسیدلی وو یعنې د انجیل مهم حقایق هغه مې تاسو ته دروسپارل. او هغه دا دی چې د تورات له پیشګویانو او د نورو نبیانو له لیکنو سره سم مسیح زمونږ د ګناهونو د بخښنې لپاره مړ شو، او بیا ښخ شو، او همدارنګه د مقدس کتاب د بیان له مخې په دریمه ورځ بیرته را ژوندې شو." (اول کورنتیان ۱۵ : ۳ – ۴) په انجیل کې ۶۰ اصلی پیشګویانی د مسیح په هکله او ۲۷۰ مشترکی پیشګویانی شویدی چې دې ټولو په یوه شخص کې چې عیسی مسیح دی تحقیق پیدا کړ. دا ډیره مفیده ده چې په هغه پیشګویانو ته زیر او نظر واچوو او تر مجهزی کتنی لاندې ئې ونیسو: کومې چې په عیسی مسیح باندې پای ته رسیدلې او د هغه د القابو، عناوینو او صفاتو پورې اړه لري. ښایی کله به مو فکر کړی وی چې څومره د یوه سړی عنوان، نوم، ځانګړنتیاوی (مشخصات) او نښی د اهمیت وړ دي او همدغه خبرتیاوی او اطلاعات تاسو د ځمکې پر مخ له پنځو بیلیونو انسانانو نه بیلوی.

# یو عنوان او څو ځانګړنتیاوی په تاریخ کې

د امتیاز او فرق په خاطر یوازی د خدای ژغورونکی زوی عیسی ته د ټولو هغه خلکو په نسبت چې د ځمکی په مخ ژوند کوي یا ئې کاوه او یا به ئې وکړی د پوره جزئیاتو سره ډیری زیاتی ځانګړتیاوی د خدای له لوری ور په برخه شوي دي. او د هغه په باره کې لیکل او پیش ګوی شویدی. د دې عنوانو ځانګړتیاوی کولای شو په زاړه عهد کې (چې په زر کلنه دوره کې لیکل شویدی) له (۲۰۰) څخه زیاتی نښی چې د عیسی راتګ ته پکې اشاره شوی پیدا کړو. د احتمالاتو د علم له مخې کولای شو، وشمیرو چې احتمال لری چې همدغو پیشګویانو څخه یواځې (۴۸) ئې یو کس کې تحقق موندلی وی، ډیر کوچنی عدد یعنی ۱ په ۱۰ په توان ۱۵۷ په ښوولو (یعنی ۱۰ ورسره ۱۵۲ چې صفر له هغو نه وړاندې) وي.

دا احتمال چې څوک دې په اتفاقی ډول سره وکړای شی دا عنوان په دروغو ځان ته ورکړي. حتی لا نوره هم کرکیچنه کیږی. ځکه وینو چې د مسیح په اړه پیشګوئې ګانی لږ تر لږه (۴۰۰) کاله د هغه له ظهوره وړاندی ثبت شوی وی ښایی.

ځنې ووایی چې دا پیشګویی ګانی به د عیسی له دوری نه وروسته لیکلی شوې وي او داسې به لیکلی شوې وي چې د عیسی له ژوندانه او صفاتو سره پوره سمون ولري. خو دا وړاندیز صحیح نه دی. ځکه چې د زاړه عبرې عهد یونانی ترجمه د (سپتوا) جنت په نامه (یعنې له لاتین لغته څخه د ۷۰ په معنی یعنی چې ۷۰ تنو د دې ترجمې په تکمیلیدوکې مرسته کړیده) او له ۱۵۰ تر ۲۰۰ کلونو موده کې د عیسی مسیح تر میلاده ړومبی سرته رسیدلی ده. نو دا ترجمه ښیی چې له (۲۰۰) کاله څخه زیاته زمانی فاصله د زاړه عهد پیشګویانو او په عیسی کې د هغوی د تحقق او پای ته رسیدو تر منځ شته دی.

واضح ده چې هغه القاب او مشخصات چې خدای د مسیح دپاره کارولي یوازی په واقعی مسیح باندې صادق دي. تر اوسه پورې تر څلویښتو تنو دا دعوی کړې چې دوي د یهودو موعود مسیح دي. مګر یو کس چې عیسی وه د پیشګویګانو په رڼا کې خپلی ادعاوي اثبات ته رسولي او د خپل شخصی صلاحیت مطابق ئې خپل حقیقی مسیح والي تائید او محکم ګرځولی. د دې عنوان ځنې جزئیات یا ځنې خاصی ځانګړتیاوی څه وی؟ او لازمه وه چې څه ډول پیښې د خدای د روحانی زوی عیسی مسیح له راتګ نه مخکې یا له هغه سره یو ځای رامنځته شوی وای لومړی به د تورات اول کتاب نه یعنی د پیدایښت دریم فصل ۱۵ آیت ته مراجعه کوو. دا تر ټولو نه لمړنی پیشګویی د مسیح په هکله ده په ټول مقدس کتاب کې یواځی یو کس دی چې د ښځی له ذریته څخه دی. نور ټول انسانان د ښځې او نارینه له ذریته څخه دی (×) او دا شخص به دنیا ته راشي او د شیطان نقشی او فعالیتونه به خنثی کړي او سر به ئې ووهی. (پیدایښت ۳ : ۱۵)

د پیدایښت په کتاب کې ۹ – ۱۰ فصلونو کې د دې موعود شخص خاصیتونه په دقیقه توګه بیانوی نوح دری زامن د سام، یافث او حام په نومونو درلودل، ننني ټول ملتونه د همدغو دریو کسانو له نسل څخه دي، خدای د پیدایښت د کتاب په دغو دوو فصلونو کې وایې چې موعود مسیح به د سام له نسله څخه وي.

وروسته بیا له ۲۰۰۰ کالو په شاوخوا کې د مسیح له میلاد نه اول د ابراهیم په نامه یو شخص ئې د اور له ښاره د کلدی له سیمی نه راغواړی خدای ابراهیم سره وعده کوي چې مسیح به د ده له نسله څخه وی. پیدایښت ۱۲ ، ۱۷، او ۲۲)

ټوله ځمکه به د ابراهیم له مخې له برکت نه ډکه شي، ابراهیم بیا دوه زامن اسحاق او اسماعیل په نومونو درلودل، او خدای وغوښتل چې موعود مسیح دې د اسحاق له نسل څخه وی (پیدا ایښت ۱۷ او ۲۱) (۲)

اسحاق بیا دوه زامن د یعقوب او عیسو په نومونو درلودل، او خدای وغوښتل چې مسیح دې د یعقوب له نسله وی (پیدا ایښت ۲۸ او ۳۵ : ۱۰ – ۱۲) (۳)

بیا یعقوب دوولس زامن درلودل چې هر یو ئې په دې بریالی شو چې یوه قبیله جوړه کړي. او خدای د یهودا قبیله د مسیح د خاندان په نامه ونوموله. نو په همدې اساس د دولسو اسرائیلی قبیلو څخه خدای یولس حذف کړی او یوه قبیله د یهودا د خاندان څخه د یسی کورنی د موعود مسیح د پاره وټاکله. (۴)

سړی وینی چې څنګه موعود مسیح ورو ورو خاصه ځانګړتیا مومی.

یسی اته زامن درلودل، او خدای د زاړه عهد دوهم کتاب سموئیل ۷: ۱۲ – ۱۲ او د ارمیا نبی کتاب ۲۳: ۵ کې وښود چې د یسی د زامنو له منځه به مسیح د داود له نسله څخه وي نو تر دې ځایه څرګنده شوه چې مسیح د ښځی له ذاوذاته د سام ، اسحاق او یعقوب له نسله به وی (نو له بنی اسرائیله څخه هغه نوم چې خدای یعقوب ته ورکړ اسرائیل ؤ) د یهودا له قبیلې او د داود له کورنی څخه وي.

یو نبوت چې په ۱۰۱۲ کاله له میلاده مخکې ختم شو، دهٔ پیشګویی کړیده چې د مسیح پښې او لاسونه سوری شول (لکه څنګه چې عیسی په صلیب شو) دا پیشګویی ۸۰۰ کاله مخکې له هغه نه ؤ چې رومیانو مصلوب کول رواج کړل.

په زاړه عهد کې د اشعیا نبی کتاب ۷: ۱۴ کې زیاتوی چې مسیح به له یوې باکری څخه پیدا شی، یو طبیعی زیږیدنه له یوي ما فوق الطبیعه حامله کیدل هغه کار دی چې د بشر د کنترول څخه بهر وی او هغه څه دي چې څو څو پیشګویی ګانی د اشعیاْ نبی او زبور (۲) کتابونه بیانوی چې د خدای مسیح به له څه ډول ټولنیز چاپیریال سره مخ شي او څنګه به غیر یهودیان په داسې حال کې چې د هغه قوم یهودیان هغه نه منی په دهٔ ایمان راوړي. اشعیا نبی ۴۰: ۳ او ملاکی نبی ۳ : ۱ هم پیشګویی کوي چې له مسیح نه وړومبی تعمید ورکوونکی یحیی هغه څوک چې په دښته کې چغې وهي مسیح ته لاره خلاصوی.

## د سپينو زرو ديرش سيکې

اوس يوې بلې پيشګويۍ ته (۷) پام وکړئ چې د مسيح اوه ډوله ځانګړنتياوې او مشخصات را شماري: ۱) له هغه سره به خيانت وشي. ۲) خائن شخص به د ده له دوستانو څخه وي. ۳) او دا کار د ديرشو سکو لپاره کوي. ۴) چې سپين زر دي، ۵) دا سکې به د ده مخ ته تويې کړي ۶) او دا کار به په معبد کې سرته ورسيږي، ۷) او دا به د يوې ټوټې ځمکې په اخيستو کې ولګيږي.

په زاړه عهد ميکاه په کتاب ۵ : ۲ کې خداى د بيت الحم ښار چې له ۱۰۰۰ څخه لږ کسان پکې اوسيدل د مسيح زيږيدنځى وګرځاوه.

بيا وروسته له خداى د يو شمير پيشګويى ګانو له مخې يو خاص زمانى ترتيب د موعود مسيح د راتګ لپاره تعيين کړ، د مثال په توګه په ملاکى ۳: ۱ او د زاړه عهد (۸) په څلورو نورو ايتونو کې معلوميږي چې مسيح به د اورشليم د معبد تر ړنګيدو مخکې دنيا ته راشي، دا امر خورا اهميت لري ځکه چې د اورشليم معبد په ۷۰ ميلادى کال کې وران شو او تر اوسه پورې بيا جوړ شوى نه دى.

دود دستور، نسل، نسب، ځاى، زمان او د ده د زيږيدنى څرنګوالى، د خلکو عکس العمل ، دځ ته خيانت او د دځ د مړينى څرنګوالى او داسې نور يوازې يو شمير له هغوى مشخصاتو او ځانګړتياو څخه دي چې موعود مسيح، د نړۍ ژغورونکى او د خداى زوى ئې لري.

## نيوکه: د پيشګويى ګانو اتفاقى تحقق

يو منتقد ممکن ووايي: "له دا ډول پيشګويانو سره به لکه جمهور رئيس (کندي) جمهور رئيس (عبدالناصر) او دا ډول نور کسان هم مخ شوى وي." هو دا خبره سمه ده، هر څوک کولى شي يو يا دوه پيشګويانى د ځنو په ژوند کې حقيقت ومومي. خو هيڅکله نشى کيداى چې ټولې شپيته اصلي پيشګويانى او ۲۷۰ منشعب پيشګويانى دې د يوه کس په ژوند کې حقيقت ومومى که وکولاى شى تر عيسى پرته داسې څوک پيدا کړى چې د دغو ټولو پيشګويانو نيمه په هغه کې تحقق ومومى. د امريکا د کلرادوى په سيمه کې به يو سازمان تاسو ته يوه ډيره لويه جايزه درکړي.

(هرلدهرتزلر) ، د امریکا د علمی ټولنی غړی د پیتراستونر د کتاب په سریزه کې د دغو پیشگویانو د احتمالی تحقق په هکله لیکی چې د خبرې علم د کتاب په مقدمه کې وایی "د امریکا د علمې ټولنی د کمیټې په وسیله او همدغې ټولنې د اجرائیوی شورا له خوا تر څیړنی لاندې نیول شوی. او عموماً د علمی محتوا له پلوه دقیق او د اعتبار وړ دې. د هغه د ریاضی تجزیه او تحلیل د احتمالاتو د اصولو له مخې درست دی، پروفیسور (استونر) له دغو اصولو نه په ډیره دقیقه توگه او قانع کوونکی طرز کار اخیستی دی."

اوس د هغه کتاب ځنې احتمالات به راوړو. څو وښیو چې د دا ډول پیشگویانو تحقق موندل تصادفی او یا په بخت پورې تړلی خبره نده. (استونر) وایی: "د احتمالاتو د نوې علم نه په استفادې سره د نبوت په هکله د احتمالاتو په ارتباط دې نتیجې ته رسیږو چې چانس دا دی چې اوس که داسې یو څوک وی چې دغه اته واړه پیشگویانی ده کې تحقق موندلی وی ۱ په ۱۰ کې د ۱۷ په ښودلو (یعنی ۱۰ له ۱۲ سره چې صفر یې مخې ته وي)." دا احتمال کیدای شی چې یو په دې شکل سره د ۱ نه ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰ سره ولیکلی شي. وضاحت لپاره دا چې دا عدد څومره کوچنې دی وایی: "که چیرې د یو دالر ۱۰ سکی واخلو او تکزاس د ایالت ځمکه پرې وپوښو، نو داسې باید چې د ۲۰ سانتیمر په لوړوالی سره یو په بل باندې کښیږدو، اوس یو له دغو سکو نه په یوې مشخصی علامې سره په نښه کوو، او ټولی سکی سره گډوو بیا به د یو سړی سترگی پټی کړو او له هغه به وغواړو چې یوه سکه په ټولو کې خوښه کړي احتمال لري چې دا سړی دې هماغه په نښه کړای شوې سکه را واخلی یا خوښه کړي. د زاړه عهد انبیاؤ هم همدا ډول چانسونه درلودل چې دا اته نبوته د خدای له هدایت نه آزاد او په مستقل ډول ولیکی. بیا دې ټول په یوکس کې پای ته ورسیږی.

اوس دغو انبیاو یا دا پیشگویانی له خدایه د ا لهام په وسیله ولیکلی یا ئې له خپل حکمته څخه ولیکل، خو په هغه صورت کې چې د دې پیشگویانو چانس د یوه کس په ژوند کې تحقق پیدا کړي نو ۱ په ۱۰ د ۱۷ په ښودلو سره دي چې دغو ټولو په عیسی مسیح کې تحقق وموند.

دا په دې معنی چې د دغو اتو نبوتونو پای ته رسیدنه دا ثابتوی چې دا پیشگویانی ټولی د خدای ا لهام وو، شک د دې امر په حتمې والی کې دا ۱ په ۱۰ اندازه کیدای شي و اوسی." (۹)

# يو بل اعتراض

ځنې نور وايې چې عيسى له قصده کوشش وکړ چې په خپل ژوند کې د زاړه عهد پيشګويانو ته د عمل جامې واغوندي دا نيوکه په اول کې د مننى وړ ښکاريده، اما د لږې مطالعى له مخې وينو چې د مسيح د ظهور او راتګ په ارتباط پيشګويانى او د هغوى جزئيات د بشر له ارادې او کنټروله څخه وتلى خبره وه، د مثال په توګه د موعود مسيح د زيږيدو ځاى معلوم دى، واضح خبره ده چې عيسى د مور په رحم کې په دې قادر نه ؤ چې مور ته ووايى ما د بيت الحم په ښار کې وزيږوه.

په نوې عهد کې وينو چې هيروديس باچاه د يهودو له کاهنانو، ملايانو، قومې مشرانو او نورو څخه د موعود مسيح د زيږيدو د ځاى په هکله پوښتنه وکړه، دوى په جواب کې وويل بيت الحم يهوديه دى، ځکه د نبې په کتاب کې داسې راغلې: (متى ۲: ۵) کوم نور شيان چې د عيسى له ارادې نه وتلى وو هغه دا دى: د دۀ د زيږيدو وخت او نيټه، د هغه د زيږيدو ځرنګوالى (له باکرى) څخه د اسکريوتى يهودا خيانت او د دې مزدورى د هغه مړينې ځرنګوالى (پرصليب) په اورشليم کې د دۀ د پيغام په وړاندې د خلکو عکس العمل (په دۀ ئې ملنډى ووهلى لاړى ئې پرې تو کړې، او په غوسه ئې ورته وکتل) د هغه د جامو دپاره د قرعى اچونه، د هغه د جامو نه څيرى کول او داسې نورې هغه له پيشګويانو څخه دي چې د عيسى له توانه وتلى کار ؤ. هغه نشواى کولاى چې په خپلې ارادې سره دې د ښځې له نسل څخه وى يا دې د سام له شجرې، او د ابراهيم له نسل څخه وي يا دې همداسې نور نبوتونو ته تحقق ورکړي. نو د تعجب خبره به نه وي چې څنګه عيسى او د هغه رسولانو د خپلو دعاګانو ادعاو د اثبات په خاطر چې دى موعود مسيح دى وار په وار به ئې همدغو پيشګويو باندې اتکا وى کولى او د منلو په ترځ کې به ئې اشارى ورته کولې.

ولې خداى د دغو پيشګويانو د ا لهام په خاطر ځانته دومره زحمت ورکړ؟ باور لرم چې خداى غوښتل چې عيسى دې په دنيا کې له خپل راتګ سره سم دغه ډول صلاحيتونه ولري. يوازى هم هغه د زاړه عهد پيشګويانو ته د عمل جامه ور واغوسته. هم هغه يواځې کولى شى تر ټولو لويه هغه پيشګويي چې د هغوى دپاره د نوې ژوند وعده ده له عيسى نه په حقيقت بدله او قبوله ئې کړي. عيسى په خپل مقدس کتاب کې داسې وعده ورکوى: "زه به تازه زړۀ تاسو ته درکړم. او تازه روح

به په تاسو کې در پو کړم... څوک چې له مسيح سره اوسي تازه ژوند لري. هر څه چې زاړه وو تير شول. او دا دی اوس نوی او تازه ژوند شروع شويدی." (۱۰)

# لسم فصل

## آیا بشر ته بله لاره هم شته؟

په دې وروستیو کې د تکزاس د پوهنتون یوه محصل را نه وپوښتل چې: "ولې عیسی خدای ته درسیدو یوائنې وسیله ده؟" ما په خپلو ویناو کې مخکې یاده کړې وه چې عیسی په خپله ویلې چې دی خدای ته د رسیدو او له هغه سره د رابطی د ټینګولو یوائنې لاره ده.

په دهٔ باندې د ژغورونکی او خدای په نوم د مقدس کتاب او د دهٔ د شاګردانو شهادت د باور وړ دی. خو له دې سره سره د غه محصل بیا هم پوښتنه وکړه: "ولې عیسی خدای ته د رسیدو یوائنې لاره ده، آیا داسې بله لاره نشته لکه بودا یا محمد چې له خدایه سره رابطه پرې ټینګه شي؟ آیا څوک نشی کولای چې خدای ته د ښو کارونو په کولو سره ځان نږدې او سوله ایز ژوند غوره کړي که خدای دومره له محبته څخه ډک دی او له هر چا سره مینه لري نو ولې ټول کسان هماغسی چې دي ځانته وغواړی؟"

یو تاجر ما ته وویل: "چې تاسو ثابته کړه چې مسیح عیسی د خدای (روحانی) زوی دی، آیا له عیسی پرته خدای ته د رسیدو کومه بله لاره نشته؟"

پورتنې پوښتنې دا ښیی څرګندوی چې اکثره خلک نه پوهیږی چې ولې له خدایه سره د رابطی د نیولو او د ګناهونو د بخښنی لپاره باید عیسی د یوه ژغورونکی او خدای په نوم غوره کړي. زما جواب دا ؤ چې ډیر خلک د خدای ذات او طبیعت نه پیژنې. دوی معمولاً پوښتنې کوی. څنګه مینه ناک خدای اجازه ورکوي چې یو ګناه کار دې دوزخ ته لاړ شی؟ داسې پوښتنو ته کولای شو په دې پوښتنې جواب ورکړو چې "څنګه مقدس او عادل خدای کولای شي یو ګناه ګار سړی خپل حضور ته ومنی؟"

یو نادرست او ناسمه پیژندنه له خدایه او د خدای له ذاته او شخصیته څنې شته چې د خدای په پیژندنه نه او اخلاقی چارو کې د ډیرو مسایلو باعث ګرځی. ډیر خلک پوهیږی چې خدای ډیر مینه ناک دی خو نور نه غواړی چې د هغه په نورو

صفاتو هم ځان پوه کړي. اصل موضوع دا ده چې خدای نه یوائې مینه ناک او بخښونکی دی بلکه عادل او مقدس هم دی. د معرفت کوم بنیاد چې مونږ له خدایه سره لرو هغه د هغه صفات دي. یو وخت ما فکر کاوه چې که د خدای ټول صفتونه لکه پاکې، مینه، عدل او تقدس دا ټول سره را ټول کړو په پای کې به هماغه خدای وي، خو دا تصور سم نه دی ځکه چې یو صفت د خدای یو جز نه دی چې د دې اجزاؤ په ټولولو سره د خدای ټول وجود ته ورسیږو.

مثلاً پوهیږو چې خدای رحیم دی، او د دهٔ رحمت حقیقت لري خو رحمت بیا د هغه جز نه دی، د رحمت په ښکاره کولو سره هغه په خپله وي.

اما د بشر د ذات په ارتباط یوه مساله را وړاندې شوه چې د بشر د گناه سبب شو د خدای اراده له ازله د بشر په خلقت کې وه. هماغسې چې په مقدس کتاب کې ذکر شوی دی. خدای نارینه او ښځی د دې لپاره چې هغوی ته په خپل محبت او جلال کې برخه ورکړي پیدا کړل، خو کله چې آدم او حوا د خدای له امره سر ورغړاوه، او په خپله خوښه په خپله لاره لاړل. بشر د گناه په لومه کې بند شو، په دغه وخت ټول خلک گناهگاران شول چې معنی ئې د خدای څخه جدائې ده چې دا وضعیت د خدای د خفگان سبب شو، له یوې خوا خدای بشریت په خپل جلال کې د گډیدو او سهیم کولو لپاره پیدا کړی ؤ له بلې خوا دوی ئې له فرمانه سر غړولی ؤ او گناه ئې کړې وه خو خدای په خپل محبت سره غوښتل چې بشر وژغوري. خو د دې لپاره چې خدای نه یوائې د پوره محبت لرونکی دی، بلکه مقدس، عادل او پاک هم دی دلته چې د دهٔ مقدس ذات هرگناه کار شخص نابودوی. (رومیان ۶ : ۲۳) وایي: "د گناه مزدوری مرگ ده."

ویلی شو چې خدای د آدم او د حوا د نافرمانی د لاسه له ښه موقعیت سره مخ نه ؤ. نو خدای تصمیم ونیو چې د دهٔ روحانې زوی یعنې عیسی جسم شي، او بیا د انسان په بڼه شي. په نوې عهد (یوحنا انجیل ۱ : ۱۴) کې لولو. "نو د مسیح عیسی کلمه انسان شو، او په مونږ کې ساکن شو." بیا هم په نوې عهد (فیلپیانو په رساله کې ۲ : ۷) وینو چې عیسی مسیح خپل ځان د (الوهیت) له ټولو اختیاراتو نه محروم او د یوه غلام بڼه ئې ونیوه او د انسان په څیر څرگند شو."

عیسی خدای ته ورته انسان یا انسان ته ورته خدای ؤ، هغه په کامله توگه انسان او په پوره توگه خدای ؤ. عیسی په خپلې ارادی سره بې گناه ژوند وکړ چې په

تمامه معنی د پلار څخه اطاعت ؤ د مقدس کتاب تعلیم چې : "د ګناه مزدوری مرګ دی." د عیسی په هکله صادق نه ؤ، ځکه چې هغه بالکل بې ګناه ؤ هغه نه یوازی محدود بشر ؤ. بلکه په عین حال کې لایتناهی خدای هم و. نو د لایتناهی والی له مخې ئې کولای شوای چې د ټولی دنیا ګناهونه په غاړه واخلی کله چې ۲۰۰۰ کاله وړاندې د پاک، مقدس او عادل عیسی په وجود باندې میخونه ټک وهل شول، د بشر د ګناه د لاسه چې دهٔ په غاړه اخیستی ؤ خدای خپل زوی باندې غوسه شو کله چې عیسی وویل: "ختمه شوه." (نوی عهد یوحنا انجیل ۱۹: ۳۰) دا د پاک او عادل خدای د ذات د ارضا لپاره ؤ. له دې نه وروسته څنګه چې د بشر د ګناه مزدوری ورکړ شوی وه. خدای مختار او آزاد ؤ چې د محبت له لاری له بنې آدم سره چلند وکړي نوره نو لازمه نه وه چې بشر دې د خپلې ګناه په خاطر ومری، ځکه چې عیسی په خپل صلیب سره د خدای د عدالت شرایط د قبول وړ ګرځولی وه.

ځکه چې له چا نه پوښتنه کوو چې: "عیسی د چا دپاره مړ شو؟" هغه معمولاً وایې چې : "زما لپاره یا د ټولی دنیا لپاره" بیا زه دا ورپسی زیاتوم چې: ستاسو جواب سم دی، مګر د کوم بل چا لپاره عیسی مړ شو؟ دوی وایی "نه پوهیږو" زهٔ جواب ورکوم چې "د خدای د پلار په خاطر" وګوری نه یوائې عیسی زمونږ په خاطر مړ شو، بلکه د خدای د پلار د شرایطو د ارضا لپاره مړ شو، دا یقیناً هغه څه دی چې په نوې عهد کې رومیانو ته رساله کې په ۳ فصل کې تشریح شوی چې د خدای د قهر د کینولو په خاطر د ګناه د مزد ورکول لازم دي نو کله چې عیسی په صلیب باندې مړ شو، دا نه یوازی زمونږ لپاره ؤ، بلکه د عادل او مقدس ذات د شرایطو د ارضا په خاطر هم ؤ.

څو کاله مخکې د امریکا د کالیفورنیا په ایالت کې یوه پیښه وشوه چې واقعاً دا موضوع را سپړی او روښانه کوی ئې چې څنګه د عیسی مصلوبیدنه خدای ته د بشر د ګناهونو د حل لاره وه.

یوه ځوانه ښځه ئې په دې تور چې موټر چابک چلوی محکمې ته د قاضی مخ ته ودروله. چلوونکی ښځې دا ومنله چې مقصره ده قاضی حکم وکړ چې باید ۱۰۰ دالره دې جریمه ورکړي یا دې ۱۰ ورځې په زندان کې تیری کړي. بیا یوه عجیبه پیښه وشوه، قاضی له خپله ځایه جګ شو، او د قضاوت چپنه ئې ویستله. د قضا وت د میز له شا نه راکوز شو، بټوه ئې راویسته د چلوونکې ښځې جریمه ئې ورکړه، آیا پوهیږی چې ولې ئې دا کار وکړ؟ دلیل ئې دا ؤ چې قاضې د ښځې پلار ؤ. لور ئې

پرې ګرانه وه او دا ئې هم نشوای کولای چې قضاوت ونکړی، او عدالت يوې خوا ته کړي. لور ئې د چلونی له قوانينو نه سرغړونه کړې وه، هغه نشوای کولای چې د قضا په ميز ناست قاضی خپلې لور ته ووايې: "ډيره راباندې ګرانه يې تا بښم، کولی شی چې لاړه شی." که دا کار ئې کړی وای نو عادل قاضی به نه ؤ، دهٔ په هغه صورت سره نشوای کولای چې خپله وظيفه چې قضا ده په ښه توګه سر ته ورسوي اما له همدغو حقايقو سره غبرګ په هغه خپله لور هم ګرانه وه. نو ځکه ئې د قضاوت چپنه له ځانه ويسته او د يوه پلار په توګه ئې د خپلې لور جريمه پرې کړه. دا مثال مونږ ته تر يوه حده پورې دا را څرګندوی چې خدای د عيسی په وسيله له مونږ سره څه وکړل. مونږ ګناه وکړه. مقدس کتاب وايی چې : "د ګناه بدل (مزد) مرګ دی." له خپل ټول محبته سره چې خدای له انسان سره درلود، د خپل عدالت په خاطر مجبور ؤ چې د مرګ مجازات عملی کړي سره له دې چې خدای مينه ناک دی خو دې ته حاضر شو چې د سلطنت له تخته راکوز شي او د عيسی مسيح په شکل د انسانانو د ګناه مجازات ورکړي او دا مجازات هغه ؤ چې په صليب باندې د عيسی په مړينی سره تر سره شو.

ځنې کسان لا اوس هم ښايی وپوښتی چې: "ولې خدای پرته له مجازاتو څخه د انسانانو ګناوې ونه بخښل؟" د يوه لوی شرکت يوه مدير وويل : "زما له کارګرانو نه کله نا کله سهوی کيږی. مثلاً يا کوم شی خرابوی يا بل خو زه هغوی بښم." او بيا ئې زياته کړه: "آيا ما ته ويلی شي. کوم کار چې زه کوم خدای نشی کولای؟" هغه څه چې اکثره کسان ئې غالباً نه وينی دا چې هر کله چې چا ته بخشش کوو، جريمه او د قيمت پرې کولو ئې هم مجبورولای شو. د مثال په توګه زما لور زمونږ د کور ځراغ ماتوی زه يو مهربانه او بښونکی پلار يم. نو لور ته مې مخ اړوم او ورته وايم ګرانې مه ژاړه ته دې په خپل پلار ګرانه يې ، او تا بښی" دا وخت کې ممکنه ده ګران لوستونکی ووايی: "دا ټکی په ټکی هغه کار دی چې خدای ئې هم ښايی زمونږ د ګناهونو په وړاندې وکړي. په دې صورت کې نو بيا ما ته پوښتنه پيدا کيږی چې ښه نو لور مې ځراغ مات کړ، او ما وبښله نو د ځراغ قيمت به څوک ورکوی؟"

حقيقت خو دا دی چې زه به ئې قيمت ورکوم نو په بخښلو کې بايد يو کس هميشه دغلطی تاوان، او جرمانه په خپل سر واخلی،او تاديه ئې وکړی. دا په دقيق ډول هغه کار دی چې خدای سر ته رسولی دي. خدای انسان ته وايی: "ما ستا ګناه در وبښله" په هماغه ساعت کې دهٔ په صليب باندې زمونږ د ګناهونو جريمه پريکړه او په دې توګه ئې زمونږ د ګناهونو د بښنی لپاره امکان پيدا کړ.

# یولسم فصل

## هغه زما ژوند ته بدلون ورکړو

عیسی مسیح ژوندی دی. یو دلیل دا چې مسیح عیسی د مړو له منځه را ژوندی شوی او ژوندی دی دا زما د ژوند او زما د تګ لارې او سلوک ژوندون دی.

توماس اکوانیس لیکی: "د هر جانی او قاتل سړی په زړهٔ کې د خوښی او خوشحالی د تندې دپاره ژوره هیله شته." کله چې نوی زلمی وم نو غوښتل مې چې باید خوشحاله دې یم دا پروا نلری او کوم عیب هم پکې نشته، ما غوښتل چې د ټولی نړۍ د خوشحالو کسانو نه دې واوسم. او غوښتل مې چې ژوند مې له معنی نه ډک او د اهمیت وړ وي. او بالاخره د ژوند د بنسټیزو پوښتنو د جوابونو، په لټه کې شوم. د بیلګی په توګه: "زه څوک یم؟" "د څه شی لپاره دې دنیا کې یم؟" او "وروسته له ژوند څخه به چرته ځم؟"

له هر شی نه مې زیات دا غوښتل چې زه دې آزاد واوسم. غوښتل مې چې په خپل ژوندانه کې واقعاً آزاد او خپلواک واوسم، البته د آزادۍ معنی دا نه ده چې د چا زړه دې هر څه وغواړی هغه دې وکړي. هر څوک کولای شي همداسې وکړي او ډیر کسان هم همداسې کوي. زما مقصد له آزادی څخه دا دی چې هغه څه چې څوک ئې کوي او غواړي پای ته ئې ورسوي. د پای ته رسولو توان ئې ولري. ډیر خلک په دې پوهیږی چې یو څه باید وکړي خو د کولو توان ئې دوی کې نه وي دلته دې چې دوی اسیران دي. نو زه هماغه د ځوانی له وخته د ژوند د پوښتنو په جوابونو پسی ګرځیدم داسې راته ښکاریده چې تقریباً ټول په یوه دین او مذهب پسی وو. واضح خبره ده چې زه هم کلیسا ته لاړم خو دا سمه کلیسا نه وه. تل مې دننه په خپل ځان کې د بدو احساس کاوه. نو د همدغه احساس په وړاندې مې په مبارزی پیل وکړ، ځنې ورځی لا له یو ځل نه زیات کلیسا ته تللم خو زه یو عمل کوونکی سړی یم. کله چې وینم چې په کوم شي کې ګټه نشته ډیر ژر ترینه تیریږم. نو ځکه خو مې دین یوې خوا ته پریښود ځکه چې له دینه څخه څه لاسته نه راتلل د ډیرو لپاره "دین" همداسې دی او هغوی ته ګټه نه رسوی.

نو د شهرت خیال پسی واخیستم فکر مې وکړ که خپل ژوند یوه شی ته وقف کړم او زیات کوشش وکړم او مشهور سړی شم. نو بیا به زه ډیر خوشحاله شم، په لومړنی پوهنتون کې چې محصل وم، د محصلینو د ډلو او سازمانونو مشرانو د پیسو د ایستلو وظیفه په غاړه لرله، او هر چا به پیژندل، نو ما هم کوشش وکړ او خپل ځان مې کاندید کړ او میدان مې هم وګاټه. ځومره ښه احساس راسره ؤ چې د پوهنتون ټول مهم غړی مې پیژندل او ټولو به ما ته سلام را کاوه او زه به خوشحالیدم او خوند به مې ترې اخیستلو. کله به چې مې پوهنتون کې د محصلینو لپاره د پیسو د ایستلو او یا د خبرو لپاره چې څوک خبری وکړی. د دغو کارونو د سر ته رسولو لپاره به مې له مسئولو کسانو سره ګډ تصمیم نیولو. او خپله خبره به مې په هغوی قبلوله نو ډیره مزه به ئې کوله. خو دا خوند هم د ژوند د نورو خوندونو په څیر تیریدونکی او هغه د چا خبره زود ګذره ؤ. د دوشنبی سهار چې په اونې کې «د غربیانو د کار لومړی ورځ ده» کله چې له خوبه پاځیدم د یوې هفتی کار په هکله فکر به ګران را ته ښکاریده، هر رنګه چې وای ما باید تر جمعی پورې دوام ورکړی وای. بیا نو درې شپی عیش او نوش یعنی د جمعی، شنبی، یکشنبی ورځی به را ورسیدی او دا دوره همداسې تله راتله او تکراریدله به.

ملګرو او دوستانو به مې چې په پوهنتون کې ظاهراً راته کتل فکر به ئې کاوه چې زه واقعاً خوشحاله یم. د محصلینو د سازمان په پیسو به مې پارټی او میلمستیاوی جوړولی، خو زما خوښی هم د نورو په شان په یوه موقعیت پورې تړلی وه. کله به چې یو کار زما په خوښه سرته رسیده خوشحاله به وم خو کله چې یو کار د یوه ملې متر په اندازه زما د طبیعت خلاف سرته رسیده بیا به مې نو تحمل نشوای کولای. زما ژوند لکه بیړی د اوبو په سر تیریده هسی چې کله به کښته او کله به پورته غورځیده. مقدس کتاب بیا دا ډول ژوند دوزخ بولي. خو زما ټولو ګاونډیانو همدا ډول ژوند درلود او داسې څوک نه ؤ چې له دې نه دې ښه ژوند ما ته را وښئی، او ماته قوت راکړی چې هسی ژوند وکړم لکه چې ښایی، ډیرو کسانو به راته ویل چې زه څه باید وکړم. خو هیڅا هم نشوای کولای چې ما ته داسې قوت راکړی چې د هغوی خبری عملی کړم. او هماغسی وکړم لکه دوی چې را ته وایی ورو ورو داسې د ناهیلی احساس را کې پیدا کیده، فکر کوم چې ډیرو لږو کسانو د امریکا په پوهنتونونو او پوهنځیو کې زما په شان فکر کاوه چې په ریښتنی توګه د ژوند د حقیقت او د هدف د لاسته راوړو په خاطر د زړه له کومې تصمیم دې ونیسی. یوه ورځ په پوهنتون کې یوې لس کسیزی ډلې چې له دوو استادانو او اتو تنو

محصلینو نه جوړه شوې وه، زما توجه ځانته را واړوله د دوی ژوند او ګرځیدل د پوهنتون له نورو ډلو نه ډیر توپیر درلود. داسې ښکاریدل لکه دوی چې پوهیدل چې په څه شی ایمان لري. او د کوم خاص غرض دپاره پرې باورې دي. ولې زما دغه ډول کسان چې د کلکی عقیدی خاوندان وي ډیر خوښیدل. حتی که د هغو عقیده زما خوښه هم نه وي. همدغه دلیل دی چې زه اوس هم په خپل معاشرت کې له ځینو رهبرانو او بنسټپالو ډلو سره نسبت و ډیرو مسیحیانو ته د بدی احساس نه کوم. ډیر له مسیحیانو نه په خپلو عقایدو ټینګ نه دی ولاړ او دومره سست دی چې ځینې وخت زه ګمان کوم چې دوی تظاهر کوي او په تظاهر سره ځانونه مسیحیان ښیي. خو د پوهنتون دغې لس کسیزی ډلی هدف ډیر روښانه ؤ، او دا کار په پوهنتون کې نادر او جالب ښکاره کیده. د دې ډلې غړو یوازی د محبت په هکله خبرې نه کولې، بلکه عملاً به ئې په ژوندانه کې ښوول، دوی د پوهنتون او د هغه د چاپیریال له ژوندانه څخه لوړ ژوند کاوه، داسې ښکاریدل چې تا به ویل له دوی نه ما سوا نور ټول کسان د ژوندانه تر درانه بار لاندې کاږه شویدی. خو دوی به تل خوشحاله او آرام لیدل کیدل. دا ځکه چې دوی یوه همیشنی او یوه معنوی منبع لرله. هغوی داسې یو شی درلود چې ما هغه نه درلود.

د نورو محصلینو په څیر به مې کله چې ولیدل څوک کوم شی لري او زه ئې نلرم هغه مې ځانته غوښتل په پوهنتون کې حتی خلکو خپل بایسکلونه هم قلفول ځکه چې کیدای شی څوک ئې د ځان وبولي. او ورسره ئې یوسی (او دې کار د دې ښکارندوی کوله چې که چیرې په لوړه کچه پوهه او تحصیل وکړی شی نو د خلکو د ژوندانه غوښتنو او مکالماتو ته جواب ووایي. نو له اخلاقی پلوه پوهنتون ډیر اوچت مقام لري د دې هدف د لاس ته راوړلو لپاره خو حقیقت داسې نه ؤ) نو ځکه له دې جالبی ډلی سره ملګری شوم.

دوه اونی وروسته له دې دوستی نه، یوه ورځ د پوهنتون په سالون کې یو ځای یوه میز ته سره ناست وو، شپږ محصلین او دوه استاذان، د بحث موضوع خدای او د ا لهیاتو مسئلی ته راواوښته په داسې ځایونو کې ځنې یو یا څو سست عنصره کسان پیدا کیږی چې په خدای او مسیحیت پورې ملنډی وهي او ځانونه ډیر روڼ اندی (روشنفکران) بولی او په هغه ورځ دغه رول ماولوباوه، د خبرو په لړ کې د یوې ښائیسته نجلې نه چې د ډلی غړې وه، (تر دې وخته ما فکر کاوه چې دا مسیحیان ټول بد ګذاره او بد چلنده دي) پوښتنه وکړه؟ "وایه دا څه شی ؤ چې ستا

ژوند ته ئې داسې بدلون ورکړ؟ ولې ته او ستا د ډلې غړي د پوهنتون له نورو محصلينو او استاذانو سره فرق لري؟"

دې پيغلې نجلۍ په دوو کلمو کې جواب راکړ. "عيسی مسيح" ما فکر نه کاوه چې د ژوند د مشکلاتو د حل په خاطر دې داسې جواب واورم. نو هماغه ساعت مې سخت عکس العمل وښود. "توقې به نه سره کوو، ما ويل ته به سمه او معقول جواب راکوې. زه له دين او کليسا نه موړ شوی يم. له مقدس کتابه سره هم نور کار نه لرم. له دين او دا ډول مزخرفو خبرو نه ماته مه غږېږه." ځوانې انجلۍ بيا جواب راکړ: "ما دين درته ندې ويلی، ما مسيح در ياد کړ." بيا نو د دغو دواړو د توپير په هکله ئې شروع وکړه او داسې څه ئې وويل چې تر هغې ورځې پورې ما نه وو اوريدلی. هغې وويل چې دين مسيحيت نه دی په دين کې انسان کوشش کوي چې ځان خدای ته ورسوي. او په مسيحيت کې خدای په خپله د عيسی مسيح په بڼه انسانانو ته خپل شو او له خدايه سره د رابطی لاره ئې انسانانو ته په واک کې ورکړه.

په پوهنتون کې تر ټولو زيات د مسيحيت په هکله سؤ تفاهم موجود ؤ. په دې وروستيو کې د دوکتورا د دوري يو محصل په سيمينار کې وويل: "هر څوک چې کليسا ته ځی هغه مسيحي دی."

په داسې حال کې چې دوی دواړه يو د بل لازم او ملزوم نه دي. مسيحی هغه څوک دی چې خپل ژوند ئې مسيح ته ورکړی وی. او دا خامخا له هغه چا سره چې کليسا ته ځی يو نه دی.

د پورتنی ډلی غړو له ما نه وغوښتل چې بايد د عقل له مخې د عيسی ادعاوې زه په خپله وڅيړم: چې هغه د خدای (روحانی) زوی دی. خدای د عيسی په بڼه مونږ بنيادمانو ته څرګند شو. او په ځمکه ئې ژوند وکړ او د انسانانو د ګناهونو په خاطر د صليب د پاسه مړ شو. او تر تدفين درې ورځی وروسته د مړو له منځ نه را ژوندی شو. او اوس هم ژوندې دی. او په شلمه پيړی که هم د خلکو ژوند ته بدلون ورکوی، فکر مې کاوه چې دا ملنډی دي او په حقيقت کې زما همدا فکر وه چې د مسيحيانو يوه ډله د بې عقلو احمقانو ده د دوی د ځينې کسانو سره مې کتلی هم وه. په صنف کې دې ته ناست وم چې که چيرې کوم مسيحی محصل د مسيحيت په اړوند څه ووايی هماغه ساعت به ئې خوله ور ماته کړم. او د هغه حماقت به ورته ثابت کړم. خو د ډلی غړو زه نه پرېښودم. بالاخره مې د دوی غوښتنی ته مثبت جواب

ورکړ، خو دا کار مې د غرور له مخې وکړ څو د دوی اعتقاد تکذیب او رد کړم، هیڅ نه پوهیدم چې په مسیحیت کې کومو حقایقو ځای نیولی ؤ او د دې حقایقو د ارزیابی لپاره شواهد له ټولو سره شته او پیدا کیږي.

په پای کې تر خپلو اوږدو مطالعاتو او څیړنو وروسته دې نتیجې ته ورسیدم چې عیسی باید هماغه څوک وای چې ادعا ئې کړې وه، نو دا چې ومې نه شو کړای د عیسی مسیح دعوا رد کړم، تصمیم مې ونیو چې د هغه په لاره روان شم. دا کتاب چې اوس ستاسو په لاس کې دی د دې خبرې چې ولې زما ایمان په عیسی مسیح باندې عقلانی دې د دیارلسو کلونو څیړنو او د شواهدو د راټولو نتیجه ده.

اما په مسیح د ایمان په اوئیلو کې په خپلو تحقیقاتو کې له یو لړ مسئلو سره مخامخ شوی وم. له یوې خوا علم حکم کاوه چې مسیحیت هم حقیقی دی هم معتبره. او له بلې خوا زما ارادی زه بلې خوا ته بوولم. زما یو له کشفیاتو څخه دا وۀ چې مسیحی شخص نشی کولی غرور ولري. عیسی مسیح له ما نه غوښتل چې زه مې خپله اراده د هغه ارادی ته تسلیم کړم. زه د دروازی شاته ولاړ یم او دروازه ټکوم که څوک زما غږ واوری او دروازه خلاصه کړی ورننوځم. (مکاشفه ۳: ۲۰) خو په هغه وخت کې دا خبره ماته مهمه نه وه چې عیسی د اوبو دپاسه تللی وۀ. یا ئې اوبه په شرابو بدلې کړی وی د عیسی مسیح په لارې تګ دا معنی درلوده لکه پخوا چې مې نشوای کولای په پارټیو او جشنونو کې ګډون وکړم. ځکه خو زما د ارادې او فکر ترمنځ جګړه روانه وه. څومره به چې له پاسنی ذکر شوی ډلی سره ګرځیدم هغومره به مې له هغوی سره مبارزی سختوالی موندلو. دا یوه خوشحاله مسیحی ډله وه خو د دوی خوشحالي به زه نور هم ځورولم. هغوی به خپل منځ کې خوښی او خوشحالی کولې زما په زړۀ کې به اور بلیدۀ هسی اور چې پوره ئې سوځولم. بالاخره مجبوره شوم چې له دې ډلی نه ځان ګوښی ته کړم. د شپې په لسو بجو به کټ ته ورتلم خو د سهار تر څلور بجو به خوب نه راته پوه شوم څو چې مې په زړه د غوصی بل شوی اور مړ نکړم. تر هغه به آرام ونه وینم د ۱۹۵۹ کال د دسمبر د میاشتی ۱۹ شپه وه چې خپله اراده مې عیسی مسیح تر ارادی ځارکړه صفا مسیحی شوم.

چا را نه پوښتنه وکړه "څنګه پوهیږی چې ته مسیحی یی؟" ورته ومې ویل: "ګوره ځکه زما په ژوند کې بدلون راغلی دی هغه شپه مې له مسیح سره د رابطی د ټینګولو په خاطر په دعا سره تیره کړه او وروسته له هغه نه زما ژوند بدل شو، ما به خپلو دعاؤ کې څلور ټکیو ته اشاره وکړه:

لومړی ومی ویل: ای مسیح خدایه ته چې زما د ګناهونو په خاطر په صلیب باندې مړ شوی، له تا نه مننه کوم او شکر ګذاره یم."

دویم مې وویل : "په ټولو هغو شیانو لکه ګناهونه او نور چې ته ترینه خوشحاله نه ئې اعتراف کوم. ما وبښه او دا د ګناه خبری رانه لری کړه چې پاک شم."

(مقدس کتاب وایی "که ستاسو ګناهونه ارغوانی رنګ ولري نو د واورې په شان به سپین شي." (اشعیاه نبی ۱ : ۱۸)

دریم ومې ویل: همدا اوس مې زړۀ لکه څنګه چې درته وویل ستا په لور خلاصوم. زړۀ او ژوند مې دواړه ستا په واک کي درکوم او تا د خپل ژغورونکی او خدای په څیر قبلوم نو زما د ژوند واک په خپل لاس کې ونیسه. زما ژوند ته تر آخره پورې بدلون ورکړه. او له ما نه هسی څوک جوړکړه څنګه چې ستا خوښیږی چې زه باید و اوسم.

او دریم ټکی کې مي داسې ورته وویل: "له تا نه شکر ګذاره یم چې د ایمان له لاری زما زړه او زما ځان ته راننوتې."

ما د نا دانی له مخې ایمان رانه ووړ بلکه داسې ایمان مې را وړ چې هغه په تاریخی حقیقی شواهدو او د خدای په کلاو (مقدس کتاب) باندې ټینګ ولاړ ؤ.

څنې کسان په عیسی مسیح باندې د زړه د سپارلو په وخت کې ما فوق الطبیعه تجربی لري. خو زما په هکله داسې نه ؤ. حتی د عیسی مسیح تر پیروی وروسته مې لاهم یو څه بد احساس درلود او له داسې یو قسم حالت سره به مخ شوم چې د تعجب وړ به راته ښکاریده او هر ځلې به مې له ځانه سره ویل چې څه چندان تصمیم دې ندی نیولی.

خو تر یوه کال وروسته پوه شوم چې نه اشتباه مې نده کړې نور نو زما ژوند مثبت تغیر وموند. یو ځل مې د خپل ژوندانه د بدلون په هکله خبرې کولی، د امریکا د پوهنتونونو په یوه پوهنتون کې د تاریخ د پوهنځی رئیس پوښتنه را نه وکړه: ښاغلی مک داول! آیا تاسو غواړی چې مونږ دا ومنو چې خدای ستاسو ژوند ته په شلمه پیړۍ کې تغیر ورکړیدی؟ مهربانی وکړی مونږ ته په دې هکله لږ وضاحت راکړی چې ستاسو د ژوند په کومو څانګو کې بدلون راغلی دی؟" کله چې

مې د ژوند د تغیراتو او بدلانه په هکله په توضیحاتو پیل وکړ وروسته له **۴۵** دقیقو یې راته وویل: "ډیر ښه بس کافی ده!"

یو له هغو تغیراتو نه چې ما ورته وویل زما د نارامی د حالت څرنګوالی ؤ. زه باید چې تل مصروف وای. فکر مې تل فعال ؤ، او نشوای کیدلی چې لږ دې آرام شوی وای کله به مې چې زړه وغوښتل چې راځه کتاب ولوله یا د څه شی په باره کې فکر وکړه، دا کار به مې هم کولای نشوای اما څو میاشتی د عیسی مسیح تر پیروی وروسته یوه فکری آرامتیا مې احساس کړه. دا داسې نه وه چې ګواکی زما په فکر کې نور نو د مبارزی کشمکش غلی شوی ؤ خو ما دا قدرت موندلی ؤ چې پرې حاکم دې واوسم. او تر خپل تاثیر لاندې یې راولم په رښتیا سره چې همدغه ډیر ارزښتمن شی ؤ چې زما په ژوند کې ما ته راپیښ شوی ؤ.

یو بل بدلون زما د غوصه کیدو او تند مزاجی بدلون ؤ. عادت مې ؤ چې په ډیرې وړی خبرې به غوصه کیدم. د پوهنځی په لومړی کال کې مې نږدې څوک وژلی ؤ. او لا اوس هم د مقابل لوری د ضربی نښه زما په بدن کې شته داسې تند خویه وم چې حتی نه مې غوښتل د خپلې غوصی مخه ونیسم دعیسی مسیح تر پیروی وروسته د څوارلسو کلو په موده کې مې یوازی یو ځل خپل اعتدال دلاسه ورکړ او بس.

زما په ژوندانه کې بل بدلون زما د کرکې مسئله وه چې له ځنو سره به راته پیښه شوه. ډیر خلک په خپل ژوند کې د کرکی نه نفرت لري ځکه چې ډیر ترینه په عذاب دي باید چې دې حالت ته بدلون ورکړ شي چې ما کي همدغه بدلون د عیسی مسیح د بیا ژوندې کیدو له برکته راپیدا شو. په تیرو وختو کې به ډیر ځلې د یو چا په نسبت منفی احساس داسې ځورولم هسی چې زړه به یې راته خوړین کړ. مختلفو کارونو او د ژوند بیلابیلو مسایلو به په ډیرې آسانی سره ځورولم کله به چې له چا سره مخ شوم او وبه پوهیدم چې د ده شخصیت زما له شخصیته سره توپیر لري ما به ویل چې همدا اوس مې تهدیدوی او دی به راته د تهدید یوه منبع ښکاریده.

خو په ټول ژوند کې مې له یوه سړی نه ډیره کرکه درلوده چې هغه زما پلار ؤ. هغه یو شرابی سړی ؤ تل به نشه وه او د ښار ټول اوسیدونکی پدې خبر وه حتی کله خو به د ښوونځی دوستانو هم زما د پلار د کارونو له مخې ما ته پیغور راکاوه او په ما به یې ملنډی وهلې. ما به په ظاهره له دوی سره خندل خو په زړه کې به د دوی

ملنډو سخت ځورولم او ژړل به مې کله به زما پلار زما مور دومره ووهله چې هغې به نشوای کولای چې له ځایه جګه شي. کله به چې زمونږ کور ته میلمه راغی پلار به مې په غوجله کې وتاړه او موټر به مې چیرته پټ کړ. او میلمه ته به مې پلمه کوله چې پلار مې چیرته تللی دی فکر نه کوم. څومره چې زه له پلاره کرکه لرم، بل څوک دې ولري.

پوره پنځه میاشتی وروسته تر دې چې زه د عیسی مسیح پیرو شوم یوه خدای مینه د عیسی مسیح په وسیله زما په ژوند کې پیدا شوه او دا مینه دومره قدرتمنه وه چې زما د کرکی ټول بځرکې یې را کې وسوځول وروسته له هغه به مې کله کله د خپل پلار څیرې ته وکتل او په پوره مینې سره به مې ورته وویل: "پلاره ته ډیر راباندې ګران یی" او دا یو ربښتینی احساس و چې ما کې پیدا شوی ؤ. ما دومره بده وضعه له خپله پلاره سره کړی وه چې زما همدغه ښه چلند ته یې د باور په سترګه نه کتل.

کله چې په یوه بل پوهنځي کي محصل وم په یوې ترافیکې پیښې کې ټپی شوم. زه په داسې حال کې چې یو اندازه وزن مې د یو رسۍ د څرخ په واسطه په غاړې پورې تړلی وه د استراحت دپاره په کور کې پروت وم نه مې هیریږی چې پلار مې را ننووت او لومړنی خبره یې دا وه چې : "زویه دا څنګه کیدای شی چې زما غوندې پلار درباندې ګران وي؟" ما ورته وویل: "پلاره شپږ میاشتی وړومبی مې درنه کرکه درلوده، خو کله چې مسیح عیسی زما په ژوند کې راننوت له هغه سره د خپلې رابطی د ټینګیدو په واسطه کولای شم چې اوس نه یوازی تا ته بلکه ټولو خلکو ته چې هر څنګه دي د محبت او دوستی په سترګه وګورم." څلویښت دقیقی وروسته تر دغې مرکې یوه سخته هیجانی پیښه را وشوه هغه دا چې پلار مې یعنی زما د کورنی غړی چې ئې پیژندلی هم وم. راته وویل: "زویه هغه څه چې خدای تا ته ستا په ژوند کې درکړل که ما ته ئې را کړې زه هم حاضر یم چې درسره ویې منم." او هما هلته مې پلار ته دعا وکړه او د خپل ژوند واک ئې عیسی مسیح ته وسپاره.

معمولاً څوک چې خپل ژوند مسیح عیسی ته وسپاری په ژوند کې ئې په څو ورځو اونیو، میاشتو یا لږ تر لږه یوه کال کې بدلون پیښږي. زما په شخصیت کې زیاتره بدلون د مسیحیت له شپږ میاشتو نه تر یوه یا یو نیم کاله پورې را پیښ شویدی. زما د سترګو تر مخ زما د پلار په ژوند کې داسې بدلون راغی لکه چې ته به وائې چې یو جنتی سړی مسحه کړ او د سترګو په یوه رپ کې بدل شو د هغه وخته

دمخه او تر دې وخته را پدې خوا تراوسه پورې مې په ژوند کې داسې تغیرات ندې لیدلي. وروسته له هغه مې پلار یو ځل د ویسکی په یو بوتل او پیمانه شونډې ولګولی یوه غړپ ته ئې زړه ښه کړ، خو ویې نشو کولای چې هغه تیر کړي. زه یوه نتیجې ته رسیدلی یم.

کله چې څوک له عیسی مسیح سره د صلحی رابطه ټینګوی هغه شخص بدلون مومی. کولای شی چې څوک په مسیحیت پورې وخاندې او په هغه باندې ملنډې ووهی خو ربښتینی مسیحیت د هغه په ژوند کې پوره اثر غورځوی د سړی ژوند ته بدلون ورکوي. که تر اوسه پورې مو په عیسی باور ندې کړی، همدا اوس دا کار وکړي یعنی باور پرې وکړی. بیا وګوری چې څنګه ستاسو تګلاری، خبرو او اندازونو او ادبی سلوک ته بدلون ورکوي د عیسی مسیح کار همدا دی چې د خلکو ژوند ته بدلون ورکړي، خو مسیحیت هم داسې شی ندی چې په چا باندې په زوره ومنل شی، زه د خپل ژوند په اړه تصمیم نیسم او تاسو د خپل ژوند زه یوائې کولای شم خپلې تجربې ستاسو مخې ته کیږدم او ستاسو تصمیم بیا په تاسو پورې اړه لري.

ښایی هغه دعا چې ما ځانته کړي. ګټه یې تاسو ته هم در ورسیږی "زما خدایه عیسی! زه تا ته محتاج یم. دا چې زما لپاره په صلیب باندې مړ شوې. له تا نه مننه کوم. ما وبښه او ما پاک کړه همدا اوس تا د یوه ژغورونکی او خدای په توګه پیژنم، له ما نه هسی څوک جوړ کړه چې ستا خوښیږی، د عیسی مسیح په نامه خواست درنه کوم آمین."

# د ورومبی لوست نوټونه

1. A. H. Strong, *Systematic Theology* (Philadelphia: Judson Press, 1907), Vol. 1, p. 52.
2. Archibald Thomas Robertson, *World Pictures in the New Testament* (Nashville: Broadman Press, 1932), Vol. 5, p. 186.
3. Leon Morris, "The Gospel According to John," *The New International Commentary on The New Testament* (Grand Rapids: William B. Eerdmans Publishing Co., 1971), p. 524.
4. Charles F. Pfeiffer, and Everett F. Harrison (Eds.), *The Wycliffe Bible Commentary* (Chicago: Moody Press, 1962), pp. 943, 944.
5. Lewis Sperry Chafer, *Systematic Theology* (Dallas Theological Seminary Press, 1947, Vol. 5), p.21.
6. Robert Anderson, *The Lord from Heaven* (London: James Nisbet and Co., Ltd., 1910), p. 5.
7. Henry Barclay Swete, *The Gospel According to St. Mark* (London: Macmillan and Co., Ltd., 1898), p. 339.
8. Irwin H. Linton, *The Sanhedrin Verdict* (New York: Loizeaux Brothers, Bible Truth Depot, 1943), p. 7.
9. Charles Edmund Deland, *The Mis-Trials of Jesus* (Boston: Richard G. Badger, 1914), pp. 118-119.

## د دوهم لوست نوټونه


1. C. S. Lewis, *Mere Christianity* (New York: The MacMillan Company, 1960), pp. 40-41.
2. F. J. A. Hort, *Way, Truth, and the Life* (New York: MacMillan and Co., 1894), p. 207.
3. Kenneth Scott Latourette, *A History of Christianity* (New York: Harper and Row, 1953), pp. 44, 48.
4. William E. Lecky, *History of European Morals from Augustus to Charlemagne* (New York: D. Appleton and Co., 1903), Vol. 2, pp. 8, 9.
5. Philip Schaff, *History of the Christian Church* (Grand Rapids: William B. Eerdmans Publishing Co., 1962) (Reprint from original 1910), p. 109.
6. Philip Schaff, *The Person of Christ* (New York: American Tract Society, 1913), pp. 94-95; p. 97.
7. Arthur P. Noyes, and Lawrence C. Kolb, *Modern Clinical Psychiatry* (Philadelphia: Saunders, 1958), (5th ed.)
8. Clark H. Pinnock, *Set Forth Your Case* (New Jersey: The Craig Press, 1967), p. 62.
9. J. T. Fisher, and L. S. Hawley, *A Few Buttons Missing* (Philadelphia: Lippincott, 1951), p. 273.
10. C. S. Lewis, *Miracles: A Preliminary Study* (New York: The MacMillan Company, 1947), p. 113.

## د دريم لوست نوټونه


1. *The New Encyclopaedia Britannica*, Micropaedia Vol. VIII, p. 985.
2. James B. Conant, *Science and Common Sense* (New Haven: Yale University Press, 1951), p. 25.

## د خلورم لوست نوټونه


1. Millar Burrows, *What Mean These Stones* (New York: Meridian Books, 1956), p. 52.
2. William F. Albright, *Recent Discoveries in Bible Lands* (New York: Funk and Wagnalls, 1955), p. 136.
3. William F. Albright, *Christianity Today*, Vol. 7, Jan. 18, 1963, p. 3.
4. Sir William Ramsay, *The Bearing of Recent Discovery on the Trustworthiness of the New Testament* (London: Hodder and Stoughton, 1915), p. 222.
5. John A. T. Robinson, *Redating the New Testament* (London: SCM Press, 1976).
6. Simon Kistenmaker, *The Gospels in Current Study* (Grand Rapids: Baker Book House, 1972), pp. 48-49.
7. A. H. McNeile, *An Introduction to the Study of the New Testament* (London: Oxford University Press, 1953), p. 54.
8. Paul L. Maier, *First Easter: The True and Unfamiliar Story* (New York: Harper and Row, 1973), p. 122.
9. William F. Albright, *From the Stone Age to Christianity* (second edition) (Baltimore: John Hopkins Press, 1946), pp. 297, 298.
10. C. Sanders, *Introduction to Research in English Literary History* (New York: MacMillan Company, 1952), pp. 143 ff.
11. F. F. Bruce, *The New Testament Documents: Are They Reliable?* (Downers Grove, Ill. 60515: InterVarsity Press, 1964), pp. 16f.; p. 33.
12. Sir Frederic Kenyon, *The Bible and Archaeology* (New York: Harper and Row, 1940), pp. 288, 289.
13. J. Harold Greenlee, *Introduction to New Testament Textual Criticism* (Grand Rapids: William B. Eerdmans Publishing Company, 1964), p. 16.

14. John Warwick Montgomery, *History and Christianity* (Downers Grove. Ill.: InterVarsity Press, 1971), p. 29.
15. Louis R. Gottschalk, *Understanding History* (New York: Knopf, 1969, 2nd ed), p. 150; p. 161; p. 168.
16. Lawrence J. McGinley, *Form Criticism of the Synoptic Healing Narratives* (Woodstock, Maryland: Woodstock College Press, 1944), p. 25.
17. Robert Grant, *Historical Introduction to the New Testament* (New York: Harper and Row, 1963), p. 302.
18. Will Durant, *Caesar and Christ,* in *The Story of Civilization,* Vol. 3 (New York: Simon and Schuster, 1944), p. 557.
19. Eusebius, *Ecclesiastical History,* Book 3, Chapter 39.
20. Irenaeus, *Against Heresies*. 3.1.1.
21. Joseph Free, *Archaeology and Bible History* (Wheaton, Ill: Scripture Press, 1969), p. 1.
22. F. F. Bruce, "Archaeological Confirmation of the New Testament," in *Revelation and the Bible*, Edited by Carl Henry (Grand Rapids: Baker Book House, 1969), p. 331.
23. A. N. Sherwin-White, *Roman Society and Roman Law in the New Testament* (Oxford: Clarendon Press, 1963), p. 189.
24. Clark Pinnock, *Set Forth Your Case* (New Jersey: The Craig Press, 1968), p. 58.

## د پنځم لوست نوټونه


1. Michael Green, "Editor's Preface" in George Eldon Ladd, *I Believe in the Resurrection of Jesus* (Grand Rapids: William B. Eerdmans Publishing Co., 1975).
2. Robert W. Gleason (Ed.), *The Essential Pascal,* Trans. by G. F. Pullen (New York: Mentor-Omega Books, 1966), p. 187.
3. Michael Green, *Man Alive!* (Downers Grove, Ill.: Inter-Varsity Press, 1968), pp. 23-24.
4. Kenneth Scott Latourette, *A History of Christianity* (New York: Harper and Brothers Publisher, 1937), Vol. I, p. 59.
5. Paul Little, *Know Why You Believe* (Wheaton, Ill: Scripture Press Publications, Inc., 1971), p. 63.
6. Herbert B. Workman, *The Martyrs of the Early Church* (London: Charles H. Kelly, 1913), pp. 18-19.
7. Harold Mattingly, *Roman Imperial Civilization* (London: Edward Arnold Publishers, Ltd., 1967), p. 226.
8. Gaston Foote, *The Transformation of the Twelve* (Nashville: Abingdon Press, 1958), p. 12.
9. Simon Greenleaf, *An Examination of the Testimony of the Four Evangelists by the Rules of Evidence Administered in the Courts of Justice* (Grand Rapids: Baker Book House, 1965. Reprint of 1874 edition. New York: J. Cockroft and Co.), p. 29.

## د شپږم لوست نوټونه


1. *Encyclopedia International,* 1972, Vol. 4, p. 407.
2. Earnest Findlay Scott, *Kingdom and the Messiah* (Edinburgh: T. & T. Clark, 1911), p. 55.
3. Joseph Klausner, *The Messianic Idea in Israel* (New York: The MacMillan Co., 1955), p. 23.
4. Jacob Gartenhaus, "The Jewish Conception of the Messiah," *Christianity Today,* March 13, 1970, pp. 8-10.
5. *The Jewish Encyclopaedia* (New York: Funk and Wagnalls Co., 1906), Vol. 8, p. 508.
6. Millar Burrows, *More Light on the Dead Sea Scrolls* (London: Secker & Warburg, 1958), p. 68.
7. A. B. Bruce, *The Training of the Twelve* (original 1894) (Grand Rapids: Kregel Publications, 1971), p. 177.
8. Alfred Edersheim, *Sketches of Jewish Social Life in the Days of Christ* (reprint edition; Grand Rapids: William B. Eerdmans Publishing Co., 1960), p. 29.
9. George Eldon Ladd, *I Believe in the Resurrection of Jesus* (Grand Rapids: William B. Eerdmans Publishing Co., 1975), p. 38.

## د اووم لوست نوټونه


1. *The Encyclopaedia Britannica,* William Benton, Publisher (Chicago: Encyclopaedia Britannica, Inc., 1970), Vol. 17, p. 469.
2. Jacques Dupont, "The Conversion of Paul, and Its Influence on His Understanding of Salvation by Faith," *Apostolic History and the Gospel*. Edited by W. Ward Gasque and Ralph P. Martin (Grand Rapids: Wm. B. Eerdmans Publishing Co., 1970), p. 177; p. 76.
3. *The Encyclopaedia Britannica,* William Benton, Publisher (Chicago: Encyclopaedia Britannica, Inc., 1970), Vol. 17, p. 476.
4. *The Encyclopaedia Britannica,* William Benton, Publisher (Chicago: Encyclopaedia Britannica, Inc., 1970), Vol. 17. p. 473.
5. Kenneth Scott Latourette, *A History of Christianity* (New York: Harper & Row, 1953), p. 76.
6. W. J. Sparrow-Simpson, *The Resurrection and the Christian Faith* (Grand Rapids: Zondervan Publishing House, 1968), pp. 185-186.
7. Philip Schaff, *History of the Christian Church,* Vol. I. Apostolic Christianity, A.D. 1-100 (Grand Rapids: Wm. B. Eerdmans Publishing Co., 1910), p. 296.
8. *The Encyclopaedia Britannica,* William Benton, Publisher (Chicago: Encyclopaedia Britannica, Inc., 1970), Vol. 17, p. 469.
9. *Chamber's Encyclopedia* (London: Pergamon Press, 1966), Vol. 10, p. 516.
10. Philip Schaff, *History of the Apostolic Church* (New York: Charles Scribner, 1857), p. 340.
11. George Lyttleton, *The Conversion of St. Paul* (New York: American Tract Society, 1929), p. 467.

# د اتم لوست نوټونه

1. John 19:39, 40.
2. Mathew 27:60
3. Mark 16:4
4. George Currie, *The Military Discipline of the Romans from the Founding of the City to the Close of the Republic*. An abstract of a thesis published under the auspices of the Graduate Council of Indiana University, 1928, pp. 41-43.
5. A. T. Robertson, *Word Pictures in the New Testament* (New York: R. R. Smith, Inc., 1931), p. 239.
6. Acts 1:3
7. 1 Corinthians 15:3–8.
8. Arthur Michael Ramsey, *God, Christ and the World* (London: SCM Press, 1969), pp. 78-80.
9. Paul Althaus, *Die Wahrheit Des kirchlichen Osterglaubens* (Gütersloh: C. Bertelsmann, 1941), pp. 22, 25ff.
10. *Independent, Press-Telegram,* Long Beach, Calf., Saturday, April 21, 1973, p. A-10.
11. Josh McDowell, *Evidence That Demands a Verdict* (San Bernardino, Calf: Campus Crusade for Christ International, 1973), p. 231.
12. David Frederick Strauss, *The Life of Jesus for the People* (London: Williams and Norgate, 1879, 2nd ed.), Vol. 1, p. 412.
13. Mathew 28:1–5.
14. J. N. D. Anderson, *Christianity: The Witness of History,* copyright Tyndale Press, 1970. Used by permission of InterVarsity Press, Downers Grove, Ill., p. 92.
15. John Warwick Montgomery, *History and Christianity* (Downers Grove, Ill.: InterVarsity Press, 1972), p. 78.

16. Thomas Arnold, *Christian Life – Its Hopes, Its Fears, and Its Close* (London: T. Fellowes, 1859, 6th ed.), p. 324.
17. Paul E. Little, *Know Why you Believe* (Wheaton: Scripture Press Publications, Inc., 1967), p. 70.
18. Simon Greenleaf, *An Examination of the Testimony of the Four Evangelists by the Rules of Evidence Administered in the Courts of Justice* (Grand Rapids: Baker Book House, 1965. Reprint of 1874 edition. New York: J. Cockroft and Co., 1874), p. 29.
19. Frank Morison, *Who Moved the Stone?* (London: Faber and Faber, 1930).
20. George Eldon Ladd, *I Believe in the Resurrection of Jesus* (Grand Rapids: William B. Eerdmans Publishing Co., 1975), p. 141.
21. 1 Corinthians 15:3.
22. 1 Corinthians 15:19–26.
23. John 10:10; 2 Corinthians 5:17.
24. Michael Green, *Man Alive* (Downers Grove, Ill.: InterVarsity Press, 1968), p. 54.

# د نهم لوست نوټونه

1. Genesis 12; 17; 22.
2. Genesis 17; 21.
3. Genesis 28; 35:10–12; Numbers 24:17.
4. Isaiah 11:1–5.
5. Psalm 22:6–18; Zechariah 12:10; compare Galatians 3:13.
6. Isaiah 8:14; 28:16; 49:6; 50:6; 52:53; 60:3; Psalm 22:7, 8; 118:22.
7. Zechariah 11:11–13; Psalm 41; compare Jeremiah 32:6–15 and Mathew 27:3–10.
8. Psalm 118:26; Daniel 9:26; Zechariah 11:13; Haggai 2:7–9. For a more complete discussion of the Daniel 9 prophecy, see pp. 178–181 of my book *Evidence That Demands a Verdict.*
9. Peter W. Stoner, and Robert C. Newman, *Science Speaks* (Chicago: Moody Press, 1976), pp. 106–112.
10. Ezekiel 36:25–27; 2 Corinthians 5:17.